

د پوهنې وزارت

د تعلیمي نصاب د پراختیا، د ښوونکو د
روزنې او د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تألیف لوی ریاست

# جغرافیه

## دولسم ټولگی





ر خونه يې په کلکه

۱۳۹۰ هـ . ش

Ketabton.com

د پوهنې وزارت

د تعلیمي نصاب د پراختیا، د ښوونکو
د روزنې او د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تألیف لوی ریاست

# جغرافیه

## دولسم ټولګی

د چاپ کال: ۱۳۹۰ هـ. ش



(c) ketabton.com: The Digital Library

**ليکوالان:**

د سرمؤلف مرستيال محمد رفيق (مومند )

سرمؤلف نجيب اله امين افغان

محمد رازق( بهير)

**علمي او مسلکي ايډيټ:**

پوهاند غلام جيلاني( عارض )

عزت الله (سالمي وردگ)

**د ژبې ايډيټ:**

اقامحمد( گړندي )

**ديني، سياسي او کلتوري کميټه:**

- ډاکټر عطاء الله واحديار د پوهنې وزارت ستر سلاکار او د نشراتو رئيس.
- مولوي عبدالصبور( عربي )
- حبيب الله راحل د تعليمي نصاب د پراختيا په رياست کې د پوهنې وزارت سلاکار.

**د څارنې کميټه:**

دکتور اسدالله محقق د تعليمي نصاب د پراختيا، د ښوونکو د روزنې او د ساينس مرکز معين

دکتور شير علي ظريفي د تعليمي نصاب د پراختيا د پروژې مسؤول

د سرمؤلف مرستيال عبدالظاهر گلستاني د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د تاليف لوی رئيس

**طرح او ډيزاين:**

حميدالله غفاري او مير محمد سهيل انصاري



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library



## سرود ملی

دا وطن افغانستـــان دی — دا عزت د هـــر افـغـان دی
کور د سولې کور د تورې — هر بچی یـې قهـرمـان دی
دا وطن د ټولو کــور دی — د بـلـوڅــو د ازبـکـــو
د پښتـــون او هـزاره وو — د تـرکمنـــو د تـاجـکـو
ورسره عرب، گوجــر دي — پامیـریـان، نـورستانیـان
براهوي دي، قزلبـاش دي — هم ایـمـــاق، هم پشه یـان
دا هیـــواد به تل ځـلیږي — لکـــه لمــر پر شنه آسمـان
په سینـــه کې د آسیـــا به — لکـــه زړه وي جـاویـدان
نوم د حق مو دی رهبـــر — وایو الله اکبر وایو الله اکبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

**بسم الله الرحمن الرحيم**

## د پوهنې د وزير پېغام

## ګرانو ښوونکو او زده کوونکو،

ښوونه او روزنه د هر هېواد د پراختيا او پرمختګ بنسټ جوړوي. تعليمي نصاب د ښوونې او روزنې مهم توکی دی چې د معاصر علمي پرمختګ او ټولنې د اړتياوو له مخې رامنځته کيږي. څرګنده ده چې علمي پرمختګ او ټولنيزې اړتياوې تل د بدلون په حال کې وي. له دې امله لازمه ده چې تعليمي نصاب هم علمي او رغنده انکشاف ومومي. البته نه ښايي چې تعليمي نصاب د سياسي بدلونونو او د اشخاصو د نظريو او هيلو تابع شي.

دا کتاب چې نن ستاسو په لاس کې دی، پر همدې ارزښتونو چمتو او ترتيب شوی دی. علمي ګټورې موضوعګانې پکې زياتې شوې دي. د زده‌کړې په بهير کې د زده‌کوونکو فعال ساتل د تدريسي پلان برخه ګرځيدلې ده.

هيله من يم دا کتاب له لارښوونو او تعليمي پلان سره سم د فعالې زده‌کړې د ميتودونو د کارولو له لارې تدريس شي او د زده‌کوونکو ميندې او پلرونه هم د خپلو لوڼو او زامنو په باکيفيته ښوونه او روزنه کې پرله پسې ګډه مرسته وکړي چې د پوهنې د نظام هيلې ترسره شي او زده‌کوونکو او هېواد ته ښې برياوې ور په برخه کړي.

پر دې ټکي پوره باور لرم چې زموږ ګران ښوونکي د تعليمي نصاب په رغنده پلي کولو کې خپل مسؤوليت په ريښتوني توګه سرته رسوي.

د پوهنې وزارت تل زيار کاږي چې د پوهنې تعليمي نصاب د اسلام د سپېڅلي دين له بنسټونو، د وطن دوستی د پاک حس په ساتلو او علمي معيارونو سره سم د ټولنې د څرګندو اړتياوو له مخې پراختيا ومومي.

په دې ډګر کې د هېواد له ټولو علمي شخصيتونو، د ښوونې او روزنې له پوهانو او د زده‌کوونکو له ميندو او پلرونو څخه هيله لرم چې د خپلو نظريو او رغنده وړانديزونو له لارې زموږ له مؤلفانو سره د درسي کتابونو په لا ښه تآليف کې مرسته وکړي.

له ټولو هغو پوهانو څخه چې د دې کتاب په چمتو کولو او ترتيب کې يې مرسته کړې، له ملي او نړيوالو درنو مؤسسو، او نورو ملګرو هېوادونو څخه چې د نوي تعليمي نصاب په چمتو کولو او تدوين او د درسي کتابونو په چاپ او وېش کې يې مرسته کړې ده، مننه او درناوی کوم.

ومن الله التوفيق

فاروق وردګ

د افغانستان د اسلامي جمهوريت د پوهنې وزير

# لړلیک

سرلیکونه — مخونه


## لومړی څپرکی
## سرحدات او اداري تشکیلات

لومړی لوست ۱-۱ د افغانستان څلور خواوې او موقعیت ........ ۱
دویم لوست ۱-۲ شمالي سرحدونه ........ ۵
دریم لوست ۱-۳ شمال ختیځ سرحدونه ........ ۹
څلورم لوست ۱-٤ ختیځ او جنوبي سرحدونه ........ ۱۳
پنځم لوست ۱-۵ لویدیځ سرحدونه ........ ۱۷
شپږم لوست ۱-٦ اداري تشکیلات ........ ۲۱

## دویم څپرکی

اووم لوست ۲-۱ د هېواد په پرمختیاکې دنفوسو اهمیت ........ ۲۵
اتم لوست ۲-۲ احصایه او د نفوسو جغرافیایي ویش ........ ۲۷
نهم لوست ۲-۳ د نفوسو وده او منحنی عمر ........ ۲۹
لسم لوست ۲-٤ د نفوسو کیفیت او په هېوادکې قومي ترکیب ........ ۳۳
یوولسم لوست ۲-۵ داخلي او خارجي مهاجرتونه او نفوسو ځاي پر ځاي کول ........ ۳۷

## دریم څپرکی

دولسم لوست ۳-۱ دین ........ ٤۱
دیارلسم لوست ۳-۲ ژبه ........ ٤۵

## څلورم څپرکی

څوارلسم لوست ٤-۱ دمواصلاتو اهمیت ........ ٤۹
پنځلسم لوست - ځمکنی حمل او نقل ........ ۵۳
شپاړسم لوست - الف- ځوړوله ترانسپورتي وسایل پیژنئ ........ ۵۷
اوولسم لوست - ب–د افغانستان د لویو لارو په هکله څه پو هېږئ؟ ........ ٦۱
اتلسم لوست ٤-۳ د هوایي ترانسپورت په هکله څه پوهیږئ؟ ........ ٦۷
نو لسم لوست د هېواد هوایي شرکتونه او ډگرونه ........ ٦۹
شلم لوست ٤-٤ الف -داړیکي اهمیت ........ ۷۳
یوویشتم لوست- ب – پست په افغانستان کې ........ ۷۷
دوه ویشتم لوست- تیلیفون او مبایل ........ ۸۱
درویشتم لوست- انترنیټ ، ایمیل او فکس ........ ۸۵

## پنځم څپرکی - نفوس او نژاد

څلورویشتم لوست ۵-۱دنفوسو ویش او گڼوالی ........ ۸۹
پنځه ویشم لوست ۵-۲ په نړۍ کې د نفوسو زیاتوالي او لږوالي ستونزې ........ ۹۵
شپږویشتم لوست – د نړۍ په ځینو هېوادونو کې د فعالو اقتصادي نفوسو د لږوالي ستونزې ........ ۱۰۱
اووه ویشتم لوست ۵-۳ مهاجرتونه او دهغو لاملونه ........ ۱۰۵
اته ویشتم لوست -نړیوال مهاجرتونه او دهغو پایلې ........ ۱۰۹




(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک

**سرلیکونه** | **مخونه**


نهه ویشتم لوست ٥-٤ - الف نژادونه ... ١١٣
دیرشم لوست ب - د نژادونو جغرافیایي ویش ... ١١٧

## شپږم څپرکی

یو دېرشم لوست ٦-١ دنړۍ دمهمو دینونو په هکله څه پوهېږئ ؟ ... ١٢٣
دوه دېرشم لوست الف ـ داسلام سپیڅلې دین ... ١٢٥
درې دېرشم لوست ب ـ دمسیحیت ددین په هکله څه پوهېږئ؟ ... ١٢٩
څلوردېرشم لوست ج ـ تائوییزم او شنتوییزم د آینونو په هکله څه پوهېږئ؟ ... ١٣٣
پنځه دېرشم لوست د ـ بودایي او هندوییزم آینونو په هکله څه پوهېږئ ؟ ... ١٣٥
شپږم دېرشم لوست ٦-٢ دنړۍ مهمې ژبې ... ١٣٧
اوه دېرشم لوست الف -عربی ژبه ... ١٤٣
اته دېرشم لوست ب - انگلیسي ژبه ... ١٤٧
نه دېرشم لوست ج ـ لاتیني ژبه ( فرانسوي ، اسپانوي او پرتگالي) ... ١٥١
څلویښتم لوست د ـ جرمني ژبه ... ١٥٥
یو څلویښتم لوست هـ د چینایي ، جاپاني او اندونزیایي ژبو په هکله کې څه پوهېږئ؟ ١٥٩
دوه څلویښتم لوست و ـ بالتیک ، لیتواني او سلاوي ژبې ... ١٦١
درې څلویښتم لوست ز ـ هندي او اردو ژبې ... ١٦٣

## اووم څپرکی

څلور څلویښتم لوست ٧-١ -اړیکی او نړیواله کېدنه یي ... ١٦٥
پنځه څلویښتم لوست: د اړیکو غوره وسیلو ډولونه ... ١٦٧
شپږ څلویښتم لوست الف- پُست Post په نړۍ کې ... ١٦٩
اووه څلویښتم لوست ب - په نړۍ کې تیلیفون او موبایل ... ١٧١
اته څلویښتم لوست ج -فکس په نړۍ کې ... ١٧٣
نهه څلویښتم لوست د - انترنیټ او ایمیل ... ١٧٥
پنځوسم لوست ٧-٢- د سپوږمکیو شبکه ... ١٧٩

## اتم څپرکی

د ژوندانه د چاپیریال نړیوالې ستونزې
یو پنځوسم لوست ٨-١- دسون موادو لوگي او غازونه ... ١٨٣
دوه پنځوسم لوست الف – وړلو- راوړلو( حمل او نقل ) وسېلې ... ١٨٧
درې پنځوسم لوست ب – د ژوند په چاپیریال باندې د کارخانو أغېزې ... ١٨٩
څلور پنځوسم لوست ٨-٢ – دصنعتي موادو پاتې شونې ... ١٩٣
پنځه پنځوسم لوست ٨-٣- د اوزون د طبقې د نړۍ کېدلو خطرونه ... ١٩٧
شپږپنځوسم لوست د اوزون دطبقې زیانمن کېدل ... ٢٠١
اووه پنځوسم لوست ٨-٤ د ځنگلونو پریکول ... ٢٠٥
اصطلاحات ... ٢٠٩

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی څپرکی
# سرحدونه او اداري تشکيلات


## ۱-۱ځلورخواوې او موقعيت:




د افغانستان د موقعيت او څلور خواوو په هکله څه پوهيږئ؟

د آسيا د لويې وچې دولس هيوادونه د افغانستان په ګډون په وچې پورې تړلي دي. افغانستان د طبيعي ښرګندو ځانګړتياوو له مخې د آسيا په جنوب کې يو غرنی هېواد دی. افغانستان د پنځه زره کلن تاريخ په درلودلو سره د آسيا لرغونی هېواد ګڼل کيږي. افغانستان په شمالي نيمه کره کې د شمالي عرض البلدونود ۲۹ درجو، ۲۲ دقيقو او ۵۳ ثانيو او ۳۸ درجو، ۲۹ دقيقو او ۲۸ ثانيو او ختيځه نيمه کره کې د ختيځ طول البلدونو ۶۰ درجو، ۲۸ دقيقو او ۴۱ ثانيو او ۷۴ درجو، ۵۱ دقيقو او ۴۷ ثانيو ترمنځ موقعيت لري. د افغانستان مساحت ۶۵۲،۰۰۰ کيلومتره مربع دی د مساحت له مخې د هريوه اروپايي هېواد څخه لوی دی. افغانستان د مساحت له مخې په آسيا کې دولسم هېواد دی[1]. د افغانستان نفوس په ۱۳۸۹ المريز کال کې ۲۶ ميليونه تنه اټکل شوي دي. د افغانستان اعظمي اوږد والی له ختيځې نقطې يعنې د يولي له دري څخه ترلويديځې نقطې يعنې ذوالفقار پورې ۱۲۰۰ کيلومتره او سوريې په شمال کې له خماب څخه په جنوب کې د چګايي تر غرونو پورې ۹۱۲ کيلومتره دی. په مستقيم ډول د هند سمندرته د افغانستان نږدې فاصله د هلمند د ولايت د کشتګان

۱- روسيه،چين، هند، سعودي عربستان، ايران، منګوليا، قزاقستان، اندونيزيا، پاکستان ،ترکيه، ميانمار او افغانستان .




## د افغانستان موقعیت په نړۍ کې

غر د مزاري د کوتل له جنوب لویدیځ څخه د عرب د سمندرګي تر ډیر نږدې ساحل پورې تقریباً ۳۹۰ کیلومتره ده. د افغانستان لرغونی هېواد په شمال کې د منځنۍ آسیا د تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان له هېوادونو، په لویدیځ کې د ایران له اسلامي جمهوریت او په ختیځ اوجنوب کې د پاکستان له اسلامي جمهوریت سره ګډه پوله لري.

د افغانستان ختیځ او جنوبي سرحدونه د ډیورنډ د تپل شوې کرښې په واسطه، چې د پښتنو قبایلو له زړه څخه تیریږي، په نښه شوي دي. نوله همدې امله د افغانستان خلکو هغه په رسمیت نده پیژندلې([1]) افغانستان په شمال ختیځ کې تقریباً د ۹۲ کیلومترو په واټن د چین د جمهوریت د سنکیانګ د ولایت سره ګډه پوله لري.

---

۱- د افغانستان او برتانوي هند ترمنځ طبیعي سرحد دسند سیند او د بلوچستان جنوبي سواحل وو، خو د انګلیسانو دسیسو او د ګندمک او ډیورنډ د معاهدې په تپلو د افغانستان له خاورې څخه یوه برخه بېله شوه او د افغانستان سرحد دپامیر او واخان څخه تر بلوچستان پورې وټاکل شو. چې د هغې له مخې د چمن، پښین، وزیرستان، کرمې، پاړه چنار، افریدو، باجوړ، سوات او چترال سمې د افغانستان له خاورې څخه بېلې شوې او د هغه وقت د برتانوي هند په دولت پورې وتړل شوې. د پاکستان له منځته راتلو وروسته په پاکستان پورې وتړل شوې، چې د افغانانو لپاره د منلو وړ نه دي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

دپامیرپه برخه کې افغانستان څه نا څه تر ۲۴ کیلومترو پورې سور لرې چې تاجکستان د پاکستان له کشمیر څخه جلا کوي. افغانستان دجغرافیایي موقعیت له مخې د منځنۍ آسیا په لاره کې پروت دی،د دې سیمې موقعیت د سیاست او اقتصاد له پلوه ډیر مهم دی، ځکه چې افغانستان، ایران، هند، پاکستان د دریو حوزو او د منځنۍ آسیا هېوادونه سره یوځای کوي. د منځنۍ آسیا هېوادونه هم آزاد سمندر ته لاره نه لري، نو له همدې امله یې سوداګري د آسیا لویې وچې له سویلی هېوادونو سره د افغانستان له لارې کېږي همدغې موضوع د افغانستان موقعیت ته زیات ارزښت وربخښلی دی.

### په ټولګي کې د ننه فعالیت:

زده کوونکي دې په مناسبو ډلو و ویشل شي، هره ډله دې د لاندې موضوعاتو په باره کې یوله بل سره بحث وکړي له هرې ډلې څخه یوتن به خپله موضوع په ټولګي کې تشریح کړي.

- افغانستان د ځمکې د کرې په کومه برخه کې پروت دی. د طول البلد او عرض البلد له مخې معلومات وړاندې کړئ.
- د افغانستان نقشه رسم کړئ اعظمي اوږد والی او سور یې د سیمو له مخې په نقشه کې وښیئ.
- د افغانستان نقشه رسم کړئ. له آزاد اوبو سره د افغانستان ډیر نژدې واټن، د سیمو له نومونو اوفاصلې سره، بیان کړئ.
- د افغانستان څلور خواوې بیان کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پوښتنې:

۱- افغانستان څه ډول طبیعې ځرنګوالی لري؟

۲- د پنځو داسې هېوادونو نومونه واخلئ چې له افغانستان څخه ډېر مساحت لري.

۳- زموږ هېواد له سمندر څخه څومره واټن لري؟

۴- یوازې د افغانستان د شا وخوا د طول البلدونو او عرض البلدونو درجې ووایئ.

۵- د افغانستان مساحت څومره دی؟

۶- د افغانستان خلکو ولې د ډیورنډ کرښه په رسمیت نه ده پېژندلې.

## له ټولګي څخه بهر فعالیت:

د افغانستان نقشه رسم کړئ د بولې دره، ذوالفقار دره، پامیر، خماب او د افغانستان ګاونډیان د نقشې پرمخ وټاکئ.

دويم لوست:

# ۱-۲ شمالي سرحدونه

الف: د امير شير علی خان سرحدي کرښه.




(۳) شکل د افغانستان شمالي سرحدونه

د افغانستان کوم سرحد د پنج او آموسيند په واسطه ټاکل شوی دی؟

په ۱۹ پېړۍ کې د انگليسانو او تزاري روسيې د پرمختگ د سياست له مخې ددې خاورې زياته او مهمه برخه د افغانستان له بدن څخه جلا شوه. پخوابه د افغانستان شمالي سرحد ونه د افغانستان د محلي حکومتونو او د مرکزي آسيا د هېوادونو له خانانو او يا د افغانستان د مرکزي حکومتونو او د ماوراء لنهر د اميرانو ترمنځ ټاکل کېدل. خوکله چې د ۱۹ پېړۍ په جريان کې تزاري روسيې په پرمختگ او په مرکزي آسيا کې په فتوحاتو پيل وکړ انگليسانو ددې لپاره چې خپلې استعماري گټې د هند په شمال کې وساتي، د روسانو له نيت څخه په ويره کې شول او ويې غوښتل، چې زر تر زره د روسانو ديرغل په وړاندې خنډونه رامنځته کړي. په لومړي پړاو کې يې امير شير علي خان وهڅاوه چې خپل سرحدونه له تزاري روسيې



(c) ketabton.com: The Digital Library



امیر شیر علي خان

سـره وټاکي، نو له همدې امله د دواړو دولتونو ترمنځ خبرې پيـل شـوې. د انګليسانو د بهرنيو چارو وزيـر لارډ ګرينويل Lord Granville او د روسـيې د بهرنيوچارو وزير پرنس ګورچکوف Prince Gorchakov د افغانسـتان او تزاري روسـيې د سـرحدونو د تثبيت لپاره وټاکل شـول په پای کې په ۱۸۷۳ ميلادي کال چې د ۱۲۵۱ لمريز کال سـره سم د افغانستان شمالي سرحدونه له زرقول څخه تر خماب پورې چې د پنج او آمو سيندونو مسـيردی د امير شـيرعلي خان د سرحدي کرښې په نوم تثبيت شـول. د امير شيرعلي خان کرښه ۱۲۰۰ کيلومتره اوږد والی لري.

د هغـه تـړون لـه مخـې چـې د ۱۳۲۵ لمريـز کال د غبرګولي د مياشـتې په ۲۲ مـه نيټه چې د ۱۹٤٦ ميلادي کال د جون له مياشتې سره سمون خوري، د خپل وقت د شوروی د بهرنيو چارو وزير مولو توف او په مسـکوکې د افغانسـتان سـفير په واسطه لاسليک شـو، پريکړه وشوه چې د آموسيندمنځنۍ کرښـه دسـرحد په توګه وپيژندل شـي او د درقد ټاپو چې تقريباً ۴۲۲ کيلومتره مربع مسـاحت لري او د تخار ولايت په شـمال کې پرته ده د افغانستان د خاورې برخه وګڼل شي. په۱۳۴۲ لمريز کال کې چې له ۱۹۴۶ ميلادي کال سره سمون خوري د پنج او آمو سيندونو له اوبو څخه د ګډې ګټې اخيستنې تړون لاسليک شو.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## ب- دریجوي سرحدي کرښه:

کله چې امیر عبدالرحمن خان واک ته ورسیده، ویې پتیله چې پاتې شمالي سرحدونه د ځمکې پرمخ تثبیت کړي. نو له همدې امله د تزاري روسیې او برتانیې ترمنځ د دویم ځل لپاره خبرې پېل شوې پریکړه وشوه چې د دریو هېوادونو افغانستان، برتانیې او روسیې پلاوي دې د ۱۸۸۴ میلادي کال په نومبر کې سرخس ته حاضر شي. د روسیې هئیت په خپل وخت ټاکلي ځای ته حاضرنه شو.، او برعکس د روسیې عسکرو په منځنۍ آسیاکې خپلو یرغلونو ته دوام ورکړ، ترخوچې پنجده ته نیژدې شول او د خاتون له پل ځخه یې چې د هریرود د سیند له پاسه دی د نظامي پایګاه په توګه کار اخیست. د افغاني پوځیانو شمیرچې دوه زرو تنوته رسیده، د پنجده د ساتنې له پاره هلته اوسیدل افغاني پوځیانو د جنرال غوث الدین خان په مشرۍ د روسیې له



امیر عبدالرحمن خان

قوې سره چې د علي خانوف تر مشرۍ لاندې وه، نښته وشوه افغاني پوځیانو چې شمیریې لږ او په محاربوي تجهیزاتو هم سمبال نه وو، له پنجده ځخه یې دفاع ونه شوه کولای. پنجده او آق تپه په ۱۸۸۵ میلادي کال چې له ۱۲۴۳ لمریز کال سره سمون خوري، تزاري روسانو اشغال کړه، له دې واقعې وروسته د ملکې وکتوریا د انګلستان د هغه وخت د ملکې له تهدید ځخه ډک تلګرام دویم الکساندر روسې تزارته ددې سبب شو چې روسي عسکرو له زیات پرمختګ ځخه صرفنظر وکړ. یوځل بیا سرحدي مذاکرې د تزاري روسیې او انګلستان د استازو ترمنځ په لندن کې پېل شوې چې د افغانستان شمال لویدیځ سرحدونه د تزاري روسیې سره وټاکل شي ببلابېلو هیئاتونو په مذاکرو پېل وکړ، چې په ۱۸۸۷ میلادي کال چې له ۱۲۶۵ لمریز کال سره سمون خوري شپږ فقره یيز پروتوکول یې لاسلیک کړ او شمال لویدیځ سرحد چې د ریجوي د کرښې Riage Way په نوم یادیږي د نقشې پرمخ تثبیت کړ دغه سرحدي کرښه وروسته د چارلس پت charles pate د انګریزانو د استازي او کپتان کامروف capitan kamerove د تزاري روسیې داستازي پواسطه د ځلورو کلونو په موده کې د ۵۴۰ کیلومتره په اوږد والي د ذوالفقار له درې ځخه ترخماب پورې په یوې قوسي کرښې تثبیت شوه چې د ۳۰ کیلومترو په اوږد والي د مرغاب دسیند او نور یې د پیلرونو پواسطه په نښه شوې.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## په ټولګي کې د ننه فعالیت:

زده کوونکي په مناسبو ډلو ویشل کېږي. هره ډله له لاندنیو موضوعګانو څخه په یوه موضوع په خپلو منځوکې بحث کوي. له هرې ډلې څخه یو نفر خپله موضوع د ټولګي په مخ کې بیانو ي.

- د افغانستان نقشه رسم کړئ او د امیر شیرعلي خان سرحدي کرښه په کې په نښه کړئ او دهغې په باب معلومات ورکړئ.
- د افغانستان نقشه رسم کړئ، دریجوي سرحدي کرښه په کې وښیی او دهغې په باب معلومات ورکړئ.

## پوښتنې:

۱- د افغانستان شمالي سرحدونه څرنګه وټاکل شول؟
۲- ولې انګلیسان د تزاري روسیې له نیت او فتوحاتو څخه چې په مرکزي آسیاکې یې سرته رسول، په ویره کې و.
۳- په اوسني وخت کې کوم هېوادونه کولای شي د پنج او آموله سیندونو څخه په ګډه ګټه واخلي.
۴- روسانو پنجده په څه ډول اشغال کړه؟
۵- ولې روسانو په افغانستان کې زیات پرمختګ ته دوام ورنه کړ؟
۶- د ریجوې سرحدي کرښه له کومې سیمې څخه ترکومې سیمې پورې اوږده شوې ده؟

## له ټولګي څخه بهر فعالیت:

د افغانستان نقشه رسم کړئ او په هغې کې د زرقول ( ویکتوریا) جهیل، خماب، ذوالفقار، د امیر شیرعلی خان او ریجوي سرحدي کرښې وښیئ او د جغرافیې په راتلونکي ساعت کې یې خپلو ټولګیوالو ته وښیئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

دريم لوست:

## ۱-۳ شمال ختيځ سرحدونه




د افغانستان نقشه، (د شمال ختيځ او پامير سرحدونه)

د افغانستان په شمال ختيځ کې دوه سرحدي کرښې شته. د پامير سرحدي کرښه د افغانستان او تاجکستان ترمنځ او شمال ختيځ سرحد د افغانستان او د چين د ولسي جمهوريت ترمنځ په نښه شوېدی. د پامير او واخان لوړه سطحه چې د سمندر له سطې څخه ۶۰۰۰ متره لوړوالی لري د آمو او د سند سيند ترمنځ بيليدونکې ساحه ده. دغه دواړه سيندونه د همدې سيمې له دايمي کنګلونو څخه سرچينه اخلي. له همدې امله د پامير لوړه سطحه د نړۍ د بام په نوم شهرت لري. دغه کم سوره افغاني ساحه چې د هغې وخت د تزاري روسيې، چين او برتانوي هند ترمنځه پرته وه. په دې ساحه کې د سرحدونو تثبيت له ډېرې مودې څخه د بحث لاندې وو. د ۱۸۷۳- ۱۸۸۷

میلادي کلونو ترمنځه، کله چې د افغانستان شمالي سرحدونه تثبیتیدل، د شمال ختیځو سرحدونو په هکله هم خبرې وشوې خو څرنګه چې د آمو د سیند سرچینه په څرګنده توګه معلومه نه وه، نو په دې برخه کې څه ستونزې وې ځکه چې ځینوفکر کاوه چې د آمو سیند د زرقول له جهیل څخه سرچینه اخیستې ده او ځینو ویل چې د آمو سرچینه د اقسو اوبه دي چې د چقمقتین، له جهیل څخه یې سرچینه اخیستې ده. نوله همدې امله پدې برخه کې د افغانستان د سرحد ټاکنه او رسمول ضروري وه.

د امیرعبدالرحمن خان د دورې په وروستیو کلونوکې په ۱۸۹۵ میلادي کال کې چې د ۱۲۷۲ لمریز کال سره سمون خوري د دریو هېوادنو استازي چې له افغانستان څخه غلام محی الدین خان دهغه وقت د قطغن او بدخشان د ولایت حکمران، مجرجرلو Major Gerlow د انګلیسانو د هئیات مشر او فیفرو شوایکوسکي Fifroshuikoisky د تزاري روسیې د هئیات مشر وو د کوچني او لوی پا میر په سیمه کې یې په مذاکرې پېل وکړ. دغه مذاکرې نه میاشتې اوږدې شوې. په پای کې د پامیر سرحد په ختیځ کې دچین ترسرحده پورې د افغانستان او تزاري روسیې ترمنځ وټاکل شو د انګلیسانو ځینې سیاستمداران د خپلو لاندې شویو ساحو او د تزاري روسیې ترمنځ د یوې حایلې ساحې سره مینه درلوده. د پامیر او واخان په ساحه کې د انګلیس او روسیې امپراطورۍ یوله بل سره نښتې، نو ددې لپاره چې د هغوی ترمنځ یوه حایله (بیطرفه) ساحه راشي، نو واخان یې بې پوښتنې افغانستان ته ورکړه.

د پامیر سرحدي کرښه د زرقول د جهیل له ختیځ څخه په ختیځ کې دیو لي تر درې پورې اوږدوالی لري. د روسیې دولت د ۱۹۸۶ میلادي کال د مارچ په میاشت کې دغه کرښه ومنله پدې ډول واخان افغانستان ته د یو نړیوال تړون له مخې ورکړل شو. د همدې کال په اکتوبر کې امیرعبدالرحمن خان درواز ونیو روسانو روشان او شغنان د آمو هغه خواکې چې د افغاني قوې له خوا خالي شوی وو دبخارا امیرته وسپارل.



(c) ketabton.com: The Digital Library

په ۱۹۴۹ میلادي کال کې د چین دولسي جمهوریت له تاسیس څخه وروسته سرحدي مذاکرې یوځل بیا د محمد ظاهر شاه د پاچاهۍ په دوره کې د افغانستان د دولت او دچین د ولسي جمهوریت ترمنځه پیل شوې. په ۱۳۳۶ لمریز کال کې چې له ۱۹۵۷ میلادي کال سره سمون خوري، موافقه وشوه چې د دواړو هېوادونو ترمنځه دې سرحدونه وټاکل شي او دځمکې پرمخ دې تثبیت شي. نوله همدې امله شمال ختیځ سرحد چې دیولي له درې څخه دیوقوس په بڼه د کلیک تر غاښې پورې چې د واخجیر غاښې په جنوب ختیځ کې پروت دی د افغاني پامیر او د چین د سنکیانګ د ولایت ترمنځ د ۹۲ کیلومترو په اوږد والي د ۱۳۴۳ لمریز کال د زمري په میاشت کې په فني ډول د پیلرونو په نصبولو علامه ګذاري او تثبیت شو.

## په ټولګي کې د ننه فعالیت:

زده کوونکي په ډلو وویشئ. هره ډله دې په خپلو منځوکې په لاندې موضوعاتو بحث وکړي. یوتن دډلې په استازیتوب خپله موضوع خپلو ټولګیوالوته تشریح کړي.

- د پامیر د لوړې سطحې او دهغې د مخکنیو او اوسنیو حدودو په باره کې بحث وکړئ.
- د پامیر سرحدي کرښه څرنګه وټاکل شوه؟
- د یوې حایل ساحې هدف څه و؟
- د پامیرد ساحې نقشه رسم کړئ او شمال ختیځه سرحدي کرښه وربانډې رسمه کړئ او دهغې په باره کې معلومات وړاندې کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پوښتنې:

۱- په ۱۹ پېړۍ کې د پامير او واخان دسيمې حدود بيان کړئ.

۲- د پامير او واخان د سيمې اوسنی حدود شرحه کړئ.

۳- د پامير سرحدي کرښه د کومو هېوادونو ترمنځ پرته ده؟

۴- د آمو سيند له کوم ځای څخه سرچينه اخلي؟

۵- له کومو هېوادونو څخه کوموکسانو د پامير د سرحدي کرښې دټاکلو په پريکړه کې برخه درلوده؟

۶- شمال ختيځ سرحد د کومو هېوادونو ترمنځ پروت دی او څومره اوږدوالی لري؟

## له ټولګي څخه بهر فعاليت:

د افغانستان د پامير او واخان د سيمې نقشه رسم کړئ د ويکتوريا او چقمقتين جهيلونه، د يولي دره، د کليک او واخجيرغاښي، د پامير او شمال ختيځ سرحدونه په کې وښيې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلورم لوست:

## ۱-۴ ختيځ او جنوبي سرحدونه




د احمد شاه بابا له واکمنۍ څخه د محمد زيانو د واکمنۍ تر لومړي وخت پورې افغانستان په ختيځ او جنوب کې ترکشمير، لاهور، پنجاب، پيښور، د اسماعيل خان ديرې غازي خان ديرې، شکارپور، سند، ملتان او په پای کې عرب سمندرگي پورې پراخوالی درلوده.خو د سدوزيي او محمد زيي ورونو ترمنځ خپلمنځي نفاق او د سدوزيانو او محمد زيانو دکورنيو ترمنځ سياليو کې ځينې نومورې سيمې د وخت په تيريدو سره د انگليسانو لاس ته ورغلې او د انگليسانو د لاس لاندې سيمو او زموږ د هېواد ترمنځ سيمه کې سرحد نه و.

انگليسانو زياته قوه په ۱۸۹۳ ميلادي کال کې د افغانستان په لوري راوليږله او امير عبدالرحمن خانه ته يې ياد داشت واستاوه چې د جنرال رابرت سياسي هئيات له يوې عسکري فرقې سره په جلال آباد کې ومني. امير عبدالرحمن خان په قهرشو او خپلو سلو زرو عسکروته يې دتيارسۍ امر ورکړ او دجهاد د اعلانولو اراده يې وکړه. خوکله چې انگليسانو دغه مقاومت وليد د خپلوپرېکړو څخه تير شول او پدې قانع شول چې، خپل پنځلس کسيز سياسي هئيات دمارتيمر ډيورنډ په مشرۍ کابل ته واستوي.

ډیورنډ کابل ته راغی او د ډیورنډ تړون چې مواد یې مخکې د انګلیسانو له خوا ترتیب شوي وو امیر عبدالرحمن خان ته وړاندې کړل. له ډېرو خبرو وروسته یې هغه په امیر عبدالرحمن خان د چهلستون په ماڼۍ کې لاسلیک کړ د ۱۸۹۳ میلادي کال د نومبر ۱۲ نیټه چې د ۱۳۱۱ قمري کال د جمادی الاول ددویمې نیټې سره سمون لري. امیر عبدالرحمن خان د خپلو دولتي اراکینوله مشورې پرته تړون لاسلیک کړ او یو لوی تاریخي مسؤلیت یې په غاړه واخیست. ددې تړون په پای کې د ډیورنډ سرحدي کرښه د کلیک له کوتل څخه د واخجیر کوتل، واخان او چترال په جنوب ختیځ کې د بلوچستان او ملک سیاه ترغره پورې د هېواد په جنوب لودیځه زاویه کې د ۱۹۲۰ کیلومترو په اوږدوالي وټاکل شوه. چمن، پښین، وزیرستان،کرم، پاړه چنار، افریدي، باجوړ، سوات او چترال د افغانستان له خاورې څخه جلاشول او د هغه وخت برتانوي هندپورې وتړل شول د برتانوی هند د هئیات د رئیس له خوا پریکړه وشوه، چې د هغې له مخې د روشان او شغنان سیمې د پنج د اوبو په شمال کې او د آمو دسیند پاسنۍ برخه چې د ګورچکوف او ګرینویل د ۱۸۷۳ میلادي د پریکړو له مخې د افغانستان په واک کې وې، بیرته دې تزاري روسیې ته وسپارل شي او دهغې په مقابل کې د ې واخان او أسمار د افغانستان د خاورې برخه شي. د ډیورنډ پریکړه چې د کاغذپرمخ لیکل شوې وه د ځمکې پر مخ نه وه ټاکل شوې، د ستونزو او اختلافونو باعث شوه دغه پریکړه د افغانستان د خلکو لپاره د منلو وړنه وه ځکه چې له یوې خوا دغه پریکړه د ځمکې پرمخ په عملي توګه د تطبیق وړ نه وه او غوښتل یې چې یوبل هیئات دغه تړون له سره د بحث او څېړنې لاندې ونیسي.

خو متاسفانه د وروستیو هیئاتونو مشاهدات او نظریات هم یوطرفه او غیر عادلانه وو. کله چې د افغانستان حکومت د موضوع په حقیقت پوه شو او له بلې خوا د ډیورنډ د سرحدي کرښې ددې سیمې قومونه او قبیلې چې له موږ سره ګډدین، ژبه، کلتور، ثقافت، رسم او رواجونه او نور بشري مشترکات لري، په دوه برخو وویشل او حاکمې ستراتیژیکې نقطې هم د برتانوي هند په برخه شوې.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ډیورنډ د تړون له لاسلیک څخه وروسته په ټولو قبایلي سیمو په تیره بیا د وزیرو او مسودو په قبیلوکې یو په بل پسې مسلسل شورشونه پیل شول. هغوی له امیر عبدالرحمن خان څخه غوښتل چې له انګلیسانو څخه یې وژغوري او په افغانستان پورې یې وتړي، خو امیر په دې برخه کې کوم اقدام ونکړ.

انګلیسانوپه زور او ظلم، نه یوازې قبایلوته قناعت ورنکړی شو، بلکې زیاتې ستونزې یې رامنځته کړې انګلیسانو له امیر عبدالرحمن خان سره د ښو دوستانه اړیکو لپاره په کال کې ۱۲ لکه روپۍ امیرته ورکولې، د تړون له لاسلیک څخه وروسته یې شپږلکه روپۍ نورې هم وربانديې زیاتې کړې.

د افغانستان له خپلواکۍ (۱۹۱۹ میلادي کال) څخه وروسته بیا هم د ډیورنډ د سرحد مسآله ناحله پاتې شوه په ۱۹۴۷ میلادي کال کې د پاکستان د دولت په رامنځته کیدوسره، بیاهم دغه موضوع د پاکستان له دولت سره ناحله او له پریکړې پرته پاتې شوه.

## په ټولګي کې د ننه فعالیت:

زده کوونکي دې په ډلو وویشل شي هره ډله دې په پخپلو منځوکې له لاندنیو موضوعګانو څخه پریوې بحث وکړي د خپل بحث پایلې دې خپلو ټولګیوالوته په ټولګي کې وړاندې کړي.

- د احمد شاه بابا له دورې څخه د محمد زیانو د دورې تر پیل پورې د افغانستان د هغو سیمو نومونه واخلئ چې اوس د افغانستان له خاورې څخه جلا شوې دي.
- د ډیورنډ د سرحدي کرښې د ټاکلو جریان په څه ډول و؟

• د افغانستان نقشه رسم کړئ او د ډیورنډ سرحدي کرښه، چترال، بلوچستان او د ملک سیاه غر په نقشه کې په نښه کړئ.

## پوښتنې:

۱- د ډیورنډ سرحدي کرښه په کومه نیټه کې لاسلیک شوه؟
۲- د ډیورنډ تړون د چاله خوا لیکل شوې وه؟
۳- انګلیسانو د ډیورنډ تړون په څه ډول په امیر عبدالرحمن خان تحمیل کړ؟
۴- زموږ هېواد ددې تړون په لاسلیک کې کومه ښه غوره کړه؟
۵- ولې د افغانستان ولس د ډیورنډ د سرحدي کرښې پریکړه نه مني؟
۶- د ډیورنډ کرښې د دواړو غاړو خلک څه فرهنګي ورته والی لري؟
۷- انګلیسانو ولې او څومره پیسې امیر عبدالرحمن خان ته ورکولې؟

## له ټولګي څخه بهر فعالیت:

د افغانستان نقشه رسم کړئ، د امیر شیرعلي خان ؛ پامیر، شمال ختیځ او د ډیورنډ کرښې پکې وښیئ او د جغرافیې په راتلونکي ساعت کې یې له ځانه سره ټولګي ته راوړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۱-۵ لویدیځ سرحدونه




د لویدیځو سرحدونو په باره کې څه پوهېږئ؟

زموږ د هېواد په لویدیځ کې د افغانستان د اسلامي جمهوریت او ایران ترمنځه دوه سرحدي کرښې شته، چې د مکمهان او فخري سرحدي کرښو په نوم یادیږي چې هریو یې په تفصیل سره لولو.

## الف: د مکمهان سرحدي کرښه:

د سیستان سیمه چې د هېواد په جنوب لویدیځ کې پرته ده، د تاریخ په بیلابیلو دوروکې کله د افغانستان په لاس کې وه او کله به هم د ایران د اداري لاندې وه.

د احمد شاه بابا له واکمنی څخه( په ۱۷۴۷ میلادي کال کې چې له ۱۱۲۵ هجری لمریز کال سره سمون لري) د ۱۹ پېړی ترنیمایي پورې سیستان د افغانستان د خاورې برخه وه.

- د امیر شیرعلي خان د واکمنی په وخت کې د سربندي د قبیلي مشر د علي خان په نوم له



(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلې قبیلې سره د ایران د دولت تابعیت ومانه او ځان یې له خپلې قبیلې سره د ایران دولت ته تسلیم کړ. له هغې څخه وروسته سرحدي مشکلات د افغانستان او ایران په منځ کې را پورته شول، نو لازم وګڼل شول چې د افغانستان او ایران ترمنځ سرحد وټاکل شي.

د افغانستان او ایران حکومتونو د سرحدي مشکلاتو له مخې ونشو کړای چې کومې پریکړې ته ورسیږي.

نوله همدې امله یې دهند له وایسرا سره تماس ونیو او د افغانستان او ایران د سرحدي ستونزو د حل لپاره یې د حکمیت غوښتنه وکړه. د هند وایسرا فرید ریک ګولډسمت Sir Fridric goldsmith د سیستان د ناحیې لپاره د حکم په توګه و ټاکه، چې د افغانستان او ایران ترمنځ د منځګړي په توګه کار وکړي او موضوع فیصله کړي ګولډ سمیت د انګلیسي هئیات رئیس د افغاني او ایراني هیاتونو مشرانو سره دوه کاله د سیستان په سرحدونو کې په څېړنو بوخت شو او په ۱۸۷۳ میلادي کال کې یې چې له ۱۲۱۱لمریز هجری کال سره سمون لري داسې پریکړه وکړه:

د سیستان حوزه د هلمند د سیند په وروستی برخه کې په دوو برخو و ویشل شوه. هغه سیمې چې د نادعلي د سیند په لویدیځ کې پرتې دي د خاص سیستان او ختیځې سیمې یې د ماورای سیستان په نوم ونومولې. خاص سیستان په ایران او ماورای سیستان په افغانستان پورې و تړل شول.

په ۱۲۷۴ لمریز هجري کال کې د هلمند سیند له اصلي مسیر څخه چې د نادعلي سیند دی او د افغانستان او ایران تر منځ سرحد و، منحرف شو او د اوبو یوه زیاته اندازه له بلې لارې چې د پریان د سیند په نوم یادیږي او د نادعلي د سیند په لویدیځ کې پروت دی د هلمند هامون ته ورتو ئیږي.

څرنګه چې دګولډسمت په وخت کې سرحدي کربنه د ځمکې پرمخ په نښه شوې نه وه، د هلمند د سیند د مسیر تغییر د دویم ځل لپاره د افغانستان او ایران د خلکو ترمنځ ستونزه رامنځته کړه.

ځکه چې د افغانستان حکومت د نادعلي او د هلمند د سیند مسیر اصلي لاره ګڼله او د ایران دولت د هلمند د سیند د مسیر تغییر پخپله ګټه په پام کې نیولی و.

بیاله انګلیسانو څخه مرسته و غوښتل شوه. د انګلستان حکومت مکمهان Macmahan له پنځلس زره انګلیسي او هندي افسرانو سره ددې کار لپاره موظف کړل د دریوارو هېوادونو افغانستان، ایران او انګلیسانو هیأتونه دڅېړنې په ټولو وسایلو سمبال وو. هغوی دوه کاله او درې میاشتې له ۱۹۰۲- ۱۹۰۵



(c) ketabton.com: The Digital Library

میلادي کال پورې چې د ۱۲۸۰ - ۱۲۸۲ هجري لمریز کلونو سره سمون لري ( د امیر حبیب الله د حکومت دوره) څېړنه او مطالعه وکړه او سرحدي کرښه يې د ملک سیاه له غره څخه تر سیاه کوه پورې چې د مکمهان د کرښې په نوم یادیږي تثبیت کړه.

کله چې د افغانستان حکومت د هلمند او ارغنداب پرمختیایي پروژه د لاس لاندې ونیوله د ایران دولت د ملګرو ملتونو د امنیت شوراته د اوبو د کموالي په هکله ګیله وکړه.

په پای کې د امریکا متحده ایالتونو پدې برخه کې د منځګړیتوب هیله وکړه. د افغاني، ایراني او امریکایي استازو ترمنځ په واشنګټن کې خبرې پیل شوې. د امریکا متحده ایالتونو وړاندیز وکړ چې یوفني کمیسیون دې وټاکل شي چې نوموړې موضوع په سیمه کې وڅیړي او خپله پریکړه دې دواړو هېوادونوته واوروي.

فني متخصصین د امریکا د متحده ایالتونو، کاناډا اوچیلي له پوهنتونونو څخه و ټاکل شول هغوی د هلمند دوادي انکشافي پروژه ولیدله. دګولدسمت او مک مهان تاریخي اسناد یې وکتل او په پای کې یې داسې وویل: د هلمند دوادي پروژه د سیلابونو د کنترول او دکال په اوږدوکې د هلمند د سیند د جریان د تنظیم لپاره جوړه شوې ده او دسیند او به یې ندي کمې کړي، بلکې په ټول کال کې په یوه ټاکلي اندازه ساتي.

د ایران سهم باید دکال په اوږدوکې د اوبو د جریان د توپیرله مخې د هرې میاشتې لپاره وټاکل شي.

د افغانستان دولت په ۱۳۲۱ هجري لمریز کال کې د دې کسیز کمیسیون راپور ومانه او د ایران د هغه وخت شاهشاهي دولت سره یې د خبرو د پیل لپاره خپل چمتووالي وښود.

## ب: د فخري سرحدي کرښه:

له سیاه کوه څخه د ذوالفقار تر درې پورې چې زموږ د هېواد په شمال لویدیځ کې پرته ده. څوځلې د افغانستان او ایران ترمنځ سرحد وټاکل شوه، خو پدې برخه کې کومه غوڅه پریکړه ونشوه، ترڅو چې دواړو دولتونو په ۱۳۱۳ هجري لمریز کال کې د ترکیې له دولت څخه د منځګړیتوب غوښتنه وکړه د ترکیې دولت جنرال فخرالدین التایي د سرحدي اختلافونو د حل لپاره وټاکه. جنرال فخرالدین التایي له ډیرې څېړنې او مطالعې څخه وروسته خپله پریکړه دواړو د افغانستان او ایران هېوادونو ته واو روله.

په دې ترتیب سره د افغانستان لویدیځ سرحد چې د فخري د کرښې په نوم یادیږي د سیاه کوه له سیمې څخه د ذوالفقار تر درې پورې د شمال په استقامت تثبیت او وټاکل شو. د سیاه کوه څخه تر اسلام قلعه



(c) ketabton.com: The Digital Library

پورې سرحدي کرښه د ځمکې پرمخ او له اسلام قلعه څخه د ذوالفقار تر درې پورې د افغانستان او ایران ترمنځ د هریرو د سیند سرحدي کرښه جوړوي.

## په ټولګي کې د ننه فعالیت:

زده کوونکي په ډلو ویشل کیږي. هره ډله د لاندې موضوعاتو څخه په یوه موضوع پخپلو منځوکې بحث کوي او پایلې ټولګیوالوته وړاندې کوي.

- د سیستان د سیمې څرنګوالي په هکله معلومات.
- ولې د افغانستان او ایران دولتونو دسرحدي کرښو د ټاکلوپه هکله د هند له وایسرای څخه د مرستې غوښتنه وکړه او دګولډ سمت دکار پایله څرنګه شوه؟
- د نادعلي د رود د اصلي مسیر انحراف څه ستونزې رامنځته کړې او موضوع په څه ډول حل شوه؟
- ولې د ایران دولت د ملګرو ملتونو د امنیت شوراته ګیله وکړه او پایله یې څه شوه؟
- د فخري سرحدي کرښه څرنګه وټاکل شوه؟

## پوښتنې:

۱- ولې د افغانستان او ایران ترمنځ د سیستان د سیمې په سر اختلاف راپورته شو؟
۲- د سیستان د حوزې په باره کې معلومات ورکړئ.
۳- د مک مهان سرحدي کرښه د کومو سیمو ترمنځ پرته ده؟
۴- د فخري سرحدي کرښه د (            ) او (          ) سیمو ترمنځ پرته ده.

## له ټولګي څخه بهر فعالیت:

د افغانستان نقشه رسم کړئ د مکمهان او فخري کرښې پکې وښیئ



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږم لوست:

# ١-٦ اداري تشکیلات




د افغانستان د لویو ولایتونو نومونه اخیستلای شئ؟

د امان الله خان په دوره کې افغانستان د اداري تشکیلاتو د واحدونو له مخې په پنځو ولایتونو او څلورو اعلی حکومتونو ویشل شوی و. د افغانستان ولایتونه کابل، کندهار، هرات، ترکستان، قطغن او بدخشان او اعلی حکومتونه له مشرقي سمت، جنوبي سمت، میمنه او فراه څخه عبارت وو.

له ۱۳۴۳ لمریز کال څخه مخکې د ځینو ولایتونو ساحه دومره پراخه وې چې د هغو اداره د طبیعي خنډونو له مخې لکه غرونه، پراخې اوسوځوونکې دښتې تنګې او صعب العبوره درې ستونزمنه او دهغه وخت د حمل ونقل د وسایلوله مخې زیاتې ستونزې رامنځته کړې وې د دولت دکارکوونکو مصروفیت دومره زیات و چې په ډېر مشکل سره د خلکو عریضو او شکایتونو ته غوږ نیول کېده.

عرفاني او ټولنیزو موضوعګانو ته کمه پاملرنه کېده. نو په ۱۳۴۳ لمریزکال کې د لومړي ځل لپاره د اساسي قانون د تطبیق او د ولسواکۍ د تعمیم لپاره د هېواد په اداري تشکیلاتوکې اساسي تغیرات راغلل او افغانستان په ۲۹ اداري واحدونو یا ولایتونو وویشل شو.

هر ولایت د والي په واسطه چې له مرکز سره مستقیمه اړیکې لري اداره او کنټرولیږي. د هر ولایت اداري او قضایي چارې پخپل وار د خلکو د ارامۍ او آسانتیاوو لپاره په کوچنیو اداري واحدونو ویشل شوي دي.

هر ولایت په ولسوالیو او کلیو ویشل شوې دی علاقه دارۍ اوس له منځه تللي او په ولسوالیو بدلې شوي دي. د هرې ولسوالۍ په رأس کې ولسوال دی د ولسوالیو اداره له ولایت او دهغه اداره له مرکز سره اړیکې لري. د اجرایي قوې نور غړي د وزارتونو له خوا ټاکل کیږي او خپلې دندې په ولایت کې د والي د نظر لاندې او په ولسوالیو کې د ولسوال د نظر لاندې سرته رسوي.

والي د قانوني کارونو د سرته رسولو په برخه کې د محلي ارګانونو ریاست او جمهوري ریاست ته مسوولیت

لري او ځواب ويونکی دی.
د هېواد په اداري ویش کې په ۱۳۷۰ لمریز کال کې ۳۲ ولایتونه، ۹۴ ښاري ساحې او ۲۹۴ ولسوالۍ او ۳۳،۵۰۰ اصلي او فرعي کلي شامل وو. له ۱۳۸۵ لمریزکال څخه وروسته دوې ولسوالۍ چې یوه پنجشیر او بله یې دایکندي وه نوی ولایت ته لوړې شوې.

• په دې وروستیو کلونو کې د افغانستان اسلامي جمهوریت په ۳۴ ولایتونو او ۳۶۴ ولسوالیو ویشل شوی دی. د افغانستان لوی ښار د کابل ښار د هېواد پلازمینه ده لاندینی جدول د هېواد ولایتونه او د ولایتونو مرکز ونه ښیئ

| شمېره | د ولايتونو نوم | د ولايتونو مرکزونه | د ولايتونو مساحت په کيلو متره مربع |
|---|---|---|---|
| ۱ | کابل | د کابل ښار | ۴۵۲۳/۵۸ |
| ۲ | قندها ر | د قندهار ښار | ۵۴۸۴۴/۵ |
| ۳ | هرات | د هرات ښار | ۵۵۸۶۸/۵۳ |
| ۴ | بلخ | د مزارشریف ښار | ۲۰۷۹۷/۶۳ |
| ۵ | ننگرهار | د جلال آباد ښار | ۷۶۴۱/۰۵ |
| ۶ | پکتیا | د گردیز ښار | ۵۵۸۳/۱۵ |
| ۷ | غزنی | د غزنی ښار | ۲۲۴۶۰/۵۳ |
| ۸ | پروان | د چاریکارو ښار | ۵۷۱۵/۰۵ |
| ۹ | هلمند | د لښکرگاه ښار | ۵۸۳۰۵/۰۷ |
| ۱۰ | بغلان | د پلخمري ښار | ۱۸۲۵۵/۲۴ |
| ۱۱ | فاریاب | د میمني ښار | ۲۰۷۹۷/۶۳ |
| ۱۲ | نیمروز | د زرنج ښار | ۴۲۴۰۹/۵۳ |
| ۱۳ | بدخشان | د فیض آباد ښار | ۴۴۸۳۵/۹۱ |
| ۱۴ | جوزجان | د شبرغان ښار | ۱۱۲۹۱/۵۲ |



(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۵ | بامیان | د بامیانو ښار | ۱۸۰۲۹/۱۶ |
| ۱۶ | زابل | د قلات ښار | ۱۷۴۷۱/۸۰ |
| ۱۷ | غور | د چغچران ښار | ۳۶۶۵۷/۴۲ |
| ۱۸ | بادغیس | د قلعه نو ښار | ۲۰۷۹۴/۰۱ |
| ۱۹ | سمنگان | د ایبک ښار | ۱۳۴۳۷/۸۱ |
| ۲۰ | تخار | د تالقان ښار | ۱۲۴۵۷/۸۲ |
| ۲۱ | کندز | د کندز ښار | ۸۰۸۰/۸۶ |
| ۲۲ | لغمان | د مهترلام ښار ( د سراج قلعه) | ۳۹۷۷/۰۸۷ |
| ۲۳ | فراه | د فراه ښار | ۴۹۳۳۹/۱۱ |
| ۲۴ | پکتیکا | د شرني ښار | ۱۹۵۱۵/۸۶ |
| ۲۵ | کونړونه | د اسعد آباد ښار | ۴۹۲۵/۹۰ |
| ۲٦ | لوگر | د پل علم ښار | ۴۵۶۸ |
| ۲۷ | وردک | میدان ښار | ۱۰۳۴۸/۳۲ |
| ۲۸ | کاپیسا | د محمود راقي ښار | ۱۹۰۸ |
| ۲۹ | نورستان | د پارون ښار | ۹۲۶۶/۷۴ |
| ۳۰ | خوست | د متون ښار | ۴۲۳۵/۲۶ |
| ۳۱ | سرپل | د سرپل ښار | ۱۶۳۸۵/۵۷ |
| ۳۲ | ارزگان | د ترین کوټ ښار | ۱۱۴۷۳/۶۷ |
| ۳۳ | پنجشیر | د بازارك ښار | ۳۷۷۱/۶۲ |
| ۳۴ | دایکنډي | د نیلي ښار | ۱۷۵۰۱/۳۶ |



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اوسني وخت کې د افغانستان ملکي ویش

## په ټولګي کې د ننه فعالیت:

زده کوونکي دې په ډلوو ویشل شي. هره ډله دې د لاندنیو موضوعاتو په باره کې پخپلو منځوکې بحث وکړي. یو تن دې د ډلې په استازیتوب خپله موضوع ټولګیوالو ته شرحه کړي.

- د اماني دورې اداري تشکیلات:
- ولې په ۱۳۴۳ هجری لمریز کال کې په اداري تشکیلاتوکې بدلون راغی.
- د ولایتونو او ولسوالیو اداره په څه ډول ده؟
- د هېواد د ولایتونو، ولسوالیو او کلیو شمېر څومره دی؟ وروستني ولایتونه، چې د ولایت سطحې ته لوړ شوي دي نومونه یې واخلئ.

## پوښتنې:

۱- د امان الله خان د دورې د ولایتونو نومونه واخلئ.
۲- د امان الله خان د دورې اعلی حکومتونه کوم دي؟
۳- کوم ولایتونه د هېواد په شمال کې پراته دي.
۴- د افغانستان د مرکزي ولایتونو نومونه واخلئ.
۵- د کابل، بلخ، ننګرهار، او هرات د ولایتونو د مرکزونو نومونه واخلئ.
۶- د هېواد لویدیځ ولایتونه په نقشه کې وښیئ.


## له ټولګي څخه بهر فعالیت:

د افغانستان نقشه رسم کړئ او په هغې کې دهېواد دلویو ولایتونو او ښارونو موقعیت وټاکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲-۱ د هېواد په پرمختياکې د نفوسو اهميت.




**نفوس د هېواد په پرمختياکې څه اهميت لري؟**

نفوس د هېوا د له ټولو اوسيدونکو څخه عبارت دي، چې په بيلابيلو ځايونو کې د بيلو لاملونوله مخې استوګن او ځای پرځای شوي دي. د نفوسو شمير په ځينوځايونوکې لږاو په ځينوځايوکې ډير دی.

نوله دی کبله د نفوسو تناسب د استوګنې پرسيمه باندې د اهميت وړ دی.

د نفوسو دګڼوالي له پاره بايد د يوې سيمې نفوس د هغې په مساحت وويشو. د افغانستان نفوس ۲۶ ميليونه اټکل شوی دی، چې په ټول هېواد کې ژوند کوي اوسنی نفوس په ټول هېواد کې يو ډول ندی بلکې اقليمي، د ځمکې د جوړښت شرايط او نور اقتصادي، بشري او سياسي لاملونه د نفوسو په تمرکزکې اغيزه لري.

همدارنګه د پور تنيو لاملونو په پام کې نيولو سره په حاصلخيزو سيمو لکه ( ننګرهار، لوګر، کاپيسا، لغمان، او پروان کې په زيات شمير نفوس ځای پرځای شوي دي. په داسې حال کې چې د بکوا او مارګو په سوځوونکو دښتو کې د نفوسو شمير ډېر کم دی.

په هېواد کې پرمختيايي پلانونه د نفوسو د زياتوالي له مخې په پام کې نيول شوي دي.

د افغانستان نفوس په صنعتي مرکزونو،اقليمي سيمو، ښارونو او کليو کې په مختلفو اندازو ځای پر ځای شوی دی. د خلکو دژوندانه لپاره د کرنې په پرمختيا او د لومړنيو توکود توليد پر بنا ۸۰ سلنه خلک په کليو او ۲۰ سلنه نور په ښارونو کې ژوند کوي. په دې وروستيو کلونو کې د وخت په تيريدو او د سياسي بدلونو نو پر اساس د نفوسو ګڼه ګوڼه

دکابل،جلال آباد، مزار شریف، هرات او داسې نورو ښارونو کې زیاته شوې ده .

- د اقتصادي او صنعتي لاملو په سبب د هېواد یو شمېر وګړي په صنعتي مرکزونو کې ژوند کوي. لکه د پلخمري د نساجی فابریکې دبغلان دقندفابریکې او داسې نورو کارخانو په شاوخواکې استوګن دي.

- په کرنیزو پروژوکې لکه د هډې او غازي آباد فارمونه، دهلمند،ناد علي او داسې نورې پروژې د زیاتو نفوسو دځای پرځای کېدنې لامل شوي دي.

- د کرنیزو ځمکو دخړوبولو لپاره د سیندونو شتون دکرنیزو کلیو د پرمختګ سبب شوی. همدارنګه سوداګریز بندرونه لکه تورخم، اسلام قلعه، حیرتان ، سپین بولدك او داسې نور د ډېرو نفوسو دځای پرځای کیدنې سبب شوي دي.

لنډه داچې په اوارو او مناسبو اقلیمي سیموکې دنفوسو دمېشته کیدنې مینه ډېره وي نه په سوځونکو شګو او یا په غرنیو لوړو برخو کې.

## په ټولګي کې د ننه فعالیت:

زده کوونکي دې په ډلوو ویشل شي. هره ډله دې له لاندنیو موضوعاتو څخه په یوه موضوع بحث وکړي او پایلې په ټولګي کې شرحه کړي.

۱- په سیاسی لحاظ د نفوسو ګڼوالی.

۲- په اقتصادي لحاظ د نفوسو ګڼوالی.

۳- په طبیعي لحاظ د نفوسو ګڼوالی.

## پوښتنې:

۱- نفوس تعریف کړئ.

۲- لاندینی ولایتونه ډېرګڼوالی لري.

الف: کابل، کاپیسا، ننګرهار، لوګر، او پروان ب: تخار، کونړونه او لغمان

ج: لوګر، میدان وردک او غزني د: دایکندي، خوست، او پکتیا.

۳- آیا اقلیم او ښه خاوره د نفوسو په ګڼوالي اغېزه لري؟

۴- په سوځوونکو دښتوکې د نفوسو ګڼوالی په څه ډول دی؟ د دغې موضوع بېلګه ووایاست.

## له ټولګي څخه بهر فعالیت:

د نفوسو په ویش او ګڼوالي کې کوم لاملونه شامل دي، نومونه یې واخلئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

اتم لوست:

## ۲-۲ احصایه اود نفوسو جغرافیایي ویش

د خپل استوګنځي په باره کې فکر وکړئ و وایاست چې د هغې سیمې نفوسو ولې پرمختیا کړې ده؟
افغانستان له ډیرو پخوا دوروڅخه د خلکو د استوګنې ځای و او بیلا بیلو قبیلو ته یې د غرونو په شنو لمنو، دو یا لوپه غاره، د سیندونو په ساحلونو او دخوړونو په غاړوکې ځای ورکړی دی او د افغانستان په تاریخ کې یې د لرغوني آریایي،مدنیت بنسټ یې ایښی دی. چې تاریخي جغرافیه د دې حقیقت ښکارندوی ده.
د دې هیواد تاریخي لغونتوب، د نفوسو استقرار چې د لویو مد نیتونو او د تاریخي ښارونو د تاسیس له مخې لکه بلخ پیل کېږي. تقریبا له ۸۰- ۸۵ سلنه نفوس یې په کرنه او د هغې په اړونده کارونو بوخت دي. تر اوسه هم کرنه د نفوسو د تمرکز او ویش د سترو لاملونو څخه ګڼل کېږي. نوله همدې امله د فزیکي چاپیریا ل جوړښت، د اقلیم ډول، د هایدروګرافی ځانګړتیا وې، د انساني نفوسو د تمرکز او استوګنې لپاره، په بیلا بیلو تناسبونو شرایط برابر کړي دي. زموږ په هیواد کې هم د نرۍ د نورو سیمو پشان، سیمې په بیلا بیلو تناسبونو رامنځته شوي دي. زموږ په هیواد کې د نرۍ د نورو سیمو په شان، درې، وادي، جلګی او د سیندونو غاړې په ډیرو پخوا نیو زمانو کې مساعد چاپیریال د خلکو د بېلا بېلو ډ لود استوګنې لپاره رامنځته کړي دی او د کرنې او ژوندانه له پاره یې مساعدې برخې جوړې کړي دي، چې د کرنې، صنعت او مالدارۍ او د صنعتي فعالیت د پر اختیا له لپاره ګټورې دي او غېرمسکونی سیمې یې د استوګنې په سیمو بدلې کړي دي. د هیواد په شمال کې د نفوسو تمرکز په هغو سیمو کې چې لوړوالی یې له ۲۵۰۰ متروڅخه زیات دی، محدود دی او پدې سیمو کې یو شمیر نسبتاً پر اخې سیمې یې نیولې دي. هغه سیمې چې مساعد اقلیم، ښه خاوره او ډېرې اوبه لري، زیات شمېر خلك پكې استوګن دي. په همدې ډول هغه سیمې چې له ۱۰۰۰ متروکم لوړوالي لري پراخې او هوارې سیمې دي لکه لویدیځه، شمالي، ختیځه د جنوب لویدیځ یوه برخه او جنوبي حوزې. د دې سیمو زیات نفوس په کرنه او مالدارۍ او نورو تجارتي اوصنعتي دندو بوخت دي.
د افغانستان اداري واحدونه څرګندوي، چې د کرنې له مخې زیات اهمیت لري او زیات نفوس یې ځانته جلب کړی دی اود نورو سیمو په تناسب یې ګڼ نفوسه سیمې جوړې کړي دي. په همدې ډول یې په پورتنیو نقطو کې د سوداګرۍ راکړې ورکړې لوی ښارونه او داسې نورې سیمې جوړې کړي دي چې د زیاتو نفوسو په تمرکزکې اغېزه لري.
صنایع او د فابریکو جوړول، عرفاني او فرهنګي مرکزونه، اداري نظامي او توریستي واحدونه هم د نفوسو د راټولیدو او تمرکز باعث شوي دي. چې کولای شو د کابل له ښار، د ننګرهار او کاپیسا له ولایتونو او نورو ښارونو څخه یې یادونه وکړو.
د ا وبو شتون د نفوسو په ګڼو الي کې ډیره اغېزه لري. که چېرې د سیندونو، د چینو او کاریزونو غاړې ترکتنې لاندې ونیسو. دغو سیمو د نورو سیمو په نسبت زیات نفوس ځانته جلب کړي دي. په تیره بیا د سیندونو، کاریزونو او چینو منځنی او وروستنی برخې د نفوسو په تمرکز کې له ډیرو پخوا کلونو څخه



(c) ketabton.com: The Digital Library

لویه برخه درلوده. د نفوسو ګڼوالی په دې نقطو کې په څرګنده توګه په سترګو کېږي. د مثال په ډول د لوګر، پنجشیر، الیشنګ، الینګار، کونړ، د هریرود سیند او مرستیالان یې، د هلمند د سیند ساحل او مرستیالان یې لکه ترنک، ارغستان او ارغنداب، د مرغاب سیند او مرستیالان یې، د کندز سیند، فراه رود، خاشرود او ادرسکن او د آمو د سیند کیڼ ساحل د افغانستان ډېر ګڼ نفوسه سیمې دي.

## په ټولګي کې د ننه فعالیت:

زده کوونکي لومړی په ډ لو ویشل کیږي. وروسته هره ډله د لاندي پوښتنو په باره کې فکر کوي او نتیجه یې د ډ لو استازي نورو ته تشریح کوي.
د کومو د لیلونو له مخې د نفوسو ګڼوالی په یوه ځانګړې سیمه کې زیات وي؟ په قناعت بخښونکو د لیلونو یو له بل سره بحث وکړئ.

## پوښتنې:

۱. د هغو سیندونو نومونه واخلئ چې د نفوسو د ګڼوالي باعث ګرځي.
۲. د هلمند سیند د لاندې اهمیت لرونکی دی:

الف: اقتصادي، کرنیز، صنعتي او تولیدي    ب: اقتصادي او انرژي
ج: اقتصادي او شخصي    د: ټول سم دي

۳. د کابل د سیند مرستیا لان له (                ) څخه عبارت دي.
۴. هغه سیمې چې په ۱۰۰۰ متره لوړوالي کې پر تې دي، د نفوسو تمرکزیې(                ) دی.
۵. د کاریزونو اهمیت د هیواد د اوسیدونکو په ژوندانه کې، بیان کړئ.

## له ټولګي څخه بهر فعالیت:

کوم جغرافیایي شرایط د ښارونو د جوړیدو او د نفوسو دګڼو الي سبب شوي دي؟
په کتابچو کې د ځواب له لیکلو وروسته یې نورو ته تشریح کړئ.




(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲-۳ د نفوسو وده او منځنی عمر




**ایا پوهېږئ چې د نفوسو وده او منځنی عمر زموږ په ګران هیواد کې څومره دی؟**

د نفوسو نسبي وده د یوه هېواد د خلکو زیاتوالي ته ویل کېږي. د خلکو د شمېر او د نفوسو دنسبي ودې په باره کې بنسټیز ارقام او څېړنه له اساسي ارتیا ووڅخه ګڼل کیږي. په دې ډول کولای شو چې د دیموګرافی له مخې چې د نفوسو وده، مړینه (نارینه او ښځینه) او نور ارقام هر وخت د څېړونکو او مؤسساتو په واک کې کیږدي. په مخ پروډې هېوادونو کې د نفوسو وده د ټولنیزو، مذهبي او اقتصادي مقرراتو تابع ده.

- د ټو لنیزې او روغتیا له مخې عادي وده په پام کې ده..

نو له همدې امله په افغانستان کې منځنی او عادي و ده له ۲.۵ څخه تر ۳ سلنه محاسبه شوې ده. سره

(c) ketabton.com: The Digital Library


له دې چې دقيقه احصايه نشته. د افغانستان د نفوسو په هکله اټکلي ارقام په رسمي ډول د لومړي ځل له پاره په ۱۳۱۵ لمريز کال کې خپاره شول. د افغانستان ټول نفوس په دې کال کې لس میلیونه او اويا زره ښوول شوي دي. په داسې حال کې چې په ۱۳۸۸ لمريز کال کې چې له ۲۰۰۹ ميلادي کال سره سمون لري ۲۶ ميليونه څرګند شوي دي.

د پلان وزارت د ۱۳۲۹ لمريز کال د احصايې له مخې د ټول هېواد نفوس ۱۲ ميليونه اټکل کړي دي. د همدې کلونو د نفوسو وده په اټکل ولاړه ده.

د نفوسود لومړۍ نمونه يې څېړنه په ۱۳۳۲ لمريز کال کې، د هېواد په پلا زمېنه کابل ښار کې د روغتيا د نړيوالې مؤسسې له خوا سرته ورسيده او د لسو ولا يتونو په ۸۵ اړونده کليو کې په تيت او پرک ډول دنفوسو د ترکيب( عمر، جنس، دنده او داسې نور) او نورو ځانګرتيا وو په باب معلومات راټول شول. له هغې څخه وروسته يوه بله نمونه يې څېړنه دکابل دکليو (ده خدای داد) په باره کې په ۱۳۳۸ لمريز کال کې سرته ورسيده. دغه عمليه د ديموګرافۍ د پوهې له مخې د ساحې او دنفوسو د شمېر د محدوديت اود احصايې له مخې لازم ارزښت نلري او له هغې څخه سمه علمي نتيجه په لاس نه راځي. بشپړه سرشمېرنه د ۱۳۵۸ لمريز کال د جوزا د مياشتې په ۲۵ نېټه پيل او د چنګاښ د مياشتې په ۱۴ نېټه پای ته ورسيده. سره له دې چې دقيقه احصايه واخستل شوه، خو بيا هم ويې نه شوکولی چې د هېواد د ټولو سيمو احصايه واخلي. د ۱۳۵۹ لمريز کا ل د احصايې له مخې د افغانستان ټول نفوس۱۵.۹٤ ميليونه تنه اټکل شوي چې د هغو له جملې څخه ۱۳.۴ ميليونه تنه دايمي استوګن نفوس او ۲.۵۶ ميليونه تنه نورکوچيان وو. د ټول نفوس ۱۵.۴ سلنه په ښارونو او ۸٤.۶ سلنه په کليو کې ژوند کوي.

پدې کال کې په کليو يا ښارونو کې ميشت نفوس چې ټولې کورنی ۲،۱ ميليونه وې چې په منځني ډول د هرې کورنۍ غړي ۶ تنه ثبت شول.

په ۱۳۸۶ کال کې، د نفوس د ګروپونو بېلوالی د عمر له مخې




## اضافي معلومات:

د نفوسو د زیاتوالي معلوماتي جدول له ۱۳۴۰ څخه تر ۱۳۷۰ لمریز کلونو پورې:

| ګڼه | کال | د ودې سلنه |
|---|---|---|
| ۱ | ۱۳۴۰ | ۳,۱ |
| ۲ | ۱۳۴۸ | ۳ |
| ۳ | ۱۳۵۰ | ۲,۸ |
| ۴ | ۱۳۵۹ | ۲,۶ |
| ۵ | ۱۳۷۰ | ۱,۹ |
| ۶ | ۱۳۸۶ | ۲,۰۳ |

### په ټولګي کې د ننه فعالیت:

زده کوونکي دې په ډلو وویشل شي. هره ډله دې د نفوسو د اهمیت په باره کې بحث وکړي او د هېواد د پرمختیا په باره کې دې د هغې اغېزې پخپلو منځو کې شریکې کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## پوښتنې:

۱- د مخ په ودې هېوادونو د نفوسو وده څرنګه ده؟

۲- د نفوسو وده څه ارزښت لري؟

۳- د افغانستان د نفوسو احصایه اټکلي ده که و اقعي؟

۴- په کومو هېوادونو کې د نفوسو کنترول مجاز نه دی؟

## له ټولګي څخه بهر فعالیت:

زموږ په هېواد کې د نفوسو وده د کومو لاملونو تابع ده؟ وروسته له دې چې د لیلونه مو په کتابچه کې ولیکل، بله ورځ پرې په ټولګي کې بحث وکړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د نفوسوڅرنګوالی او په هېواد کې قومي ترکیب

په افغانستان کې د نفوسو څرنګوالی، د لاندنیو مطالبو له مخې مطالعه او ارزولی شو.

- د عمر له مخې.
- د جنس له مخې.

د نفوسو د څرنګوالي مطالعه د ټولنیزو او اقتصادي خدمتونو له مخې(کرنه، کانونه او داسې نور)

د ۱۳۵۸ لمریز کال راهیسې د هېواد په سطحه کومه سر شمیرنه نه ده شوې نو له همدې امله په افغانستان کې د نفوسو دویش، ترکیب دودې د اندازې او اقتصادي او ټولنیزو ځانګړتیا وو په هکله مستند احصایوي معلومات په لاس کې نشته. خو په ۱۳۸۳ لمریز کال کې د نفوسو د څرنګوالي لومړیتوب د جنس(د نارینه او ښځینه) له مخې مطالعه شو.

- په ۱۳۸۳ لمریز کال کې د نفوسو دجنس له مخې د څرنګوالي لومړیتوب احساس شو. د اتیا ویمې لسیزې په پیل کې د ښځینه وویه لور پاملرنه را وګرځېده، چې د هغو فعاله ونډه اخیستنه په ټولو برخو کې په څرګنده ښکاري. اوس د کتنې ورشمیر ښځې په شورا(ولسي اومشرانو جرګه) کې دنده ترسره کوي. په همدې ډول د ښځو ونډه په دولتي ادارو کې په تیره بیا په پوهنې او د اقتصاد په بیلا بیلو سکتورونو کې زیاته شوې ده.
- د مخ پرودې هیوادونو په ډله کې زموږ د هیواد د ټولو نفوسو( د صفر څخه تر ۱۵ کلنۍ پورې) ۴۴ سلنه او د ( ۱۵ څخه تر ۶۰ کلنۍ پورې) ۵۲.۹ سلنه او د ۶۵ کلنۍ څخه پورته ۲.۶ سلنه اټکل شوې ده.

په هېواد کې اقتصادي فعاله نفوس تر (۱۵- ۶۵)[1] کلنۍ پورې دی چې د هغې له جملې څخه ۸۰ سلنه دکرنې او مالدارۍ په برخه کې مشغول دي ا وپاتې نورېې په صنایعو، کانونو او ټولنیزو خدمتونو کې بوخت دي او له ۶۵ کلنۍ څخه پورته غیر فعاله اقتصادي نفوس تشکیلوي.

۱- د کوچنیوالي عمر د مشغولیت له پلوه د حقوق بشر سازمان ۱۸ کلنۍ غوره کړې دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

په افغانستان کې د عمر او جنس د ترکیب څرنګوالی:

| کال | ښاري نفوس | | کلیوالي نفوس | |
|---|---|---|---|---|
| ۱۳۸۸ | ښځې | نارینه | ښځې | نارینه |
| | ۲۵۰۳۰۹۰ تنې | ۲۶۵۶۲۰۰ تنه | ۸۷۵۲۳۰۰ تنې | ۹۱۲۷۴۰۰ تنه |
| | ۵۱۵۹۲۰۰ تنه | | ۱۷۸۷۹۷۰۰ تنه | |

په پورتني جدول کې د ښځو شمېر د نارینه و په پرتله ۳.۵ ځلي لږدی.

خو د عمر له پلوه د کوچنیانو شمیر د پنځه کلنی څخه کښته ۲۰ سلنه

۲۵ څخه کښته ۸ سلنه

۴۰ څخه کښته ۵ سلنه

۶۵ څخه کښته ۴ سلنه

د افغانستان ټول نفوس جوړوي

## په هیواد کې قومي جوړښت او د قومونو جغرافیایي ویش:

• په افغانستان کې د ساکنو قومونو جغرافیایي ویش په څه ډول دی؟

د افغانستان اوسیدونکي اویا اتباع د تاریخي عنعناتو له مخې او همدارنګه د اساسي قانون له مخې ټول افغانان دي. خو د بشري جغرافیې له مخې زموږ په هیواد کې بیلا بیل قومونه ژوند کوی چې په لنډ ډول د هغو په باب اشاره کېږي.

په دې خاوره کې پښتانه د تاریخي اسنادو له مخې د اریایانو ډېر پخوانی نژاد بلل کېږي هغه ژبه چې پرې خبرې کوي د پښتو په نوم یا دېږي.

هیرودت د یونان وتلي مورخ پښتانه د پکت تویس او سیمو، پکتیس په نوم هم یاد کړي دي. پښتانه په ټول افغانستان کې استوګن دي، خو زیات یې په ختیځو په کابل او د کابل په ګاونډیو ولایتونوپه جنوبي، جنوب ختیځ، ختیځ او جنوب لویدیځ کې په ګڼه توګه ژوند کوي په شمالي ولایتونو کې هم اوسیږي.

• تاجکان د پښتنو پشان د دې سیمې د اریا یانو له ډیرو پخوا نیو قومونو څخه دي، چې بیلا بېل قومونه یې د هیواد په شمال کې له بدخشان څخه تر هرات او د هندوکش په جنوب کې له پروان څخه تر کابل پورې ژوند کوي. او په عمومي توګه په دري ژبه خبرې کوي.

• ازبیک او ترکمن هم د دې هیواد اوسیدونکي دي او د هېواد په شمال او شمال لویدیځ کې ژوند کوي.

ازبیک قرغز، قزاق او ترکمن په ترکي او ازبیکي ژبو خبرې کوي.

• هزاره زموږ د هېواد اوسیدونکي دي چې په هزاره ګي لهجه په دري ژبه خبرې کوي. په بامیانو او مرکزي لوړو سطحو کې اوسیږي.

• نورستانیان له اریا یي قوم څخه دي او د دې هیواد له اصلي اوسیدونکو څخه شمېرل کېږي. د نورستانیانو داوسیدو سیمه نورستان او ژبه یې د ختیځ اریایي ژبو څخه ده. یو بل قوم چې اریایي نژاد لري، پشه یان دي چې په کونړونو او کاپیسا کې ژوند کوي. ژبه یې ختیځه اریایي ریښه لري.

• بل قوم چې اریایي نژاد لري بلوڅ دي چې د کندهارپه جنوب اوچخا نسور کې ژوند کوي. ژبه یې بلوڅي اریایي ده په پښتو او دري هم خبرې کوي.

په همدې ترتیب زموږ په ګران هیواد کې یو شمېر قزل باش، عرب اوسیدان هم ژوند کوي. په همدې ډول یو محدود شمېر هندوان اوسکان هم په کابل، ننګرهار، کندهار، ګردیز، خوست او غزني کې ژوند کوي، چې د دې هیواد اوسیدونکي دي.

## په ټولګي کې د ننه فعالیت:

د نفوسو کیفیت څه مفهوم لري؟ هره ډله به په دې هکله بحث وکړي. د ډلې استازې دې هم ټو لګیوالوته ووایي. چې په هېواد کې د میشتو قومونو په هکله بحث وکړي ا وخپل معلومات له نورو سره شریک کړي.

## پوښتنې:

۱. هغه قومونه چې په افغانستان کې ژوند کوي، نومونه یې واخلئ.

۲. د اضافي معلوماتو د جدول له مخې په کاربو ختو نفوسو سلنه پیدا کړئ

۳. د کوم عمر خلکو ته اقتصادي فعاله نفوس ویل کیږي؟

## له ټولګي څخه بهر فعالیت:

په افغانستان کې د استوګن قومونو په باره کې، له بیلا بېلو سرچینو څخه په ګټه اخېستنه، یوه لنډه مقاله ولیکئ.

## اضافي معلومات

| ۱۳۸۶(۲۰۰۷–۲۰۰۸) | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ټول دايمي استوګن نفوس | | | | |
| عمر (په کال) | فيصدي | ټول نفوس (تنه) | ښځينه (تنې) | نارينه (تنه) |
| | ۱۰۰ | ۲۳۰۳۸۹۰۰ | ۱۱۲۵۵۳۰۰ | ۱۱۷۸۳۶۰۰ |
| ۰۰–۰۴ | ۲۰ | ۴۵۱۴۵۶۲ | ۲۳۲۱۸۷۱ | ۲۱۹۲۶۹۱ |
| ۰۵–۰۹ | ۱۵ | ۳۴۴۵۶۷۹ | ۱۶۹۴۹۶۲ | ۱۷۵۰۷۱۷ |
| ۱۰–۱۴ | ۱۱ | ۲۶۵۳۱۴۳ | ۱۲۵۳۶۸۷ | ۱۳۹۹۴۵۶ |
| ۱۵–۱۹ | ۹ | ۲۱۶۵۸۸۱ | ۱۰۱۷۴۴۴ | ۱۱۴۸۴۳۷ |
| ۲۰–۲۴ | ۸ | ۱۸۶۰۸۹۸ | ۹۰۴۷۱۲ | ۹۵۶۱۸۶ |
| ۲۵–۲۹ | ۷ | ۱۵۴۰۶۹۳ | ۷۷۹۷۲۱ | ۷۶۰۹۷۲ |
| ۳۰–۳۴ | ۵ | ۱۲۸۷۲۲۳ | ۶۷۶۸۰۵ | ۶۱۰۴۱۸ |
| ۳۵–۳۹ | ۵ | ۱۱۳۴۶۸۴ | ۵۹۵۲۷۱ | ۵۳۹۴۱۳ |
| ۴۰–۴۴ | ۴ | ۹۸۱۲۷۷ | ۴۸۶۵۳۴ | ۴۹۴۷۴۳ |
| ۴۵–۴۹ | ۴ | ۸۵۲۶۸۲ | ۴۰۲۴۶۱ | ۴۵۰۲۲۱ |
| ۵۰–۵۴ | ۳ | ۷۲۰۶۱۳ | ۳۲۳۹۲۵ | ۳۹۶۶۸۸ |
| ۵۵–۵۹ | ۳ | ۵۸۰۱۷۴ | ۲۵۱۶۲۶ | ۳۲۸۵۴۸ |
| ۶۰–۶۴ | ۲ | ۴۴۷۱۶۴ | ۱۹۰۹۰۶ | ۲۵۶۲۵۸ |
| ٦٥ کلن او د هغې څخه پورته | ۴ | ۸۵۴۲۲۷ | ۳۵۵۳۷۵ | ۴۹۸۸۵۲ |

**نوټ**: د کوچيانو ۱,۵ ميليونه نفوس پکې شامل نه دي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوولسم لوست:

## ۲-۵ د داخلي او خارجي مهاجرتونه او د نفوسو ځای پر ځای کیدل




**د هغو مهاجرتونو په هکله چې زموږ له هېواده شوي، معلومات لرئ؟**

زموږ په هېواد کې د اخلي، خارجي، سیاسي او تاریخي مهاجرتونه چې د طبیعي پېښو د اغېزو له مخې کېږي، د هغو انګیزې په لاندې ډول دي:

• **سیاسي مهاجرتونه**: سیاسي مهاجرتونه هغه وخت کېږي چې فکري او عقیدتي ازادي موجوده نه وي. له ۱۳۵۷ لمریزکال څخه وروسته د روس دتهاجم او تیري له امله د افغانانو ډېرلوی مهاجرتونه چې په نړۍ کې ساری نه لري نورو هیواد و نو او لویو وچوته شوي دي، د افغانستان له پنځه میلیونو څخه زیات نفوس د نړۍ په ګوټ ګوټ کې مهاجر شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**•اقتصادي مهاجرتونه:**

د کليو،د کوچنيو او لويو ښارونو خلك لويو صنعتي ښارونو ته د کار او دندو د موندلو او د شتمنيو د لاس ته را وړلو او د مصؤن ژوند لپاره مهاجرت کوي. د پورتنيو لاملونو په نظر کې نيولو سره دکليو خلك ښارونوته لکه کابل، کندهار، هرات، مزار شريف او نورو صنعتي ښارونو ته مهاجرت کوي چې دغه کار لا تر اوسه دوام لري.

**•تاريخي مهاجرتونه:**

په ډيرو پخوانيو وختو کې اريا يانو له بلخ (بخدي) څخه شاوخوا سيمو ته ترهند اوفارس پورې مهاجرت وکړ. يونانيانو،کوشانيانو او مسلمانانو يو پر بل پسې مهاجرت وکړ.

•په ۱۳۴۹ لمريز کال کې د وچکالۍ له امله زموږ هېوادوال د خپلو کورونو پرې ښودلوته اړشول چې د بادغيس، ارزگان او د هزاره جاتو لوړه سطحه په دې ډله کې راځي.

•مو سمي مهاجرتونه د تودو او سړو سيمو ترمنځ کېږي يعنې مهاجرين په اوړي کې د ځارويو د روزنې او همدارنگه د کرنې لپاره گاونډيو سيمو ته مهاجرت کوي. د هېواد کوچيان يې ښه مثال دي.

## •د مهاجرت اغيزې:

مهاجرتونو په افغاني مهاجرينو مثبتې او منفي اغيزې کړې دي.

۱-د فعال اقتصادي نفوس له لاسه ورکول.

۲- د مغزونو تيښته ( د پوهانو او ماهرو خلکو مهاجرت ).

۳- منفي اغېزې لکه: په HIV او د پوستکي په ناروغیو اخته کیدل.

٤- باندنیو هېوادونو ته د سرمایې لېږدول.

### مثبتې اغیزې لاندې دي:

۱- د خپل فرهنګ لیږدول او د نورو له فرهنګ سره آشنایي.

۲- د خپلې ژبې رواجول او د نورو له ژبو سره بلدتیا.

۳- د نوي تکنالوجیو سره بلدتیا.

٤- په پایله کې هر مدنیت د یوه مهاجرت زېږنده ده.

۵-د هغوی انساني حقوق تر پښو لاندې کیدل

### په ټولګي کې د ننه فعالیت:

ز ده کوونکي دې په ډلو وویشل شي او هره ډله دې د لاندې پوښتنو په باره کې بحث وکړي او د هرې ډلې استازي دې خپل معلومات په ټولګي کې وړاندې کړي.

۱. په سیاسي مهاجرت او د هغه په انګېزه بحث وکړي.

۲. زموږ هېوادوالو ولې لویو صنعتي ښارونوته مهاجرت کړی؟

۳-آیا تاریخي مهاجرتونه زموږ په هېواد کې شوي دي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

## پوښتنې:

۱-زموږ په گران هېواد کې اوسېدونکو ولې له کلیو څخه ښارونوته مهاجرتونه کړي.

۲- د مهاجرت منفي تاثیرات بیان کړئ؟

۳-آیا زموږ هېوادوال اوس هم نورو هېوادونو ته مهاجرت کوي. ولې؟


## له ټولگي څخه بهر فعالیت:

ولې زموږ د هیواد اوسیدونکي نورو هیوادونوته مهاجرت کوي؟ ددې سر لیک لاندې یوه مقاله ولیکئ او د جغرافیې په را تلونکي ساعت کې یې هم ټولگیوالوته وړاندې کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۱,۳ دین



د مکې معظمې انځور

د افغانستان زیاتره خلک د کوم دین و مذهب پیروان دي؟

انسانان له خپلو عقیدو سره ژوند کوي. زموږ خلک هم له ډېرو پخوا وختو راهیسې د بېلا بېلو دینو نو پیروان وو. زموږ نېکونو اریایانو نوو سیمو ته له کوچیدو مخکې ساده آیین در لوده. دوی د طبیعت هغه عناصر چې په ژوندانه یې اغېز درلوده مقدس شمېرل. د افغانستان خلک، سره له دې چې دویدي او برهمني زړې عقیدې پیروان وو، د هیواد په ختیځ، شمال لویدیځ کې



(c) ketabton.com: The Digital Library

زر دشتي آيين رواج درلود. خو کله چې له میلاد څخه مخکې ۲۰۶ کال کې اشوکا دبودايي دين د تبليغ او خپرولو له پاره ملا وتړله چې د هغه تاريخ نه زر کاله وروسته هم دی عقيدې او آيين د هېواد په ختيځ اوشمال کې بشپړ رواج وموندہ، چې د فکري، هنري او فرهنګ له پلوه يې د دې خلکو په ژوندانه ژوره اغېزه در لوده. بودايي دين داشوکادنفوذ او سلطې په واسط د هندوکش له جنوب څخه ترکندهاره پورې خپورشو.

د اسلام دمقدس دين په ظهور سره بېلا بېل دينونه لکه زردشتي، بودايي او لږ څه آسماني دينونه لکه يهوديت، مسيحيت په خراسان (افغانستان) کې پېرو او پلويان در لودل. خو داسې دين چې په ټول افغانستان کې عام رواج ولري او دملي دين په توګه ومنل شي، وجود نه در لوده. چې پدې ډول سره د هغه وخت خراسان يا اوسنی افغانستان د اسلام مقدس دين د منلو له پاره چمتو و. د حضرت عثمان(رض) په واکمنۍ کې، له ۲۵ هجري کال څخه وروسته اسلامي فتوحاتو په افغانستان کې پرمختګ وکړ. احنف بن قيس د هرات ښار ونيوه اوخلك يې د اسلام په دين مشرف کړل. دريم خليفه حضرت عثمان (رض) عبداله بن عامر بن کريز چې ۲۵ کلن ځوان و د ابوموسی اشعري په ځای وټاکه. عبداله بن عامر اسلامي امپراطورۍ ترختيځ پورې وغزوله هغه سرخس، فارياب، تالقان، کندهار او غزنی فتح او اسلام يې هلته خپورکړل. کابل يې يو کال محاصره کړ او په مشکل سره يې فتح کړ. د وخت په تيريدو سره د افغانستان ټولې سيمې داسلام په دين مشرف شوې .يوازې کافرستان چې وروسته په نورستان ياد شو پخوانی دين يې تر ډېرې مودې پورې وساته چې په ۱۹م پېړۍ کې د اميرعبدالرحمن خان په دوره کې د اسلام په دين مشرف شول. د افغانستان د اسلامي جمهوريت د دولت رسمي دين د اسلام مقدس دين دی. د نورو دينونو پيروان، د خپل دين په پيروۍ او ديني مراسمو په سرته رسولوکې د قانون له احکامو سره سم آز اد دي. په افغانستان کې هيڅ قانون نه شي کولای چې د



(c) ketabton.com: The Digital Library

اسلام د مقدس دین د معتقداتو او احکامو مخالف وي.

په اوسني وخت کې د افغانستان خلک ۹۹.۶ سلنه د اسلام د مقدس دین پیروان دي. یو شمیر هندوان او سکان په افغانستان کې اوسیږي. هندوان اوسکان په کابل، جلا ل آباد، کندهار، چاریکارو، گردیز او نورو ښارونوکې اوسیږي چې اکثر یې سوداگر دي.

د افغانستان مطلق اکثریت خلك د حنفي مذهب پیروان دي او د تشیع مذهب پیروان هم لري.

د افغانستان اهل تشیع په جعفري او اسماعلیه مذهبونو ویشل شوي دي.

## په ټولگي کې د ننه فعالیت:

ز ده کوونکي په ډلو ویشل کېږي او هره ډله دې له لاندنیو مو ضوگانو څخه په یوه موضوع بحث وکړي او د بحث نتیجه دې په ټولگي کې شرحه کړي.

- آریایان دکوم ایین لرونکي وو؟
- بود ايي آیین څه وخت په کومه سیمه کې خپورشو؟
- د اسلام دین په افغانستان کې په څه ډول خپور شو؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

### پوښتنې:

لاندنی سمې او غلطې پوښتنې یو له بل څخه بیلې کړئ:

۱. اریایانو د طبیعت هغه عناصر چې په ژوندانه کې یې اغېزمن وو مقدس شمېرل.

۲. د افغانستان ټول خلک د یو مذهب یعنې اسلام پیرو دي.

۳. کومو خلکو په افغانستان کې د اسلام په خپرولو کې نقش درلوده؟

۴. په اوسني وخت کې د افغانستان خلک د کومو دینونو او مذهبو نو پیرو دي؟

### له ټولګي څخه بهر فعالیت:

د اسلام دمقدس دین د ښېګڼو په اړوند د ټولنو په هوساینې کې څو کرښې ولیکئ او ټولګیوالوته یې ولولئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۳ ـ ۲ ژبه




**په افغانستان کې له دیرشو څخه زیاتې خپلواکه ژبې شته چې د هیواد په بېلا بېلو سیمو کې خلک په بېلا بېلو لهجو پرې خبرې کوي.**

د افغانستان د ژبو اهمیت، لکه د نړۍ د نورو ژبو پشان د ویو نکو په شمېر پورې اړه لري. د مثال په ډول پښتو او دري د هیواد په پراخه ساحه کې عمومیت لري او خلک په هغو خبرې کوي او تقریبا د افغانستان ټول خلک پرې پوهېږي په داسې حال کې چې په اورمړي او عربي یوازې په څو محدودو کلیوکې خبرې کېږي.

اندو اروپايي ژبې په دوو اریايي (اراني) او هندي ویشل کېږي.اریايي ژبه په عمومي ډول د هیواد په جنوب لویدیځ، شمال لویدیځ او شمال ختیځ کې زیاته رواج لري او مشهورې ژبې یې پښتو، دري، بلوڅي، اورمړي

او پاميري غلچه يي ژبه يعنې غرنی ژبې دي. په هندي ژبه کې گوربتي، کلشه يي، تيرايي، سندي او پنجابي شاملې دي. رويدا ژبه چې د آريايي هندي گروپ ترمنځ يوه ځانګه ده چې کتي، بشکلي، واېگلي، پرسيني، اشکوني، پشه يي، پراچي اونورستاني په کې شاملي دي چې په عمومی ډول د نورستان او دهغه د شاوخوا خلك پرې خبرې کوي.

د افغانستان نورې ژبې ترکي او مغولي دي چې د وه لړۍ په کې شاملې دي. يوه لړۍ هغه ژبې دي چې په مرکزي آسيا پورې اړه لري لکه ازبيکي، قزاقي او قرغزي. دويمه لړۍ يې په جنوب لويديځ پورې اړه لري چې ترکمني او آذري احتوا کوي.

## ۳.۳. د ژبو جغرافيايي ويش:

د افغانستان ژبې چې خلك په يوه سيمه کې پرې خبرې کوي په لاندې ډول دي:

- **پښتو**: هغه کسان چې په پښتو خبرې کوي، تقريبا په ټول هيواد کې استوګن دي. خو زياتره پښتانه د افغانستان په ختيځو، جنوبي او جنوب ختيځو سيمو کې استوګنه لري. د اژبه ډېرې لهجې لري چې د مشرقي او کندهاري لهجې يو له بل څخه توپير کوي.
- **دري**: د هېواد د ډېرو پخوانيو ژبوڅخه ده د هېواد زيات شمېر خلك په مختلفو لهجو له دې ژبې سره آشنايي لري. څه نا څه په ټول هېواد کې ور سره بلديت لري.
- **بلوڅي**: د هلمند،گود زېرې، صابری هامون او هېواد دلويديځ سرحدونو يو شمېرخلك پرې خبرې کوي.
- **ازبکي**: د هېواد په شمالي ولايتونو کې يو شمېر خلك پرې خبرې کوي.
- **ترکمني**: يو شمېرخلك د هيواد په شمال او شمال لويديځ کې د هرات تر ولايته پورې پرې خبرې کوي.
- **پراچي**: يو شمېرخلك د نجراب په يوه دره کې چې د تگاب له اله سای سره نښتې ده، پرې خبرې کوي.
- منجي ژبه د بدخشان په منجان، واخي په واخان، سريگي د واخان په شمال، سنگليچي د منجان په ختيځ او د بدخشان د زيباك په جنوب، زيباکي ژبه د بدخشان په زيباك، اشکاشمي د بدخشان په اشکاشم، شغني د بدخشان په اشکاشم او په شغنان،رو شاني اوو اشري د بدخشان په لويديځ او دپنج د سيند په غاړه کې او قرغزي ژبه په کوچني پاميرکې مرو جې دي.
- کته وايگلي، شکوني او پاروني په نورستان کې، گوربتي ژبه په ختيځ نورستان، پشه يي ژبه په نو رستان



(c) ketabton.com: The Digital Library

کې د لغمان په درو، تګاب، نجراب، کوهستان، کاپیسا او پغمان، تیراهي د خیبر په لویدیځ او ډکه اوجتې د جتټا نو ژبه ده.

• په سندی، لهندا او پنجابی اهل هنود خلك خبرې کوي.

• اورمړي په لوګر، براهوي د چخانسور د شورابك په شاو خوا سیمو کې رواج لري. مغلي، او آذري ژبې اوس له منځه تللي دي. خو قزاقي د بلخ دو لایت په ځینو سیموکې شته.

له پښتو او دري سره د افغانستان اکثریت خلك آشنایي لري او د دولت رسمي ژبې دي. په هغو سیمو کې چې اکثریت خلك یې له ازبکي، ترکمني، پشه یي، نورستاني، بلوچي ګوجري او یا پامیري ژبو څخه په یوه ژبه خبرې کوي، هلته پر پښتو او درې سربېره سیمه ییزه ژبه هغو سیموکې د دریمې رسمي ژبې په توګه دي.

## په ټولګي کې د ننه فعالیت:

ز ده کوونکي په ډلوو ویشل شي، هره ډله دې له لاندنیو موضوعګانوڅخه په یوه موضوع پخپلو منځو کې بحث وکړي. یو تن دې د خپلې ډلې په استازیتوب، موضوع په ټولګي کې شرحه کړي.

• د افغانستان خلك په کوموژبو خبرې کوي. کومې ژبې دکوم دلیل له مخې رسمي دي؟
• اندو اروپایي ژبه په څو برخو ویشل شوې ده؟د هر ګروپ مشهورې ژبې له سیمو سره واضح کړئ.
• درویدا، ترکې او مغولي ژبو په باره کې معلومات ورکړئ
• بلوڅان، ازبیك اوترکمن د افغانستان په کومه سیمه کې ژوند کوي؟
• په بدخشان اونورستان کې کومې ژبې رواج لري؟

## پوښتنې:

۱. د افغانستان هندوان په (          )، (          ) او (          ) ژبو خبرې کوي.

۲. پشه يي ژبه دهېواد په کومو سيمو کې رواج لري.

۳. اوس کومې ژبې له منځه تللي دي او ويو نکي نه لري؟

۴. ولې پښتو اودرې رسمې ژبې دي؟

۵. کومې ژبی په کوم دليل د درې يمو رسمي ژبو حيثيت لري؟

## له ټولګي څخه بهر فعاليت:

د افغانستان مهمې ژبې په ترتيب په يوه جدول کې وليکئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۴,۱ – د مواصلاتو اهمیت:



په پورتني انځور کې کومه لویه لاروینځ

مواصلاتی لارې د ټولنې او یوه هېواد داقتصادي، ټولنیز او په پای کې سیاسي،کلتوري او اداري پرمختګ بنسټ ګڼل کېږي، ټولې اقتصادي اړتیاوې(کرنیزې، صنعتي او تجارتي)، ټولنیز، فرهنګي او سیاسي د مواصلاتي کړښو دترقی او پرمختګ پرته امکان نه لري.



(c) ketabton.com: The Digital Library

د يوې هوسا ټولنې اقتصادي او صنعتي پرمختيا د مواصلاتي کرښو او نقليه وسيلو په پرمختګ او ترقۍ پورې اړه لري.

مخ پرودې هېوادونه چې د اقتصادي او صنعتي پرمختګ لومړني پړاوونه وهي، تر ټولو لومړی بايد مواصلاتي او ترانسپورتي شرايط چمتوکړي، چې توليدي او تجارتي وسايل اوکسب او کار وده اوپراختيا ومومي. افغانستان د مخ پرودې هېوادونو په ډله کې وچې پورې تړلی او غرنی دی . سيندونه يې هم دزيات خوړي او سيلابي رژيم په درلودلو دبېړيو دچلولو لپاره برابرنه دي. نو له همدې امله دځمکني مواصلاتي او هوايي سکتورونو وده دهېواد دبنسټېزو اړتياوو څخه دي. له منظمې مواصلاتي شبکې پرته هر اړخېزه اقتصادي او ټولنيزه وده ممکنه نه ده. مواصلاتي لارې ښارونه او سيمې يو له بل سره نښلوي . اومه او د انرژۍ توليدوونکي مواد صنعتي مرکزونو او صنعتي اوکرنيز محصولات بازارونو او استهلاکي مرکزونو ته ليږد وي.

په دې برخه کې پانګه اچونه د يوه هېواد داقتصاد بنسټ جوړ وي، چې په ټول هېواد کې د اقتصادي، سياسي، فرهنګي او اقتصادي پلان جوړونې د ودې او پراختيا سبب ګرځي .

په لنډه توګه د مواصلاتو د اقتصادي اهميت په هکله ويلی شو چې:

- د منظمو ترانسپورتي لاروڅخه دګټې اخېستنې په سبب بازارکې دکاليو بيه کمېږي.

-د سون دموادو په لګښت کې سپما کېږي او د سوداګرۍ مالونه د وخت له ضايع کېدلو پرته بازارنو ته لېږدول کېږي.

- بېلا بېل قومونه ديواوبل له دود او دستور څخه خبرېږي. د هېواد ملي يووالی تامينېږي.په ضمن کې په ستونزواخته سيموته په چټکۍ مرستې استول کېږي.

- د ترانسپورتي لارو په نه شتون کې سربېره پردې چې پورتني هدفونه لاس ته نه راځي بلکې د فرهنګي او د ښوونې اوروزنې د وروسته والي سبب هم کېږي.

زموږ په هېواد کې په تيرو وختونوکې د پورتنيو ستونزو په درک سره پخپلوپنځه کلنو پلانونوکې ډېره پرمختيايي بودجه، د موجود سړکونو د جوړولو لپاره بېله شوې وه. په وروستی تېل شوې له درې لسيزو څخه په زياته اوږده داخلي جګړه کې ټولې مواصلاتي شبکې ويجاړې شوې اودهغو دويم ځلي



(c) ketabton.com: The Digital Library

جوړولوته اړتیا پیښه شوه. نو له همدې امله د موقت حکومت له تشکیل څخه وروسته د توکیو – جاپان په کنفرانس کې دهېواد دلویو لارو جوړولو او پراختیا لپاره د اقتصادي زیربنا په توګه دلومړیتوب حق ورکړل شو. اوس دحلقوي لویې لارې ۸۰ سلنه او له بندرونو سره نښلول یې بشپړ شوي دي. په همدې ډول یوله بل سره د ولایتونو او له مرکز سره دولسوالیو نښلول دوام لري.

له بلې خوا په پام کې دي چې ترانزیتي کرښې دشمال او لویدیځ ګاونډیانو سره فعالې شي او زموږ دهېواد د سوداګرۍ اړیکې به په منطقه کې پراختیا ومومي.

### په ټولګي کې د ننه فعالیت:

زده کوونکي په مناسبو ډلو کې تنظیمېږي. یوه ډله د مواصلاتو اهمیت د هېواد داقتصادي زیربناءپه توګه او دویمه ډله دهېواد په اقتصادي او ټولنیزې ودې کې د مواصلاتو برخه تر بحث لاندې نیسي، د زده کوونکو دفعالیت پایلې د ډلې یو غړی، ټولګي ته وړاندې کوي. په پای کې ښوونکی د ډلې د فعالیت پایلې د خپلو معلوماتو په ورزیاتولو را ټوله وي .



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پوښتنې:

په لنډه توګه ځواب ورکړئ:

۱ - زموږ په هېواد کې ځمکني اوهوايي ترانسپورت ولې د مواصلات له نورو برخو څخه ښه وده کړې ده؟

۲ -ولې په تیرو پنځه کلنو پلانونو کې زیاته پاملرنه دمواصلاتو ودې ته راګرځول شوې وه؟

۳ -ولې د توکیو جاپان دهمکاریو په کنفرانس کې زیاته پاملرنه دهېواد د لویولارو بیا جوړولو ته اړول شوې وه.

## له ټولګي څخه بهر فعالیت:

د ځمکنیو مواصلاتو اهمیت دهېواد د اقتصادي ودې له مخې په خو کرښوکې ولیکئ او د جغرافیې دمضمون په راتلونکي ساعت کې یې له ځانه سره راوړئ اوپه ټولګي کې یې و لولئ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲,۴ـ ځمکنی حمل او نقل




**ایا پوهیږئ چې موټر کله زموږ هېواد ته وارد شو؟**

د حمل و نقل دیو منظم مواصلاتي سیستم شتون د تولیز اواقتصادي(صنایعویه ګډون)پرمختیابنسټ جوړوي او په هېواد کې د تولنیز، اقتصادي یووالي درامنځته کیدو سبب ګرځي اود خدماتي موادو او اطلاعاتو دانتقال لپاره اسانتیاوې جوړوي. په ملي سویه سوادګري پرمختګ کوي اوله هغې سره یوځای د پرسونل استخدام او عواید هم زیاتیږي.د ژوند سویه هم لوړیږي. ددې ډول زیر بناوو شتون په افغانستان کې، دځمکې د جغرافیایي جوړښت په پام کې نیولو سره چې په ځانګړو او جلا سیمو ویشل کیږي، د حمل ونقل اسانتاوې فوق العاده ارزښت لري. په تیره بیا د صنایعو پراختیا، چې له هغې پرته صنعتي موسسو ته داومو موادو او انرژي تولیدوونکي مواد او دهغو تولید ات استهلاکي سیموته انتقالیدای نه شي.

د منځنۍ آسیا په جنوب کې دافغانستان دجغرافیایي موقعیت په پام کې نیولو سره د تاریخ له ډیرې پخوا دورې څخه د یوې اوږدې مودې لپاره د ختیځ او لویدیځ او دشمال او سویل تر منځ دسوداګرۍ اړیکو په تامین کې ډیر اهمیت لري.ددې تجارتي او فرهنګي اړیکو دوام د هېواد د ژوندانه دسویې په لوړولو کې داقتصاد او فرهنګ له پلوه ډیر مهم رول لوبوي. له میلاد څخه مخکې په خلورمه پیړۍ کې د یوځي یرغل په پای کې د یونان او هند ترمنځ سوداګریزې اړیکې د افغانستان له لارې تآمین شوې وې. په لومړي میلادي کال کې د یونان باختري پاچاهانو په وخت کې افغانستان د سوداګرۍ اړیکو په

تأمین کې لوړ مقام درلوده، بلخ دهغې لارې د نښلیدوځای ګڼل کیده.

په همدې ډول د وریښمو او در ملولاره ( دکوشانیانود امپراطورۍ په دوره کې) له دې هېواد څخه تیریده. نو له همدې امله دبلخ ښار د لویدیځ ( اروپایي) او ختیځ ( دچینایي او هندي) کالیو د تبادلې مرکز و.

د امیر عبدالرحمن خان د حکومت په وخت کې د نوو کاروان سرایونو ابادول او په هېواد کې دننه د سوداګرۍ دمحصول لغوه کیدل دسوداګرۍ او اقتصاد لپاره زمینه برابره کړه. انګلیسانو له کراچی څخه ترکویټې (چمن) پورې د اوسپنې کرښه و غځوله، خو د هېواد خارجي تجارت ته پاملرنه و نه شوه.

تر ۱۹۳۰ م کال پورې چې د ۱۳۰۸ لمریز کال سره سمون خوري ټول مسافرتونه په پلې ډول وو او یا ورل او راوړل د حیواناتو په مرسته سرته رسیده. له هغې څخه وروسته په حمل ونقل کې له عصري وسایلو څخه ګټه اخېستنه په چټکۍ وده وکړه.

په ۱۹۰۹م کال کې د امیرحبیب اله خان په دوره کې دلومړي ځل لپاره موټرونه د دملر له کمپنۍ څخه په ممبیي (بمبیي)کې وپیریدل شول اوپه کابل کې په کار واچول شول.(۵۷) تنه کارګران هم بمبیی ته واستول شول چې د موټرو تخنیکي کارونه زده کړي. په دې ډول د موټروشرکت د در باریانو له خوا جوړ شو. دیادونې وړ ده، چې بایسکل مخکې افغانستان ته وارد شوی و.

دکاروانونو د تګ او راتګ لارې تر میم شوې. د موټرولپاره نوې سړکونه د کابل – جلال آباد، جلال أباد- لغمان ، کابل ـ جبل السراج، کابل – لوګر او کابل – غزني ترمنځ جوړ شول. د ټول هېواد په ښارونو کې کاروان سرایونه دسراجیه رباطونو په نوم په خلکو ودان شول. د دوه رباطونوتر منځ واټن شپږ کروه (تقریباً د ۱۸ کیلومتره) و. په دې سر ببره د سیندو له پاسه عصري پلونه د مو ټرو د تګ او راتګ لپاره جوړ شول.

د امانیه په دوره کې او له هغې څخه وروسته ځمکنیو مواصلاتو ته زیاته پاملرنه وشوه. دسړکونو جوړول او د مواصلاتي کرښو پر مختیا یولازمي امر وګڼل شو.ځرنګه چې افغانستان په وچې پورې تړلی هېواد دی او سمندر ته لاره نه لري . نو له همدې امله په هېواد کې دننیو او بهرنیواړیکو د تامین لپاره له ځمکني او په دویم پړاوکې له هوایي ترانسپورت څخه اغېزمنه طریقه نه شته.

دځمکنیو ترانسپورتې لارو د جوړولو او پراختیا په مخکې زیاتې ستونزې شته چې ځینې یې په ګوته کوو.

- د هېواد طبیعي جوړښت او غرنی بڼه.



(c) ketabton.com: The Digital Library

- د غرنی او دښتي سيمو بيل اقليمونه.

- د عصري وسايلو،فني پرسونل او پوره پانګې نشتوالی.

لکه څرنګه چې تاسې پو هېږئ زموږ د هېواد درې په څلورمه برخه غرنی ده.دغه غرونه د شمال ختيځ څخه د جنوب لويديځ په لور ديوه طبيعي ديوال په توګه پراته دي او هېواد يې په دوه شمالي او جنوبي برخو ويشلی د ی. زياتره کوتلونه يې له ۳۰۰۰ مترو څخه زيات لوړوالی لري، چې د کال په زياته موده کې په واورو پټ وي او د تګ او راتګ په وړاندې خنډ ګرځي. زياتې درې يې له شمال څخه جنوب ته چې سور يې لږ دی د سيندونو په اوږدو کې پرتې دي،چې دتګ او راتګ په وړاندې ستونزې جوړوي. په همدې ډول غرنی سيمې او پراخه شګلنې دښتې هم د ځمکنې ترانسپورت د پراختيا په وړاندې ستونزې جوړوي، چې زياتې پانګې، عصري وسايلو او فني پرسونل ته اړتيا لري.

دهېواد دسيندونو بهيرونه او مسيرونه ، سره له دې چې دکاروانې لويو لارو په غځولو کې اغېز منه مرسته کړې ده. خو دځمکنې ترانسپورت په غځولو او پر مختګ کې يې ستونزې را منځته کړې دي. ددې تر څنګ چې ځينو ځايونو کې درې دومره تنګې دي، چې يوازې دسيند د بهيدو لاره يې جوړه کړې ده لکه ماهيپر، درونټه، سالنګ او داسې نور، چې په ځينو ځايونو کې د غرونو د توږلو او دتونل دکيندلو لپاره اړتيا پيښيږي. سيندونه هم کرېږي او تاوراتاوېږي او سړکونه بايد څو ځله دسيند له پاسه تيرشي. سر بېره په دې بايد بېشماره پلونه ا و استنادي ديوالونه دواورې د ښوييدو په وړاندې جوړ شي.

نو له همدې امله ددې ستونزې د حل لپاره زيات وخت، پوره پانګې او فني پرسونل ته اړتيا ده.

ددې ټولو ستونزو سره سره ځمکنی ترانسپورت له ټولو نورو ترانسپورټونو څخه ارزن اوګټور دی.

د اوسپنې دکرښو دپرمختګ په وړاندې پاسنې يادشوي خنډونه د پاملرنې وړ دي، چې دهغې له مخې زموږ په هېواد کې داوسپنې کرښې نه وې جوړې شوې. خو په پام کې ده چې دګاونډيو هېوادونو (ايکو او سارک) په مرسته دغه ستونزه په را تلونکي کې حل شي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په ټولګي کې د ننه فعالیت:

زده کوونکي دې په مناسبو ډلو کې تنظیم شي، هره ډله دې په هېواد کې د مواصلاتو په رول د اقتصادي او ټولنیزې زیر بنا په توګه په خپلو منځوکې بحث وکړي اود خپلو بحثونو پایلې دې یو زده کوونکی ټولګېوالو ته بیان کړي او ښاغلی ښوونکی دی د بحث پایلې،دخپلو معلوماتوسره را ټوله کړي.

## پوښتنې:

په لنډه توګه جواب ووایاست:

۱-د خپل هېواد د ځمکني ترانسپورت د پرمختګ په وړاندې ستړې ستونزې په لنډه توګه توضیح کړئ.
۲-ولې ځمکني ترانسپورت له نورو ترانسپورتي ډولونو څخه په هېواد کې زیاته پراختیا موندلې ده؟
۳-د هېواد په اقتصادي پر مختګ کې د ځمکني ترانسپورت اهمیت توضیح کړئ.

لاندنی جملې بشپړې کړئ:

۱- موټر لومړ ی ځل لپاره د...............حکومت په دوره کې هېواد ته وارد شو.
۲-د لومړي ځل لپاره د افغانستان له لارې د هند اویونان تر منځ د ..................
دحکومت په وخت کې تأمین شوی وی.

سم ځوابونه د (س) په توري او غلط ځوابونه (ن) په توري په نښه کړي:

۱- ایا زموږ دهېواد جغرافیایي موقعیت د ختیځ او لویدیځ تر منځ د تجارتی اړیکو په تآمین کې ډیر اهمیت لري؟
۲-ایا د موټر لپاره د سړکونوجوړول د امیر عبدالرحمن خان د حکومت په وخت کې پیل شول؟

## له ټولګي څخه بهر فعالیت:

د هیواد د اقتصادي، ټولنیزې او کلتوري پراختیا په هکله د ځمکني ترانسپورت اهمیت په څو کرښو کې ولیکئ او د جغرافیې د مضمون په را تلونکي ساعت کې یې ټولګیوالو ته ولولي.

شپاړسم لوست :

## الف: څو ډوله ترانسپورتي وسايل پېژنئ؟



**پورتنيو عکسونو ته په غور وګورئ چې دغه وسايل د ترانسپورت په کوم ډول پورې اړه لري؟**

د ځمکني ترانسپورت اصطلاح هغو وسيلوته ويل کېږي چې د ځمکې د و چې برخې له پاسه حرکت کوي، لکه دباروړلو حيوانات، بايسيکل، موټر سايکل، موټر ( لارۍ، بسونه، ميني بسونه، او ګرځندي موټرونه) او اورګاډي له ټولو ډولونو سره.

ددغو وسيلو په اختراع سره دسيمو او هېوادونو تر منځ واټن لنډېږي. هغه واټنونه چې کاروانونو په اونيو کې وهل، اوس ددې وسيلو په مرسته، څو ساعتونو ته را لنډ شوي دي. همدارنګه له دې وسيلو څخه په ګټه اخېستنې درانه تجارتي مالونه، چې پخوابې د لېږدېدو توان نه وو، اوس په اسانۍ لېږدول کېږي.

بايسکل د ترانسپورت ډېره ګټوره وسيله ده. هره ورځ په نړۍ کې په ميليونونو انسانان ورڅخه ګټه اخلي. آن داچې په ځينو هېوادونو کې يې دبايسکل دچلولو لپاره ځانګړې جادې هم جوړې کړې دي.

دلومړي ځل لپاره بايسکل يوانګليسي پوه کنت دوسواک په ۱۷۹۰م کال کې اختراع کړ، چې دوه څرخونه او يو چوکاټ يې درلود. اوس دنړۍ په هېوادونو کې په سلګونو ډوله بايسکلونه جوړېږي، چې نه يوازې ترانسپورتي وسيله ده، بلکه دسپورت لپاره هم ګټور دي.د سون مواد نه لګوي، داستوګنې چاپيريال نه ککړوي.د چين دخلکو دځمکني ترانسپورت زياته برخه په تيره بيا په ښارونو کې بايسکل جوړوي.

زموږ هېواد ته بايسکل له موټر څخه مخکې د امير حبيب اله خان د حکومت په وختکې واردشو.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس په زرګونو تنه خلك ور څخه ګټه اخلي.

بله وسیله چې له موټر سره ورته ده، خو دکوچني ماشین په مرسته، چې لږ تیل لګوي فعالیت کوي، د موټر سایکل په نوم یادیږي. څرنګه چې دتیلو لګښت یې لږ دی نو له همدې امله زیاته ګټه ورڅخه اخېستل ګېږي. زموږ په هېواد کې یې استعمال له بایسیکل څخه وروسته دی .

د ۱۸ م پیړۍ په دویمه نیمایي کې د بخار ماشین په کشف سره، سمنګتن د انتقالولو یوه وسیله جوړه کړه، چې دبخار په واسطه یې حرکت کاوه چې دغه لومړنی جوړ شوی موټر ګڼل کېږي.

په انګلستان کې زیاتې انتقالاتي وسیلې جوړې شوې، خو د ډېرو سکرود لګولو له امله یې زیات لوګی کاوه او د تخنیکي نیمګړتیاوو له مخې یې زیات ټکرونه کول.

د ۱۹ م پیړۍ په دویمه نیمایي کې داسې موټر اختر اع شو چې په نفتو یې حرکت کاوه. زموږ په هېواد کې کله چې مستر دین د برتانوي هند د خارجه چارو وزارت سکرتر په۱۹۰۴زیږدیز کال په ډسمبر کې کابل ته سفر کاوه د نورو سوغاتونو تر څنګ یې یوه عراده موټر هم امیر حبیب اله خان ته ډالۍ کړ، چې ۷۰۰ سټر لنګ پونډه ارزښت یې در لوده. په هغه موټر کې د تیلو پر ځای لرګي سوځېده او ماشین ته یې حرکت ورکاوه.

اوس زموږ هېواد ته بیلابیل ډوله موټرونه وارد شوي دي لکه باروړونکي موټرونه ( لارۍ، د طبیعي ګاز اوتیلو ټانکرونه) ،کوچني اولوی بسونه اوګړندي موټرونه چې د نړۍ د ډېرو عصري کمپنیو څخه پېرودل کېږي.

د اوسپنې کرښه د مالونو د وړلو او راوړلو ډېره پخوانۍ وسیله ده، چې دبخار د ماشین په واسطه په کار اچول شوې او داوسپنې کرښې ورته غځېږي او نن سبا د څمکنې حمل ونقل ډېره ستره وسیله ده .

په ۱۳۰۵ لمریز کال کې د شاه امان الله خان په دوره کې، کله چې د دارالامان عصري ښار جوړول پېل شول، د خلکو او تعمیراتي مالونو د انتقال لپاره یو کوچنی اورګاډی د اوسپنې کرښې سره هم هېواد ته وارد شو چې دا کرښه د شاه دو شمشیره له زیارت څخه د دارالامان تر ماڼۍ پورې غځېدلې وه.دغې اورګاډي د بخار یو انجن (ماشین) او څو ډبې در لودې او هره ورځ به یې خلك او کالي په دې کرښه انتقالول . تراوسه یې نښې دکابل په موزیم کې شته.دغې کرښې له ۸-۷ کیلومترو پورې اوږدوالی در لوده اوتر ۱۳۰۷لمریز کال پورې فعاله و. د شاه امان اله خان له سقوط څخه وروسته، د هغه وخت حکومتونو د اوسپنې کرښې له جوړولو او غځولو سره مینه ښکاره نه کړه.

دیادونې وړ ده چې په هېواد کې ټولې ترانسپورتي تصدیګانې د ملي بس څخه پرته منحل اعلان شوې، دا تصدي د زرو څخه د زیاتو بسونو په در لودلو د کابل ښار په دننه او دهېواد په ولایتونو کې فعالیت کوي او همدارنګه په نظر کې لري چې د بریښنا یي بسونو پروژه چې دکابل ښار په داخلي جګړو کې ړنګه شوې وه دویم ځلي احیاکړي. بریښنایي بسونه سربېره پردې چې لږ لګښت لري د ژوند چاپیریال هم نه ککړوي.

## اضافي معلومات ( د مطالعې لپاره):

ځمکنی ترانسپورت په ځانګړي ډول د وسايطو واردولو د يادونې وړ پر مختګ کړی دی. په ۱۳۸۵لمريز کال کې د ټولو ثبت شوو موټروشمېر ۶۰۶۹۴۴ عرادو ته رسېده دا شمېر په ۱۳۸۶لمريز کال کې ۸۷۳۷۰۱عرادو ته لوړ شو چې ۸/۴۳سلنه ډېروالی رابنيي. شخصي او ټکسي موټر ډېر زياتوالی ښکاره کوي او همدارنګه لاری د ۱۱۷۴۶۰څخه ۱۳۵۴۴۶ او بسونه د ۴۸۵۱۳ څخه ۵۸۰۴۹ عرادو ته لوړ شوي.

| ځمکنی ترانسپورت | | | | |
|---|---|---|---|---|
| خصوصيات | د مقياس واحد | ۱۳۸۴ لمريز کال کې | ۱۳۸۵ لمريز کال کې | ۱۳۸۶ لمريز کال کې |
| ټول موټرونه | عرادې | ۴۸۶۱۴۱ | ۶۰۶۹۴۴ | ۸۷۳۷۰۱ |
| دولتي سکتور | عرادې | ۲۸۵۱۰ | ۳۰۲۵۱ | ۳۳۳۰۶ |
| خصوصي سکتور | عرادې | ۴۵۷۶۳۱ | ۵۷۶۶۹۳ | ۸۴۰۳۹۲ |
| لاری | عرادې | ۱۰۰۸۸۳ | ۱۱۷۴۶۰ | ۱۳۵۴۴۶ |
| دولتي سکتور | | ۱۱۳۴۱ | ۱۱۹۰۸ | ۱۲۹۱۵ |
| دخصوصي سکتور | عرادې | ۸۹۵۴۲ | ۱۰۵۵۵۲ | ۱۲۲۵۳۱ |
| بسونه | عرادې | ۴۱۷۱۳ | ۴۸۵۱۳ | ۸۰۴۹ |
| دولتي بسونه | عرادې | ۳۳۶۸ | ۳۵۸۶ | ۴۲۱۳ |
| ګرځندي موټرونه | عرادې | ۲۶۲۷۰ | ۳۱۴۱۶۵ | ۵۱۷۶۰۱ |
| دولتي سکتور | عرادې | ۱۲۵۷۹ | ۱۳۲۳۳ | ۱۴۵۰۱ |
| موټر سيکلونه | عرادې | ۶۴۸۱۷ | ۱۰۸۲۸۲ | ۱۲۷۹۵۹ |
| دولتي سکتور | عرادې | ۱۲۲۲ | ۱۵۲۱ | ۱۶۷۷ |
| په هېواد کې د بهرنيو اتباعو و سايط | عرادې | ۱۲۶۶۸ | ۱۳۲۹۶ | ۲۵۷۹۴ |

۱۳۸۶ لمريز کال در مرکزي احصايې د ادارې د کلنی احصايې ۲۰۵مخ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په ټولګي کې د ننه فعالیت:

زده کوونکي دې په مناسبو ډلو وویشل شي او ټولې ډلې دې په ټولنه کې د ځمکني ترانسپورت په اهمیت اوهمدارنګه دهغه دبېشانه زیاتوالي اغېزې دې د ژوندانه په چاپېریال باندې روښانه کړي او دډلې یو غړی دې د بحثو نو پایله هم ټولګیوالو ته بیان کړي.

## پوښتنې:

په لنډه توګه یې ځواب کړئ:

۱-د ځمکني ترانسپورت د وسایلو ډولونو نومونه واخلئ.

۲-د ترانسپورتي وسیلو اختراع کومې اسانتیاوې رامنځته کړې دي؟

لاندنی جملې بشپړې کړئ:

الف: د بایسکل مخترع ..............دی.

ب: زموږ هېواد ته موټر د برتانوي هند د بهرنیو چارو دسکرتر ............................ سفر په وخت کې کابل ته راوړل شو.

سم ځواب په نښه کړئ:

الف: بایسکل د انتقال ګټوره وسیله ده چې د ژوندانه چاپېریال نه ککړوي.

ب: پخوانی ټولې ترانسپورتي تصدۍ منحل شوې دي.

ج: د اوسپنې کرښه د امان اله خان د پاچاهي په دوره کې افغانستان ته وارد شوې وه .


## له ټولګي څخه بهر فعالیت:

زموږ په هېوادکې د ځمکني ترانسپورت (د اوسپنې کرښې) د سترې وسیلې د اهمیت په هکله تبصره ولیکئ او د جغرافیې په راتلونکې ساعت کې یې ټولګیوالوته بیان کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوولسم لوست:

## ب: د افغانستان د لویو لارو په هکله څه پوهېږئ؟




لویې لارې په یوه هېواد کې، دبدن لپاره د وینې د شریانونو په معنا دي.هغه هېوادونه چې په هغو کې لویې لارې لږې پر مختللې دي، په واقعیت کې په هغه هېواد کې تولنیزه او اقتصادي وده په ټپه دریدلې او د اقتصادي څرخ بیلې برخې لکه صنعتي تولیدات، کرنیز محصولات، عرضه او تقاضا، په بازار کې پېرودل او پلورل، مسافرتونه اوگرځېدنه له یوه ځایه څخه بل ځای ته تلل او راتلل په بشپړ ډول له ستونزوسره مخامخ کېږي. هېواد او اړونده ټولنه په بشپړ ډول په فرهنگي او اقتصادي انزوا کې واقع کېږي.

ددې لپاره چې زموږ هېواد د اقتصاد او ټولنیز فعالیت له امله ارزښتمنده خوځښت ولري، باید په هېواد کې دننه د ټولو ولایتونو، ولسوالیو او کلیو ترمنځ او له هېواد څخه د باندې له گاونډیو هېوادونو سره سیاسي او اقتصادي دوامداره تماسونه ټینگ کړو،نو اړین برېښي چې مواصلاتي برخې ته یې ځانگړې پاملرنه وشي.

د امان اله خان او محمد ظاهر خان د پاچاهي په دوره کې، په تیره بیا د محمد داوود خان دصدارت په دوره کې ډېره هڅه وشوه چې هېواد له اقتصادي او ټولنیز ي انزوا څخه وژ غوري. په ټولو پنځه

کلن پلانونو کې د لويو لارو جوړولته، د اقتصادي زير بنا په توګه،ځانګړې پاملرنه وشو ه. په پنځه کلن لومړي پلان (۱۳۳۰ - ۱۳۳۵ ) لمريز کال)، دويم پلان ( ۱۳۳۵-۱۳۴۰) او دريم پلان (۱۳۴۱-۱۳۴۵) کالوکې د پرمختيايي بودجې ۵۰ سلنه په لويو لارو و لګيده او له ۲۵۰۰ کيلومترو څخه زيات قير شوي او کانکريټي سړکونه جوړ شول.

خو په داخلي جګړوکې دغه ټولې جادې تر يوې اندازې پورې ويجاړې شوی، چې ترميم يې غوښته.

د پخوانيو لويو لارو پراختيا اود نوو لويو لارو جوړول، د دولت اساسي اړتياوې دي.

څرنګه چې خصوصي سکتور په دې برخه کې له پانګې اچونې سره مينه نه لري. نوله همدې امله دلويو لارو ترميم او جوړول د دولت په غاړه دي.

لوې لارې په دوه برخو ويشل کېږي:

۱- حلقوي لويې لارې چې په هغو باندې ترافيک له يوې نقطې پېل او له يو دوراني حرکت څخه دنامنظمې داېرې يا بيضوي ته ورته دايرې په بڼه، د پېل له نقطې سره نښلي. لکه دکابل – مزار شريف –شبرغان – ميمنه – بادغيس – هرات –کندهار – غزني ا و کابل حلقوي سړک.

۲-بېلې او پرېکړل شوې لارې، چې له حلقوي لويو لارو څخه جلا شوې دي لکه دکابل –خوست او داسې نورې لارې.

د هېواد مهمې لويې لارې عبارت دي له:

## د هېواد شمالي لويه لاره:

د مرکزي او شمالي و لايتونو د سوداګرۍ او مواصلاتو په بر خه کې، دغه لويه لاره ستره برخه لري. ددې پروژې ګټې په لاندې ډول دي:

۱- ددې لويې لارې په جوړيدو سره مرکزي ولايتونه مستقيماً له شمالي ولايتونو سره ونښلول شول. دغه لويه لار ه د ښکاري درې له لارې څخه چې ۴۰ کاله يې دهېواد شمالي سيمې د مرکزي او جنوبي سيمو سره نښلولې، ۲۰۰ کيلومتره لنډه ده. په پای کې ترانسپورتي لګښتونه او د موټرو استهلاک کمېږي او په لږ وخت کې حاصلات سوداګريزو مرکزونوته ورل کېږي.

۲-د هېواد دشمالي سيمو تو ليدي محصولات په جنوب کې لګښتي مرکزونو ته او صادراتي مالونه دهېواد شمالي بندرونو ته په ډېر لږ وخت کې ورل کيږي.

۳-يوشيمر فابريکې لکه د بغلان د بورې فابريکه، غوري سمنټ، دګلبهار، پلخمري، جبل السراج نساجي او داسې نور ې ددې لويې لارې په اړدوکې پرتې دي، دهغو توليدات د وخت له ضايع کيدو



(c) ketabton.com: The Digital Library

پرته دخرڅلاو بازارو نوته  او همدارنګه اومه مواد او د اړتیا وړ نور مواد یې له همدې لارې څخه انتقالېږي.

## د کابل – تورخم لویه لار:

دغه لویه لار د ترانزیټي لویو مشهورو لارو څخه ځانګړې اهمیت لري. دغه لویه لار د تورخم له لارې له پېښور سره نښتې ده له هغې څخه وروسته د اوسپنې د کرښې او قیر شوې لویې لارې په واسطه د کراچۍ له بندر سره اود هغې له لارې د هند د سمندر اوبو د نړیوالې لارې سره نښلي. له هغې څخه په ګټې اخیستنې زموږ د هېواد دسوداګرۍ ټول مالونه د هند هېواد او د آسیا، اروپا او امریکا نورو هېوادونو ته صادرېږي. د نړۍ دهېوادونو څخه وارداتي مالونه د ترانزیت له حق څخه په ګټې اخیستنې سره، زموږ هېواد ته واردېږي.

دغه لویه لار د فرعي قیرشوو لویو لارو په واسطه د کنړ، لغمان او نورستان ولایتونو او د ننګرهار له ولسوالیو سره نښتې ده.

ددې لویې لارې په اوږدو کې د بریښنا بندونه او د ننګرهار د کانال پروژه جوړه شوېده، چې د هغې په بشپړېدو کې یې ستر رول لوبولی دی. په همدې ډول د نوموړو ولایتونو تولیدي او کرنیز محصولات کابل او نورو استهلاکي مرکزونو ته انتقالېږي، چې په پای کې د نوموړو ولایتونو د اقتصادي پرمختګ سبب ګرځي.

## کابل – کندهار لویه لار:

دغه لویه لار  د ترانزیټي فعالیت له مخې د  هېواد دلویو لارو په ډله کې لومړی مقام لري، ځکه چې د کابل –کندهار لویه لار  دکندهار – سپین بولدک له لارې د چمن د اوسپنې کرښې پواسطه د کراچۍ او ګوادر ( د عرب د سمندرګي په غاړه پروت دی) له بندرونو سره نښلوي. همدارنګه د کندهار – هرات د لویې لارې پواسطه د تورغونډۍ د بندر په واسطه د ترکمنستان له جمهوریت سره، د اسلام کلا د بندر په واسطه چې په هرات کې پروت دی، ابونصر فراهي بندر چې په فراه کې موقعیت  لري، د نیمروز د ولایت د لارام – زرنج لویې لارې په واسطه د ایران اسلامي جمهوریت سره او د هغې لارې داوسپنې دکرښې په واسطه د ایران دهېواد د شاه بهار له بندر سره دعرب د سمندرګي نړیوالو اوبوته لاره پیداکوي. ددې بندر له لارې نه یوازې افغاني مالونه بلکې دمرکز ي آسیا دجمهوریتونو مالونه هم وارد اوصادرېږي.

د کابل –کندهار لویه لار، څو ولایتونه چې د تاریخي او تجارتي ځایونو لرونکي دي یو له بل سره نښلوي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

### د کندهار – هرات – تورغنډۍ (پخوانۍ قره تپه) لویه لار:

دغه لویه لاره د جوړښت له مخې ډېره عصري په کانکریټي ډول جوړه شوې وه. خو اوس د بیا رغونې په پایله کې قیر شوې ده. زموږ هېواد د ترکمنستان او د ایران اسلامي جمهوریت سره نښلوي. په همدې ډول دلویدیځو ولایتونو مرکزونو د نښلولو له مخې اهمیت لري، چې کندهار او هرات په مستقیم ډول او فراه، نیمروز او هلمند په غیر مستقم ډول نښلوي.

### هرات – اسلام قلعه لویه لار:

ددې لویې لارې اوږدوالی ۱۲۴ کیلومتره دی اود هرات ښار د اسلام قلعه له بندر سره چې له ایران سره د افغانستان په سرحد کې پروت دی نښلوي. دغه لویه لار له ایران، ترکیې اونورو اروپایي هېوادونو سره په سوداګرۍ کې زیات اهمیت لري.

### د پلخمري – شبرغان – فاریاب لویه لار:

دغه لویه لار د سوداګرۍ او اقتصاد له پلوه ځانګړې اهمیت لري او د هېواد د حلقوي لویې لارې برخه ده، چې د هېواد شمالي ولایتونه لکه بغلان، سمنګان،بلخ، جوزجان او فاریاب یوله بل سره نښلوي او د بادغیس د ولایت له لارې دهرات له ولایت سره نښلي. له هرات سره دهغې په نښلولودغه حلقوي لویه لار بشپړېږي . د هغې څخه د جلاشوو لویو لارو په واسطه د حیرتان،کلفت او د اندخوی د آقینې له بندرونو سره هم نښلي.

### د کابل- خوست لویه لار:

له ډېرو کلونو راهیسې ددویمې درجې لویې لارې په نامه یادیده خو کله چې دخوست د غلام خان د بندر سره وصل شوه او دهغې لارې د کرمې ایجنسی سره ونښته ځانګړې اقتصادي او سوداګریز اهمیت یې پیداکړ. د هېواد جنوبي ولایتونه لکه لوګر، پکتیا او خوست یې له کابل سره ونښلول.

### د کندز – بدخشان لویه لاره:

د هېواد مهم حاصل خیز کرنیز او صنعتي ولایتونه لکه کندز، تخار او بدخشان یو له بل سره نښلوي. همدارنګه دهېواد د شمالي لویې لارې په واسطه د حلقوي لویې لارې سره نښتي. په همدې ډول د کندز شیرخان بندر له لارې د تاجکستان له هېواد سره نښلي.

دهېواد دلویو لارو جوړول سربېره پردې چې دهېواد د بیلابیلو سیمو تر منځ اقتصادي او تجارتي اړیکې، نږدې کوي، بلکې دهغو له لارې د جنوبي او مرکزي آسیا دهېوادونو تر منځ دوستانه اړیکو



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې هم مهمه برخه لري.نو د همدې موقعیت له مخې یوځل بیا د افغانستان تاریخي اهمیت د جنوب ختیځې او مرکزي آسیا او مدیترانې د حوزې په نښلولو کې څرګند وي.

### اضافي معلومات د مطالعې لپاره

| شماره | لویه لار | اوږدوالی په کیلومتر |
|---|---|---|
| ۱ | کابل – کندز | ۳۳۷ |
| ۲ | کندز – شیر خان بندر | ۶۳ |
| ۳ | پلخمري ـ شیبرغان | ۳۶۰ |
| ۴ | شبرغان – میمنه | ۱۷۹ |
| ۵ | کابل – تورخم | ۲۳۲ |
| ۶ | کابل – جلال آباد | ۱۴۸ |
| ۷ | جلال آباد – اسعد اباد | ۹۰ |
| ۸ | سرخکان – مهتر لام | ۱۸ |
| ۹ | کابل – کندهار | ۴۸۳ |
| ۱۰ | کندهار –سپین بولدک | ۱۰۱ |
| ۱۱ | کندهار – هرات – تور غندی | ۶۷۹ |
| ۱۲ | هرات – اسلام قلعه | ۱۲۴ |
| ۱۳ | کندهار – هرات | ۵۶۷ |
| ۱۴ | کابل –ګردیز | ۱۲۲ |
| ۱۵ | ګردیز – خوست | ۱۱۴ |
| ۱۶ | کندز – تخار | ۷۰ |
| ۱۷ | تخار – بدخشان | ۱۶۹ |

### په ټولګي کې د نن فعالیت:

زده کوونکي دې په مناسبو ډلو وویشل شي او هره ډله دې دهېواد په مواصلاتي نقشه کې دیوې لویې لارې تګلوری وټاکي، چې کوم ولایتونه سره نښلوي لکه دکابل – کندهار، کندهار – هرات، پلخمري – هرات، کابل – تورخم اوداسې نور. هره ډله دې د فعالیت پایله خپلو ټولګیوالو ته بیان کړي. ښاغلی ښوونکی دې د ډلې دفعالیت پایلې د خپلو معلوماتو سره یو ځای را ټولې کړي.

### پوښتنې:

لنډ ځواب ورکړئ:

۱ - د منځمهالې اداري له جوړیدو وروسته ولې د لویو لارو پراختیا ته ځانګړې پاملرنه وګرځیده؟

۲ - د هېواد په اقتصادي پرمختګ کې د لویو لارو اهمیت توضیح کړئ.

۳ - د هېواد کومې ترانزیتي لارې د عرب سمندرګی له نړیوالو اوبو سره نښتي دي؟

لاندې جملې په خپلو کتابچو کې بشپړې کړئ.

۴ - دهېواد لویې لارې په سترو دوو برخو............... او............ ویشل شوي دي.

۵ - د شمال حلقوي لویه لار د............، ........ او ............بندرونو له لارې دتاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان دهېوادونو سره نښتې ده.

۶ - زموږ دهېواد د............،..............او........... لویو لارو له لارې دایران له هېواد سره نښتی دی.

### له ټولګي څخه بهر فعالیت:

د افغانستان نقشه رسم کړئ او په هغې کې دهېواد حلقوي لویه لار رسم کړئ او د جغرافیې د مضمون په را تلونکي ساعت کې خپلو ټولګیوالو ته وښئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۳,۴ د هوايي ټرانسپورت په هکله څه پوهېږئ؟




هوايي ترانسپورت د هېواد دلېږي پرتو سيمو او نړۍ‌په نږدې کولو کې ارزښتناکه رول لوبوي. خو دغه ترانسپورت د نورو ترانسپورټونو پرتله د انرژيکي موادو د ډېر لګښت له کبله په لوړه بيه تمامېږي خو سياسي،تجارتي او نظامي اړيکي په چټکۍ ټينګوي، نو له همدې امله هر هېواد د خپل مالي او اقتصادي شرايطو له مخې ددې سکتور ودې ته ډېر ه پاملرنه کوي.

لکه چې پوهېږو افغانستان غرنی هېواد دی. د هندوکش، بابا او فيروز کوه غرونو ديوه طبيعی حايل په توګه هېواد په دوو شمالي اوجنوبي برخو ويشلی دی. په دې سر بېره زموږ هېواد په وچې پورې تړلی دی. د لويو لاروغځول د خلکو اړتياته ځواب نه شي ويلای. نوله همدې امله دهوايي حمل ونقل اهميت زيات او دپاملرنې وړ دی. دغه هېوادله يوې خوا سمندر ته لار نه لري او له بله پلوه دغرونو په واسطه په کوچنيو او بيلو جغرافيايي سيمو و يشل شوی دی، چې دغه ډول طبيعي شرايط ټولنيز او آن سياسي ستونزې لري. د همدې اصل له مخې د اړتياوړ زياتره مواد په مناسب وخت په هېواد کې دننه او بهرکې مصرف کوونکو ته په ټاکلي وخت نه رسېږي.

زموږ هېواد دهوا نوردۍ فعاليت اوله الوتکو څخه د مسافرينو او تجارتي مالونو په وړلو او راوړلو کې ډېر لرغونتوب نه لري . د هوا نوردۍ دفعاليت پيل په **۱۳۰۶** لمريز کال د امان اله خان د پاچاهی په دوري پورې مربوط ګڼل کېږي چې د لومړي ځل لپاره يوې کوچنۍ روسي الوتکې په مياشت کې دوه ځله د کابل او ترمز ترمنځ په الوتنی پيل کړې و.

په **۱۳۱۷** لمريز کال کې د جرمني دلوفت انزا دکمپنۍ يوه درې ماشينه الوتکه له برلين څخه هرات اوکابل او له کابل څخه جاپان ته الوتنه کوله.

هوايي لومړنی شرکت په هېوادکې دآريانااافغان هوايي شرکت په نو م، دمسافرينو او تجارتي مالونو دحمل



(c) ketabton.com: The Digital Library

ونقل په منظور په **۱۳۱۷لمریز** کال کې جوړ او په فعالیت پیل وکړ. څرنگه چې پوره تاسیسات او امکانات يې نه درلودل، نو له همدې امله د هېواد اړتیاوو ته يې ځواب نشوویلای.نوبه **۱۳۳۵لمریز** کال کې دملکي هوانوردۍ رياست جوړ شو. دغې په جوړېدو سره په افغانستان کې د هوانوردۍ د پراختيا او پر مختگ لپاره زمینه برابره شوه. دهوانوردۍ رياست په کندهار، مزارشریف، هرات او جلال اباد کې دهوايي ډگرونو په جوړولو اقدام وکړ. بهرنۍهوايي نمايندگۍ هم دافغانستان له هوايي ډگرونو څخه گټه اخلي. له هوايي ترانسپورت څخه د مسافرينواو هغه مالونو او کاليو دانتقال لپاره گټه اخېستل کېږي، چې حجم يې لږ او ارزښت يې زيات وي.

## په ټولگي کې د ننه فعاليت:

زده کوونکي دې په مناسبوډلو وويشل شي او هره ډله دې دهوايي ترانسپورت د پرمختگ په اهميت او اړتيا بحث وکړي او پايلې دې دډلې يو غړی ټولگيوالوته وړاندې کړي.

## پوښتنې:

سمې جملې د (س) په توري او ناسمې جملې د (ن) په توري په نښه کړئ.

۱ - هوايي ترانسپورت د نورو ترانسپورټونو پرتله ډېره انرژي لگوي.

۲ -د ملکي هوانوردۍ رياست په جوړېدو سره دهوانوردۍ د پراختيا لپاره وخت برابر شو.

لاندې جملې بشپړې کړئ.

۱ -د هېواد دملکي هوانوردۍ فعاليت د........پاچاهی په دوره کې په ۱۳۰۶لمریز کال کې پېل شو.

۲ -د هېواد لومړني داخلي شرکت د..........په نوم په ۱۳۳۳لمریز کال په فعاليت پېل وکړ.

لنډ ځواب ورکړئ.

۱ -له هوايي ترانسپورټ څخه د کومومالونود انتقال لپاره گټه اخېستل کېږي؟

۲ -د هوايي ترانسپورټ د پراختيا لاملونه بيان کړئ؟

## له ټولگي څخه بهر فعاليت:

د هوايي ترانسپورټ د اړتيا او پراختياپه باره کې مقاله وليکئ اود جغرافيې دمضمون په راتلونکي ساعت کې يې له ځانه سره راوړئ او خپلوټولگيوالوته يې وړاندې کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

نولسم لوست:

## الف ــ د هېواد هوايي شرکتونه او ډګرونه



د کابل د نړیوال هوايي ډګر یوه برخه

دملکي هوايي رياست په ۱۳۳۵ لمريزکال کې جوړ شو، چې په هغه وخت کې يې دوه سترې موسسې دهوا پېژندنې او هوانوردۍ په نوم درلودلې چې د نړۍ د ملکي هوانوردۍ د موسسې غړيتوب يې هم درلود، چې دهغو دمالي او معنوي مرستو څخه يې په ټولو برخوکې ګټه اخيستله، دهوايي ډګرونو جوړول اومراقبت، دمخابرو اود دستګاوو او د هوانو ردۍ د وسيلو او ميترورولو ژی Meteorology د ستيشونو نصبول، دټولو تشبثاتو او د هوايي حمل و نقل د موسسو تنظيم او اداره، د ملکي هوانوردۍ اړونده دټولو مقرراتو او اصولنامو اجراکولو او په پای کې په نوموړو څانګو کې داړتيا وړ فني پرسونل روزنه، ددې رياست سترې دندې ګڼل کيدې.

### د کابل دنړیوال ډګر جوړول:

ددې ډګر د جوړولو کار په ۱۳۳۹ لمريز کال کې پيل شو، اوپه ۱۳۴۱ لمريز کال کې پای ته ورسيده، چې د دننيو او بهرنيو الوتکو ګټې اخيستنې وړ وګرځيد. په دې سربېره دغه ډګر يو عصري ترمينل چې په ټولو وسايلو سمبال دی لکه مخابره، هواپېژندنې، هوايي ترافيک،دګمرک څانګې،تعليمي مرکز، تخنيکي ورکشاپونه او داسې نور هم لري. دغه ډګر په وروستيو کلونو کې نور هم پراخه شو، په ۱۳۸۸ لمريزکال کې د جاپان دهېواد په مرسته ددې ډګر په لويديځه برخه کې نوی ترمينل چې په



(c) ketabton.com: The Digital Library

نوو وسایلو او ملحقاتو سمبال دی هم جوړشو.

په نورو ولایتونو کې دهوايي ډګرونو دجوړولو پلان هم عملي شو،په لومړي پړاو کې د کندهار، هرات،کندز او جلال اباد د ډګرونو جوړېدل پيل شول.

له هغې جملې څخه د کندهار هوايي ډګر د کندهار دښار د جنوب ختيځ په ۸ کیلو متری‌کې د سپين بولدك په لاره کې په يوه پراخه ساحه کې جوړ شوی. دغه هوايي ډګرد کابل د نړيوال هوايي ډګر په شان دهر ډول الوتکو دګتې اخيستنې لپاره مناسب دی. دا ډګر په ابتدايي او محلي ډول په ۱۳۳۰لمریز کال کې دګټې اخيستنې ورګرځېدلې و.

دکندهار هوايي ډګرپه ټولو عصري تاسيساتو لکه هو ټل، ترمينل، مخابراتي وسايلو اوداسې نورو سمبال دی.

په لنډه توګه ويلای شو چې په ۱۳۸۸لمریز کال کې تقریباً۳۷هوايي ډګرونه وو. چې له هغې ډلې څخه د کابل او کندهار هوايي نړيوال ډګرونه لومړۍ درجه پر مختللي تاسيسات او دالوتکو دمنډې قير شوی لارې لري.

د هرات، مزارشريف، جلال آباد او کندز هوايي ډګرونه د لړ ظرفيت په لرلو په دويمه درجه کې دي ترمينل او دالوتکو دمنډې قير شوی لارې لري نور ۱۴ هوايي ډګرونه دريمه درجه او ۷ نور څلورمه درجه کې راځي چې ترمينل او دالوتکو دمنډې خامه لارې لري د هغو سربېره پنځمه درجه هوايي ډګرونه هم په هېواد کې شته.

د يادونې وړ ده چې هغه عوايد چې دنړيوالو ډګرونو له مقررې سره سم دبهرنيو الوتکو له الوتنو څخه په ۱۳۸۸لمریز کال کې ددولت خزانې ته تحويل شوي دي په لاندې ډول دي:

۱- دهرې بهرنۍ الوتکې له ټول وزن څخه، ديو ټن( ۵۰۰) افغانۍ د دولت عوايدو ته تحويل شوي دي.

۲-دهرې بهرنۍ الوتکې له الوتنې څخه ترافيکې خدمتونه ( ۷۵۰۰) افغانۍ اخېستل شوي دي.

۳-هره بهرنۍ الوتکه چې له څلورو ساعتونو څخه زياته په هوايي ډګر کې تم شوې،د درولوکرایه د (پارکنګ ټکس) ور څخه اخيستل شوی دی.

۴-هره بهرنۍ الوتکه چې په ترانزيټي توګه زموږ دهېواد له فضا څخه تيرېږي، ( ۲۰۰۰۰) افغانۍ اويا دهغې معادل ۴۰۰ امريکايي ډالره ورڅخه اخېستل شوي دي.

## ب- د هېواد هوايي شرکتونه:

۱- د آريانا افغان هوايي شرکت لومړنی دولتي شرکت دی چې په ۱۳۳۳لمریزکال کې يې د



(c) ketabton.com: The Digital Library

مسافرانو او د سوداګرۍ دمالونو په حمل و نقل کې رسماً په فعالیت پیل کړی، لو مړنۍ پانګه یې درې سوه زره امریکایي ډالره وه، چې په هغې کې ۵۱ سلنه ددولت ونډه او ۴۹ سلنه د انډیمان شرکت ونډه وه.

د دې شرکت لومړنۍ الوتنې د DC-۳ الوتکې په مرسته چې د ۲۸ مسافرانو ظرفیت یې در لود له کابل څخه د کندهار،هرات او مزار شریف ښارونو ته یې الوتنه کوله.

دوه کاله وروسته دانډیمار لوی شرکت دپان امریکن په شرکت کې مدغم شو او کله چې DC -۴ او DC -۶ په نوم دوه الوتکې وپېرودلې شوې دآریانا شرکت نړیوالو هوایي ډګرونو ته لار پیداکړه. دآریانا افغان هوایي شرکت لومړنۍ بهرنۍ الوتنه له کابل څخه د بحرین په لور وه، چې د ۱۳۳۴ لمریز کال دغوایي په میاشت کې له ۲۸ مسافرانو سره سرته ورسېده.

د آریانا افغان هوایي شرکت سره له دې چې په درې لسیزو داخلي جګړو کې ډېر مالي، اقتصادي او کادري تاوانونه ولیدل، بیاهم ۴- ۲۱ AN الوتکه او۷۲۷- B څلور الوتکې ۳۰۰- Airbus یوه الوتکه او ۳۱۰ - Airbus نوی ماډل دوه الوتکې لري چې هره ورځ له پلان سره سم د هرات، کندهار، مزارشریف، جلال آباد، زرنج، لښکرګاه، بادغیس، فیض آباد، کندز اوميمنې ته الوتنې کوي.

په همدې ډول دآریانا هوایي شرکت د نړۍ ۱۷ لوی ښارونه هم د خپلو الوتنو دپوښښ لاندې نیولې او د پراختیا په حال کې دي. د نړۍ هغه ښارونه چې آریانا ورته الوتنه کوي د ډهلي، امرتسر،تهران، مشهد، اسلام آباد،دو شنبې، ارومچې، باکو، مسکو، دوبۍ، شارجه، استانبول،انقره،ریاض، جده، کویت او فرانکفورت نومونه اخیستلای شو.

د اریانا افغان هوایي شرکت د خپلو الوتکو په الوتنو سربېره داخلي خصوصي شرکتونو او بهرنیو هوایي شرکتونو ته لکه انډین ایر لاین، دآسمان هوایي شرکت، د اذر بایجان هوایي شرکت، د عرب متحده آماراتو او دپاکستان هوایي شرکت ته هم لازم ځمکنې ټول خدمات برابر وي. بار وړونکو لویو الوتکو (کارګو) بارول او تخلیه کول او نور لازم خدمتونه په چټکۍ سرته رسوي.

۲- هوایي خصوصي شرکتونه له صافی ایرویز، پامیر او کام ایر څخه عبارت دي. چې دفعالیت جواز یې د افغانستان له پانګې څخه د ملاتړ له اداري څخه تر لاسه کړی دی او د خپلو الوتکو په مرسته کورنیو او بهرنیو کرښو کې په خدمت بوختې دي. پر عوایدو باندې د مالیاتو دقانون له مخې ۱۰ سلنه داخلي عواید او دوه سلنه بهرنۍ عواید په هغه ټکس سربېره چې د هوا نوردۍ وزارت او آریانا افغان هوایي شرکت ته ورکوي، ددولت خزانې ته یې هم تحویلوي.

## په ټولګي کې د ننه فعالیت:

زده کوونکي دې په مناسبو ډلو وویشل شي،هره ډله دې دهوايي ډګرو په اهمیت او اقتصادي ارزښت باندې په خپلو منځو کې بحث وکړي او د بحث پایلې دې خپلوټولګیوالو ته ووایي.

## پوښتنې:

سم ځواب د (س) په توري او ناسم ځواب د (ن) په توري په نښه کړئ.

۱-دملکي هوا نوردی ریاست په ۱۳۳۵ لمریز کال کې جوړ شوی دی.

۲-دکندهار هوايي ډګر له ۱۳۳۰ لمریز کال راهیسی د ګټې اخیستنې وړ دي.

لاندې جملې بشپړې کړئ:

۱- دهیواد هوايي نړیوال ډګرونه له............او ......... څخه عبارت دي.

۲- له هغو بهرنیو الوتکو څخه چې په ترانزیتي ډول دافغانستان له فضا څخه تېرېږي له هرې الوتنې څخه.............افغانی عواید لاس ته راځي.

لنډ ځواب ورکړئ:

۱-د دولت خزانې ته د بهرنیو شرکتونو د الوتکو له الوتنو څخه څومره عواید تحویلیږي؟

۲- د هېواد په کومو ولایتونوکې دویمه درجه ملکي هوايي ډګرونه جوړ شوي دي؟

## له ټولګي څخه بهر فعالیت:

زده کوونکي دې په هېواد کې د هوايي ډګرونو دجوړولود اړتیا په هکله، دځمکې دجوړښت او جغرافیایي موقعیت په پام کې نیولو سره په سېمه ییزه او نړیواله سطحه تبصره وکړي او دجغرافیې د مضمون په راتلونکي ساعت کې دې بیان کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۴,۴ – اړیکي Communication

### الف: د اړیکو اهمیت:



اړیکي د مخابراتو ( د افکارو د راکړې ورکړې ټینګول، او د پیغامونو استول او اخیستل) او ترانسپورتیشن څخه عبارت دي چې د تیرولوستونود مواصلاتو په برخه کې له هغو څخه یادونه شوی ده. مخابرات Tele Communication د خلکو ترمنځ د لیکنو، غږونو، عکسونو یا د دواړو په واسطه د افکارو، احساساتو او اطلاعاتو دراکولو ورکولو معنا لري، یا په بل عبارت مخابرات د خبر، احوال، تجارتي ، صنعتي، رسمي،شخصي پیغامواو د معلوماتو د وړاندې کولو او رسولو وسیله ده چې له یوې سیمې څخه بلې سیمې ته کېږي چې دننه او بهر بېلا بېلې سیمې سره نښلوي. د اړیکو ټینګولو لپاره له بېلا بېلو ډولونو او وسیلو څخه ګټه اخېستل کېږي لکه اخبار، راډیو، تلګراف، ټیلفون، تلویزیون، پُست، فکس او



(c) ketabton.com: The Digital Library

انټرنیت. دغه ټول له لیرې واټن څخه د اړیکو چټکې وسیلې دي. په اوسنۍ نړۍ کې غږ او عکس د الکترونیکي بهیر په توګه د سیم، راډیو او تلویزیوني څپو پواسطه د فضاء له لارې اونوري څپې د نوري فایبر په واسطه سره نښلي.راډیوي اونوري څپې په یوه ثانیه کې د ۳۰۰۰۰۰ کیلومترو په چټکۍ حرکت کوي. په داسې حال کې چې الکترونیکې نښو لیږد هم په همدې اندازه کې دي.

د مخابراتود اهمیت په هکله دیادونې وړ ده چې داړیکو دې برخې ته د ټولنې داعصابو اصطلاح ور کړشویده.څکه چې په ټولنه کې د افکارو د انتقال او راکړې ورکړې ښه و سیله ده، په هغو ټولنو او هېوادونو کې چې مخابرات یې ښه فعال دي، په دې معناچې د ټولنې اعصاب ښه کار کوي او ټولنې هم ښه پر مختګ کړی دی.

مخابراتي لومړنۍ وسیله د تلګراف اختراع ده چې د مورس د نښو د اختراع له مخې د بریښنا د جریان په واسطه د سیم په اوږدو کې لیږل کېده. نن ورځ عکسونه، غږونه، تلویزیوني عکسونه د سپوږمکیو، رادیو او نوري فایبر له لارې دځو ثانیو څخه په لږه موده کې د نړۍ ګرد چاپیره مخابره کېږي.

مصنوعي سپوږمکیو د مخابراتو او اړیکو په برخه کې ډېر لوی انقلاب رامنځته کړی دی، چې دټیلیفون اومبایل، تلویزیون او انټرنېټ د تکنالوژۍ د پراختیا سبب شوی ده. په دې سربېره، مصنوعي سپوږمکۍ ځمکې څخه په بېلابېل لوړوالي عکسونه اخلي او خپلو ځمکنیو مرکزونو ته یې انتقالوي، چې د هغو له مخې بیلابېل تصویرونه او جغرافیایي نقشې جوړېږي.

اوس زموږ په هېواد کې هم د مخابراتو وزارت ملي او نړیواله ګیت وې Gate -way د کابل دښار دمهتاب کلا په ساحه کې جوړه کړې ده. دځمکني تم ځای او مصنوعي سپوږمکۍ په واسطه فعالیت کوي. یولوی دیش او مخابراتي او تخنیکي پرمختللی سیستم



(c) ketabton.com: The Digital Library

لري. له دې ګيت وې څخه په ملي او نړيواله کچه ګټه اخيستل کېدی شي. اوس دولتي ارتباطات او مخابراتي شرکتونه دټيلېفوني، فکس، تلويزيوني اوانټرنيټي اړيکو لپاره له هغې څخه ګټه اخلي او دهېواد ۳۶۴ ولسوالۍ او اداري د همدې ګيټ وې په مرسته له نړۍ سره نښتي دي. همدارنګه د مخابراتوخصوصي شرکتونو دنړيوال فعاليتونو لپاره د خپلواکه ګيټوويو دګټې اخيستنې اجازه هم ورکړ شويده. د نوري فايبر په مرسته د ځمکې له لارې دهېواد مخابراتي ارتباطات له نړۍ سره را منځ ته شوي دی، چې د مخابراتو له مصنوعي سپوږمکيو پرتله خورا ارزانه تماميږي.

## په ټولګي کې د ننه فعاليت:

زده کوونکي دې په مناسبو ډلو وويشل شي او هره ډله دې په اوسنۍ نړۍ کې اړيکوپه اهميت پخپلومنځوکې خبرې وکړي او د بحث پايله دې دډلې يو غړی خپلوټولګيوالوته وړاندې کړي. ښوونکی دې د فعاليت په پای کې وړاندې شوی معلومات را ټول او لنډيز دې زده کوونکو ته و وايي.

## پوښتنې:

د جملوتش ځايونه بشپړ کړئ:

۱- ارتباطات ۰۰۰۰۰۰-۰او ۰۰۰۰۰۰۰احتوا کوي.

۲-د نوري او راديوي څپو چټکوالی په يوه ثانيه کې۰۰۰۰۰۰۰۰۰ کيلومتره دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳-لومړنی اختراع شوي مخابراتي وسیله د .......... څخه عبارت ده.

لنډ ځواب ورکړئ:

۴-مخابرات تعریف کړئ.

۵-مصنوعي سپوږمکی کوم مخابراتي خدمتونه سرته رسولای شي.

### له ټولګي څخه بهر فعالیت:

د جغرافیې په مضمون کې له مخابراتي و سیلوڅخه د ګټې اخیستنې ځرنګوالي تر سر لیک لاندې یو مطلب ولیکئ او د جغرافیې د مضمون په راتلونکي ساعت کې یې خپلوټولګیوالوته وړاندې کړي.

## ب. پُست Post په افغانستان کې

ایا پوهېږئ چې د مخابراتو دوزارت د پُست ریاست کوم خدمتونه سرته رسوي؟



پورتني عکس ته وګورئ او ووایاست چې د موټرواو بایسیکلونو سپرلی کومې دندې سرته رسوي.

د افغانستان پُستي کارونو د لومړي ځل لپاره په ۱۸۷۰م کال کې د امیر شیرعلي خان په دوره کې رواج وموند. په هغه وخت کې یوه پُسته خانه په مرکزکې د کابل په بالاحصارکې د (چاپار خانې) په نوم او په لویو ولایتونو کې په ابتدایي ډول جوړې شوی. دولتي مکتوبونه او شخصي لیکونه یې په را جستر شوي ډول دیو مثقال او دوه مثقاله په وزن د پُسته خانې په مرکز کې منل.پُستي ټکټونه د شاهي او ثنار او دهغې وخت په مروجوسکو په بیه، په سپین کاغذ په کمزوري رنګ چاپ او دمکتوبونو او لیکونو له پاسه نصبول. دهغه وخت مشهور پُستي ټکټونه د زمري د سر په نامه یادیدل. او له نصبولو څخه مخکې یې یو کنج غوڅیده. دپُستي د انتقال لپاره له یومرکز څخه بل

مرکز ته ټاکلي وخت په پام کې نه وه  نیول شوی. انتقالات د پُستې د ټاکلي حد تابع وو.

هغه دولتي مکتوبونه چې دفوري کلمه ور باندې لیکل شوې وه. فوق العاده پُسته ګڼل کېده د پُسته بردار په نوم یادیده، دغه پُسته پر اسپ سپاره استونکي له خواچې چاپار په نوم یادیده، اصلي ځای ته لېږدول کېده.

د مکتوبونو ویش د ویشونکو مستخدمینو له خوا کېده چې د لیك رسوونکي په نوم یادیدل.

که کوم دولتي مکتوب چې به کوم بهرني هېواد ته استول کېده، دهغه استونه د ځانګړي قاصد له خواسرته رسیده.

پورتنیو اجرااتو تر ۱۸۷۸م کال پورې دوام در لود ه. له ۱۸۹۲ م کال څخه وروسته یعنې د امیر عبد الرحمن خان د واکمنی په دوره کې د پُستې منظم کارونه رامنځته شول. په ۱۹۰۷م کال یعنې د امیرحبیب اله خان په دوره کې پُستې کارونو ښه پرمختګ وکړ. د پُسته خانو په شمېر اوپُستي کرښوکې زیاتوالی راغی. د دولتي مکتوبونو لپاره ځانګړي ټکټونه چاپ شول. په دې وخت کې د پُستې دفترونه د ډاکخانو په نوم یادیدل. یوه ډاکخانه په پېښور کې  هم جوړه شوې وه. پُستي کارونه د امانیه په دوره کې ډېره پراختیا وموندله او  د داخلې د وزارت په چوکاټ کې د پُست او تلګراف عمومي مدیریت جوړشو.

په۱۹۲۵م کال کې د کابل او مشرقي تر منځ د لومړي ځل لپاره د پُستی د حمل او نقل لپاره له موټر څخه ګټه واخېستل شوه او د تبادلې یو دفتر په تورخم کې هم جوړ شو . نور دفترونه په اسلام کلا، دایران په طیبات، د مزارشریف په تاشګذر، سپین بولدك او تور غندۍ کې جوړ شول.

افغانستان په ۱۹۲۸ م کال کې د نړۍ د پُستي اتحادیې غړیتوب حاصل کړ او د پُست اداره د د یپلوماتیکو لارو دنړۍ د پُستي کنوانسیون د حکمونوسرته رسولوته ژمنه شوه.  پُستي سیستم مخ په سمون شو.

په ۱۳۴۴ لمریز کال کې د مخابراتو ریاست د مخابراتو وزارت ته لوړ شو، دپُست د انتقال لپاره پُستي سرویس موټرونه د کابل څخه د تورخم او کندهار په لور په کار واچول شول.



(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان په پُسته کې پُستي قلمونه لکه مکتوبونه، پُست کارتونه،کوچنی بستې، چاپ شوي مواد، درندوپانې او پارسلونه شامل دي. ددې قلمونو تبادله د ځمکې او هواله لارې، د دننیو خدماتو سربېره، په نړیواله کچه د آریانا افغان هوایی شرکت لخوا سرته رسېږي.



### په ټولګي کې د ننه فعالیت:

زده کوونکي دې په مناسبو ډلو وویشل شي او هره ډله دې دپُستې په سترو خدمتونوپخپلو منځوکې بحث وکړي. د خپل بحث پایلې دې د ډلې یو غړی خپلوټولګیوالو ته تشریح کړي. ښاغلی ښوونکی دې د بحث پایله د خپلومعلوماتوپه ور زیاتولو را ټوله کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## پوښتنې:

لنډ ځواب ووایاست:

۱-د لومړي ځل لپاره پُستي کارونه د کوم پاچا په وخت کې مروج شول؟

۲-په پُستي خدمتونو کې کومې برخې شاملې دي؟

لاندې جملې بشپړې کړئ:

۱-د امیر شیرعلي خان د حکومت په وخت کې د کابل په بالاحصارکې پُسته خانه د ..........په نوم جوړه شوه.

۲- د امیر شیرعلي خان د حکومت په وخت کې بیړنۍ پُسته د اسپ په سپرلی چې د ..........په نوم یادیده لیږدول کېده.

۳-د امیر حبیب اله خان د حکومت په دوره کې پُستي دفتر د          په نوم یادیده.


## له ټولګي څخه بهر فعالیت:

زده کوونکي دې دیو پارسل دپاسه لازمې لارښوونې ولیکي، چې د پُستي له لارې یو اروپایي هېواد ته په مصؤن ډول د پام وړ تن ته ورسېږي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## ج – ټیلیفون او مبایل




ټیلیفون داسې وسیله ده چې غږ لېرې او نژدې سیموته انتقالوي.

په لسمې پیړۍ کې زیاتې اختراعګانې د ارتباطاتو او رسنیو په برخه کې را منځته شوې. لکه عکاسي ،سینما، چاپ اوداسې نور، چې د خلکو په ژوند کې یې ستر بدلون راووست. خو ډېره مهمه اختراع تیلیفون او تلګراف وو. چې د چټکو ارتباطاتواړیکه یې له لېرې سیموسره را منځته کړه. تیلیفون له دوو کلمو څخه جوړ شوی دی. د Tele دوېلو او phone د غږ په معنادی.

د هېواد لومړنی د ټیلیفون دستګاه د مسي سیمي لین په واسطه د امیر حبیب اله خان او دهغه د ورور نصراله خان د استوګنې په ځای کې د یوکیلومتر په اوږدوالي فعالیت کاوه او بل لین یې د امیر د استوګنځي او دهغه وخت تر قوماندانی پورې او دریم لین یې د ارګ له دروازې څخه د بابر تر بڼ پورې غځیدلی و.

زموږ په هېواد کې د ټیلیفون لومړنی بطري لرونکې سویچبورډ چې د ۲۵ لینونو ظرفیت یې درلوده د امیر حبیب اله خان د واکمنی په دوره کې د ارګ په شمالي ځلي (برج) کې جوړشو.

د امان الله خان د پاچاهی په دوره کې په ۱۲۹۸ لمریز کال کې یو (۵۰) لینه سوچبورډ د شاه دو شمشیره د پُسته خانې په ودانۍ کې نصب شو او ټیلیفوني اړیکي د مرکز او نورو ښارونو تر منځ جوړې شوې. په همدې ډول دهېواد پلازمینه د تلګراف په مرسته دلویو نړیوالو مرکزونو تر منځ وصل شوه.
په لومړي سرکې په دولتي دایرو کې له ټیلیفون څخه ګټه اخېستنه مروجه شوه، وروسته انفرادي اشخاصو هم وکولای شول د ولایت له مرکز څخه یو له بل سره خبرې وکړي او شخصي او تجارتي پیغامونه ولېږي.
له ټیلیفون څخه ګټه اخېستنه دسیمي لین دغځېدنې اود لویو لارو په اوږدو کې د پایو په نصبولوسره ممکن شوه. لومړني ټیلیفون ځانګړې انډل در لوده چې دهغه په مرسته به له سویچبورډ ( دخپرولود مرکز سره) او له هغه ځایه به د سویچبورډ د مسوولوکسانو (اپریټر) په مرسته دپام وړ ا رتباط را منځته کېده.
په ۱۳۲۲ لمریز کال کې د ۵۰۰۰ لینونو اتومات لومړنی دستګاه د المان د زیمنس له کمپنۍ څخه وپېرودل شوه او په کابل کې په کار واچول شوه او لومړنۍ ټیلیفوني مخابره د کابل اوپاریس ترمنځ ټینګه شوه. په همدې ډول د پاریس دترانزیت مرکزونو د افغانستان ټیلیفوني مخابره د نړۍ له نورو هېوادونو سره ټینګوله.
په ۱۳۴۰ لمریز کال کې د مخابرې ترانزیت له نورو مرکزونو سره د ډهلي،لندن او مسکو سره هم ټینګ شو، وروسته ټیلیفون په پرمختللي ډول دانالوګ اوډیجیټل په بڼه تبدیل شو ددې ټیلیفوني مرکزونو ولایتي او نړیوال اړیکي د سټلایټ ( مصنوعي سپوږمکۍ) له لارې ټینګیږي.

## موبایل:

موبایل په ۱۹۸۰ م کال کې د ارتباط وسیلې په توګه و پېژندل شو او په ۱۹۸۳م کال کې د امریکا دمتحده ایالتونو په شیکاګوکې د ټولو دګټې اخېستنې لپاره وړاندې شو.موبایل په کمزورو لنډو څپو کار کوي چې پیغام د انتن پایګاه ته مخابره کوي اوبیایي اخلي. ګټه اخېستونکی کولای شي له هر ځای څخه ټیلیفون وکړي او یا پیغام تر لاسه کړي.
زموږ په هېوادکې په وروستیو دیرش کلنو جګړو کې ټولې مخابراتي شبکې تر یوې اندازې اویا په بشپړ ډول ویجاړې شوې او آن داچې په وروستیو کلونو کې خلک دنړیوالې مخابرې لپاره ګاونډیو هېوادونو ته سفرکاوه. د افغانستان دغرني جوړښت په پام کې نیولو له مخې او دیوزیات شمیر مهاجرینو شتون په باند نیوهېوادونو کې، ارتباطاتو د جوړولوپه منظور لوېې خصوصي کمپنۍ لکه افغان بیسیم او روشن په ۱۳۸۲ لمریز کال کې MTN په ۱۳۸۴ لمریز کال او اتصالات په ۱۳۸۵ لمریز کال کې په



(c) ketabton.com: The Digital Library



فعالیت پیل وکړ. نن ورځ په ټول هېواد کې په سلګونو زره ګڼون کوونکي لري، چې کولای شي په ټول هېواد کې د اړوندو انتنونو او له هېواد څخه د باندې د ارتباطي سپوږمکیو په مرسته خپلې ټیلیفوني اړیکې جوړې کړي. زموږ دهېواد ټیلیفوني کود ۰۰۹۳ دی. ددې کود په مرسته، له بهرنیوهېوادونو څخه هېوادته دننه ټیلیفوني اړیکې ټینګیدلای شي.

له ټیلیفون څخه په ګټه اخیستنه اقتصادي اوتجارتي اړتیاوې او د خلکو ورځنی ستونزې په ډېرې چټکۍ او لږ وخت کې حل کېږي. دخلکو ترمنځ د تفاهم ډېره چټکه او ارزانه وسیله ګڼل کېږي.

## په ټولګي کې د ننه فعالیت:

زده کوونکي دې په مناسبو ډلو وویشل شي اوهره ډله دې دټیلیفون د اهمیت په هکله پخپلومنځو کې بحث وکړي اود فعالیت پایلې دې د ډلې یو غړی خپلوټولګیوالوته وړاندې کړي. ښاغلی ښوونکی دی د فعالیت پایلې را ټولې کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## پوښتنې:

لنډ ځواب ووایاست:

۱-ټیلیفون په سوداګرۍ کې څه ارزښت لري توضیح یې کړئ؟

لاندې جملې بشپړې کړئ:

۱-زموږ په هېواد کې لومړی ځل ټیلیفون..........د حکومت په وخت کې استعمال شو.

۲- زموږ په هېواد کې دموبایل لویې کمپنۍ له.............او.......څخه عبارت دي.

سم ځواب د( س)په توري او ناسم ځواب د( ن)په توري په نښه کړئ.

۱- په ۱۹ م پېړۍ کې د اروپا په برخه کې با ارزښته اختراع ټیلیفون او تلګراف دی.

۲-زموږ په هېواد کې ټیلیفون څخه لومړی ځل د امان اله خان د پاچاهۍ په دوره کې ګټه واخېستل شوه.

## له ټولګي څخه بهر فعالیت:

په ورځني ټولنیز ژوند کې د ټیلیفون د اهمیت په هکله یوځوکرښي ولیکئ او دجغرافیې په را تلونکي ساعت کې خپلوټولګیوالوته یې وړاندې کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د: انټرنېټ،ایمل او فکس Internet, E–mail and Fax



## له انټرنېټي خدماتو څخه څنګه ګټه اخېستلای شو؟

له انټرنېټ څخه ګټه اخېستنه،د انټرنېټي شبکې،کمپيوټر اوله هغې څخه د ګټې اخېستنې په طريقې پوهېدلو اړينه ده. انټرنېټ په ۱۹۸۳م کال کې رامنځته شو،د انټرنېټ د رامنځته کولو فکر د امريکا دمتحده ايالتونو د دفاع وزارت څخه پيل شو، چې په هغه وخت کې له انټرنېټ څخه د اطلاعاتو د تبادلې د باوري سيستم په عنوان ګټه اخېستل کېده. وروسته انټرنېټ دعلمي زده کړو دسرچينې او د څو رسنيو له يو ځای کېدو څخه را منځته شو.د ۱۳۶۹ لمريز کالونويه لسېزه کې په ټوله نړۍ کې په ميليونونو رسنيو د انټرنېټ له نړيوالې شبکې سره ونښتې. انټرنېټ هغه وسيله ده چې د نويوعلمي او فني پرمختګونو د اندازه کولوتوان لري او هغې له بشپړېدولوسره مرسته کوي.

انټرنېټ له دوو کلمو Inter له International نړيوال او Net د Network له شبکې څخه اخېستل شوي دی.

انټرنېټ بې مثله نړيواله معلوماتي وسيله ده، هر څوک هر ډول معلومات چې غواړي له هغې څخه لاس ته راوړلی شي.

انټرنېټ په حقیقت کې د سیستم یاشبکې نوم دی چې د نړۍ ټولې کمپیوټري شبکې سره نښلوي.

د انټر نېټ لپاره ډېر پروګرامونه جوړ شوي دي او د جوړېدو په حال کې دي انټر نېټ د ایمیل یا برېښنا لیک لویه سر چینه ده. څه موده مخکې یوازې پیغامونه د انټرنېټ له لارې استول کېدل. اوس ټیلېفون، تلویزیون، راډیو اونور موضوعات دهغې پرمخ راتلای شي.

زموږ په هېواد کې انټرنېټي فعالیتونه د ځوکمپنیو له لارې سرته رسیږي.

له انټرنېټ او ایمیل څخه د جغرافیې په مضمون کې څه ګټه اخېستل کېږي؟

له نورو جغرافیه پوهانو سره داړیکوټینګول دایمیل E mail له لارې سرته رسېږي. انټرنېټ ددې امکان برابر وي چې جغرافیه پوهان دنړۍ په بیلابیلو سیموکې خپلمنځې اړیکي ټینګې کړي او یودبل په نظریاتو پوه شي.

د ایمیل یا برېښنالیک: په انټرنېټ کې کولاي شو د خپل نظر وړ شخص سره دهغه دایمیل ادرس په علاوه کولو اړیکې ټینګې کړو.له نوروڅخه مطالب لاس ته راوړو اویا علمي اطلاعات او داسې نور هغه ته واستوو.

**انټرنېټ او جغرافیه:**

مینه وال کولای شي چې د پام وړ جغرافیایي موضوعګانو دموندلو لپاره، اړونده انټرنېټي سایټونو ته ور ننوځي او د اړتیاوړ اطلاعات لکه متن، عکسونه، نقشې او فلم لاس ته راوړي. نو موړې اطلاعات د پرنټر printer په مرسته چاپ او یا په کمپیوټر کې زېرمه او ثبت Save کړي.

د انټرنېټ ډېره لویه ګټه داده چې د هغه په مرسته ښلا بیلې مو ضوعګانې پلټلاي شو. هریو زموږ څخه کولاي شي چې د جغرافیې د اړتیا وړ اصطلاح په لیکلو سره لکه اوقیانوس، نقشه،مهاجرت او داسې نور، په هغه صورت کې چې دسایټ فهرست اویا ادرس په واک کې ولرو اویا د څېړنې د وسیلې له لارې Search Engine دقیق معلومات لاس ته راوړو. د جغرافیې د پلټنې دسایټونو له جملې څخه کولای شو د Google, M SN, Amazon ,yahoo , Hot mail Gmail او داسې نورو نومونه واخلو.

ایا کله مو د فکس په مرسته پیغام استولي دي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پورتني عکس په غور وګورئ او ووایاست چې نوموړي دستګاه د اړیکو د ټینګولو له مخې څه اهمیت لري؟**

د فکس دستګاه په نړیوالو اړیکو کې مهم رول په غاړه لري. دغه دستګاه په خوځانیو کې استول شوي پیغامونه د لیکلي پیغام په توګه اخېستونکي ته د نړۍ هرې نقطې ته رسوي. د فکس دستګاه د فوتوکاپي ماشین سره ورته ده، خو په ټیلیفون سنباله ده. دغه دستګاه د پیغام د استولو په وخت، پیغام په کلمو او کرښې په الکترونیکي نښو چې دانتقال وړوي تبدیلوي. د پیغام اخېستونکي دستګاه، دغه لاس ته راغلې نښې په لیکلو نښواړوي او دقیقه نسخه د اصلي نسخې په څېر بهر ته راباسي.

### په ټولګي کې د ننه فعالیت:

زده کوونکي دې په مناسبو ډلو وویشل شي. هره ډله دې د ایمیل او انټرنېټ دموضوعګانو او ګټو په هکله پخپلو منځو کې بحث وکړي او د ډلې یو غړی دې د بحث پایله خپلوټولګیوالو ته وړاندې کړي. همدارنګه ښاغلی ښوونکي دې د ډلې د فعالیت پایله دې را ټوله کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پوښتنې:

۱- په لومړي ځل انټرنېټ په کوم هېواد کې په کارپیل وکړ او د څه لپاره ورڅخه ګټه اخېستل کېده؟

لاندې جملې بشپړې کړئ:

۱- د انټرنېټ اصطلاح له دوه کلمو .........او ....څخه ترکیب شوې ده چې معنایې نړیواله شبکه ده.

۲- دجغرافیې دپلټنې سایټونه له.....،.....،......، او داسې نورو څخه عبارت دي.

سم ځواب د (س) په توري او ناسم ځواب د (ن) په توري په نښه کړئ:

۱- په ۱۹۸۳ میلادي کال کې د اطلاعاتویه میلیونونو رسنیو په ټوله نړۍ کې د انټرنېټ له شبکو سره وصل شوی.


۲- انټرنېټ له علمي او زده کړې له سر چینو او د ډېرو رسنیو د پیوستون څخه منځته را غلې دی.

## له ټولګي څخه بهر فعالیت:

زده کوونکي د انټرنېټ دامکاناتو په لرلو سره د جغرافیایي اصطلاحګانولکه اور غورځونې د فعالیت او ټوریسم په هکله دې معلومات راټول ثبت یا زېرمه کړي او خپلوټولګېوالو ته دې دجغرافیې په راتلونکي ساعت کې وړاندې کړي.

# پنځم څپرکی
# نفوس او نژاد

## ۵-۱ د نفوسو ویشل او ګڼوالی




په یوه کیلومتر مربع کې د نفوسوویش

**آیا پوهېږئ چې په ځمکه کې نفوس په څه ډول ویشل شوی دی؟**

د نفوسو د ویش پورتنۍ نقشه په غور ولولئ او ووایاست چې ډېر زیات او ډېرلږ نفوس د نړۍ په کومه برخه کې ځای پرځای شوی دی. ولې؟

د نفوسو ګڼوالی د ځمکې د سطحې په یوه واحده ساحه کې داوسېدونکو خلکو دشمېر څخه عبارت دی. د نفوسو دګڼوالي د معلومولو لپاره باید د یوې سیمې نفوس د همغې سیمې په پراخوالي وویشل شي.

د نړۍ نفوس په ۲۰۱۰ میلادي کال کې ۶،۸ میلیاردو تنوته ورسید، چې د ځمکې پرمخ ژوند کوي. دغه نفوس په ټوله نړۍ کې په مساوي ډول نه دي ویشل شوی. یاپه بل عبارت اقلیمي شرایط د ځمکې جوړښت او نور اقتصادي، بشري او سیاسي لاملونه د نفوسو په تمرکز اغېز لري. لکه دښتې



(c) ketabton.com: The Digital Library

سیمې( هغه تودې او سوځوونکې سیمې چې پوره اوبه هم ونه لري)، لوړې، نااواره سړې سیمې، د غرونو لړۍ، جبې، ګڼ او لنده بل ځنګلونه، استوایي توده او لنده بله هوا، قطبي سړه هوا، له سواحلو او د حمل اونقل له لارو څخه لیریوالی، د نفوسو ډېره لږه پاملرنه یې ځانته را اړولې ده. آن داچې په ځینو سیموکې د سلګونو کیلومترو په واټن لېږې سیموکې هم د انسانانو نښې په سترګو نه ښکاري. په داسې حال کې چې د ځمکې په بله سیمه کې لکه: په ښو اقلیمي شرایطو ( معتدله آب او هوا او پوره باران)، مناسب جغرافیايي موقعیت، اوارو او ښېرازو ځمکو، پوره اوبولرونکوځمکو، د سیندونو او سمندرونو په غاړو، بندرونو، د صنایعو، کانونو او د ارتباطي لارو په شاو خواکې ډېر خلك استوګنه کوي، چې دځینو ځایونو په یوه کیلومتر مربع کې له زرو څخه زیات خلك ژوند کوي. په دې ترتیب په یوه سیمه کې د نفوسو استوګنه د فزیکي، اقتصادي سیاسي او بشري لاملونو پایله ده. چې د دې لاملونو اغېزې په لنډه توګه بیانوو:

• **فزیکي عواملو اغزې**: لکه جغرافیایی موقعیت ( عرض البلدونه)، لوړې سیمې، اقلیمي شرایط، اوبه او داسې نور د ځمکې پرمخ دتل لپاره لیدلای شو، چې په مستقیم یا غېر مستقیم ډول دځمکې د منابعو څخه په ګټه اخیستنې باندې اغېزه لري. دغه لاملونه د نفوسو د زیات ګڼوالي او یا برعکس د یوې سیمې د نفوسو دکموالي لامل ګرځي.

• **د اقتصادي لاملونو اغېزې**: په طبیعی منابعو او بشري فعالیتونو متکي دي، چې له کانونو، اوبو، د خاورې له ډولونو، نباتاتو، حیواناتو، د پانګې په شتون او په نوې تکنالوژۍ، دکار په شرایطو، صنایعو او داسې نورو څخه عبارت دي، چې د نفوسو په ګڼوالي اغېزلري یعنې دصنعتي پراختیا او د نفوسود ځای پر ځای کیدنې تر منځ متقابل اړیکې شته دی. په هر ځای کې چې د صنعت او له هغې څخه وروسته د هغې پورې تړلې خدمتونه را منځته شي، نو زیات نفوس په هغې سیمې کې جذ بیږي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

د یادونې وړده چې تر ۱۸ مېلادي پېړۍ پورې کرنه او د هغې اړوند لاملونو( اوبو،خاورې، او اقلیم) د نفوسوپه استوګنې ټاکونکې اغیزه درلوده، لکه د مصر په هېواد کې د نیل د سیند وادي او داسې نور. زموږ د هېواد اقتصاد تر اوسه پورې په کرنه ولاړ دی او د نفوسو ډېره زیاته برخه له همدې لارې ژوند کوي.

• د سیاسي لاملونو: په برخه کې د حکومت پرېکړې او د اداري مرکزونو له تشکیل څخه یادونه وکړو که چېرې دولت د هېواد ځینو سیموته د پرمختیایي پروګرامونو به برخه کې پانګې اچونې، د کارونو پیداکولو او یا خدماتي امکاناتو او روغتیایي فعالیتونو ته پاملرنه ونه کړي، د نفوسو ګڼوالی هلته لږ وي.

• بشري لاملونه: په پورتنیو موضوعاتوسر ببره لېږې پرتې سیمې، چې د حمل و نقل لارې او ارتباطي وسایل په لاس کې نه لري، خلک هلته په تیت او پرک ډول ژوند کوي.

د هغو لویو وچو دننه سیمې چې له سیندونو او سمندرنو څخه لېرې پرتې دي دساحلي سیمو پر تله لږ تجارتي امکانات لري، لږ نفوس پکې استوګنه کوي.

د پورتنیو لاملونو په پام کې نیولو سره د نړۍ ګڼ نفوسه سیمې Densely population region کولای شو په درې حوزو په نښه کړو:

۱ - لومړنۍ ګڼ نفوسه سیمه د آسیا د لویې وچې جنوبي سیمه ( پاکستان، هند او بنګله دیش)، د جنوب ختیځې آسیا ځینې برخې ( اندونیزیا) او ختیځه آسیا ( د چین ختیځ، د کوریا ټاپو وزمه او جاپان) دي. د دې سیمې په هېوادونو کې په منځنۍ ډول د نفوسو ګڼوالی په یوه کیلومتر مربع مساحت کې له ۱۰۰ تنوڅخه زیات دی. او په ځینو ځانګړو ځایونوکې په یوه کیلومتر مربع مساحت کې له ۱۵۰۰ تنوڅخه زیات دي. چې علت یې موسمي آب و هوا، د کرنې ( د وریجو کرنې) ښه شرایط او د نفوسو طبیعي زیاتوالی دی.

۲ - دویمه ګڼ نفوسه سیمه د اروپا په لویه وچه کې د پانګوالۍ په دوره کې رامنځته شوې ده. د دې سیمې په ځینو هېوادونو کې د نفوسو منځنۍ ګڼوالی په یوه کیلومتر مربع پراخوالي کې له ۲۰۰



(c) ketabton.com: The Digital Library

ځخه تر ۴۰۰ تنوته رسيږي. په همدې ډول په صنعتي سيموکې د نفوسوګڼوالي په يوه کيلومتر مربع مساحت کې له ۵۰۰ څخه تر ۱۰۰۰ تنو پورې رسيږي. چې ډيرزيات يې د سيندونو په غاړه، په بندرونو او د صنعتي مرکزونو په شاو خوا او د کرنې ورسيموکې ژوند کوي.

دريمه ګڼ نفوسه سيمه د امريکا د متحده ايالتونو د شمال ختيځې ځينې برخې ( نيوانګلنډ، نيو يارک، پنسلوانيا او د پنځه ګونو جهيلونو شاوخوا) او د کاناډا جنوب ختيځ دی. چې د هغې لامل تجارتي او صنعتي فعاليتونه دي.

## په ټولګي کې د ننه فعاليت:

زده کوونکې دې، په مناسبو ډلو وويشل شي. پخپلو منځوکې د مشورې له مخې دې لاندني جدولونه کاپي او بشپړ کړي او د ډلې استازی دی خپلوټولګيوالوته وړاندې کړي.

| موقعيت | د نفوسو د ميشته کيدلو لاملونه |
| --- | --- |
| د چين ولسي جمهوريت او د هند هېواد | |
| شمال لويديځه اروپا | |
| د امريکا د متحده ايالتونو شمال ختيځ او د کاناډا جنوب ختيځ | |
| د هماليه غرونه | |
| د امازون ځنګلونه | |
| د ګرينلينډ ټاپو | |



(c) ketabton.com: The Digital Library

په لاندې جدول کې د نفوسو منځنۍ ځای پرځای کیدنه د مالتا، بنګله دیش او استرالیا په هېوادونوکې محاسبه کړئ.

| ګڼه | هېواد | د هېواد مساحت په کیلو متر مربع | نفوس | د نفوسو ګڼوالي په یوه کیلو متر مربع مساحت کې |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | موناکو | ۲ | ۳۲۲۷۰ تنه | ۱۵۸٤٦,٥ تنه |
| ۲ | سنګاپور | ٦٤٧ | ٤,۳٥۳,۸۹۳ تنه | ٦۷۲۹,۳ تنه |
| ۳ | مالتا | ۳۱٦ | ۳۹٦,۸٥۱ تنه | |
| ٤ | بحرین | ٦٦۸ | ٦۷۷,۸۸٦ تنه | ۱۰۱٤ تنه |
| ٥ | بنګله دیش | ۱٤۷٥۷۰ | ۱٤۱,۳٤۰,٤۷٦ تنه | |
| ٦ | مغولستان | ۱,٥٦٥,۰۰۰ | ۲,۷٥۱,۳۱٤ تنه | ۱,۷ تنه |
| ۷ | استرالیا | ۷,٦۸٦,۸٥۰ | ۱۹,۹۱۳,۱٤٤ تنه | |
| ۸ | کاناډا | ۹,۹۷۰,٦۱۰ | ۳۲,٥۰۷,۸۷٤ تنه | ۲/۳ تنه |

## پوښتنې:

لنډځواب وواياست:

۱. د آسیا د جنوب اوجنوب ختیځو هېوادونو د نفوسو دګڼوالي لامل بیان کړئ.

۲. د اروپا په شمال لویدیځ کې د اروپا د نورو سیمویه نسبت ولې ګڼ نفوسه سیمې منځته راغلي دي.

۳. د شمالي امریکا کومې سیمې ګڼ نفوسه دي، لامل یې بیان کړئ؟

۴. د آسیا د ډېرګڼ نفوسه هېوادونو نومونه واخلئ.

۵. د نړۍ په ټولو برخوکې ولې نفوس په مساوي ډول نه دی ویشل شوی؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

۶. کوم سیاسي لاملونه د نفوسو په ګڼوالي زيات اغېزلري څرنګه؟

۷. آيا بشري عوامل هم کولای شي د نفوسو پرځای پرځای کیدنی اغېز وکړي؟ څرنګه؟

سم ځواب په نښه کړئ.

۱- کوم طبيعي لاملونه په يوه سيمه کې د نفوسو دګڼوالي سبب کېږي؟

الف: مناسب اقليمي شرايط او اوبه

ب: لوړې او سړې قطبي سيمې

ج: ګڼ او لنده بل استوايي ځنګلونه

د: ټول ځوابونه سم دي

۲- کوم اقتصادي لاملونه په يوه سيمه کې د نفوسو دګڼوالي سبب ګرځي؟

الف: ابتدايي کرنه

ب: په صنايع کې پانګه اچونه

ج: د پرمختيايي پلانو نو تطبيق

د: ټول ځوابونه سم دي

## له ټولګي څخه بهر فعاليت:

لاندې پوښتنې ته ځواب وواياست او د جغرافيې په راتلونکي ساعت کې يې خپلو ټولګيوالو ته وړاندې کړئ.

که چېرې ستاسې ټولګي ۶ متره اوږد والی او ۴ متره سور ولري او د زده کوونکوشمېر ۶۰ تنه وي، تاسې مهرباني وکړئ د ټولګي په يوه متر مربع کې د نفوسو ګڼوالي محاسبه کړئ.


ستاسې له نظره د ټولګي د زده کوونکو مناسب شمېر بايد څو تنه وي. ولې؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځه ویشتم لوست:

# ۲,۵ په نړۍ کې د نفوسو د زیاتوالي لړ والي ستونزې




په ۲۰۰۹ م کال کې د نړۍ د زېږېنونو ډېروالی

د نفوسو موضوع د پراختیا له مخې د دوو جلا موضوعاتو تر عنوان لاندې لوستل کېږي.

## ۱- د نړۍ په هېوادونو کې د نفوسو زیاتوالی:

د نړۍ نفوس په ډېره چټکۍ زیاتیږي، ځکه چې زېږونه Birth Rate له مړینې Death Rate څخه زیات دي.

د شلمې پېړۍ په پیل کې دغه د نفوسو زیاتوالی په کال کې ۱۰ میلیونه، دهمدې پېړۍ په نیمایي کې په کال کې ۳۵- ۴۰ میلیونو پورې او اوس له ۶۰ څخه تر ۶۵ میلیونو تنو پورې په کال کې زیاتېږي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ملګرو ملتونو د احصایې له مخې د نړۍ نفوس

## ( اضافي معلومات )

| کال | د ځمکې ټول نفوس |
|---|---|
| ۱۹۰۰ میلادي | ۱,۶۱۷ میلیارده تنه |
| ۱۹۴۰ // | ۲,۲۵۲ میلیارده تنه |
| ۱۹۶۰ // | ۲,۹۸۲ میلیارده تنه |
| ۱۹۷۰ // | ۳,۶۱۰ ملیارده تنه |
| ۱۹۷۹/ | ۴,۳۳۶ میلیارده تنه |
| ۲۰۰۸// | ۶,۶۰۰ میلیارده تنه |
| ۲۰۱۰ // | ۶,۸ میلیارده تنه |

له پاسني جدول له مطالعې څخه دې نتیجې ته رسیږو چې د نړۍ نفوس په وروستیو تقریباً ۵۰ کلونو کې په ډېره چټکۍ زیات شوی دی.

د نفوسو دغه زیاتوالی په دوه لاملونو پورې اړه لري:

- د نفوسو طبیعي زیاتوالی.
- د نفوسو میخانیکي زیاتوالی.

الف: د نفوسو طبیعي زیاتوالی: Natural Tncreasre

د نفوسو دغه زیاتوالی د زېږونونو په زیاتوالي او د مړینې په کموالي پورې اړه لري. د مثال په ډول که په یوه هېواد کې زېږونه په زرو کې ۴۰ وي او مړینه په زروکې ۲۰ وي د نفوسو زیاتوالی به ډېر زیات وي. د نفوسو زیاتوالی په ډېرو لاملونو پورې اړه لري، چې ډېر زیات مهم یې په یوه هېواد کې ټولنیز اقتصادي او کلتوري لاملونه دي. په تېره بیا وقایوي او معالجوي طب وده او پرمختیا د نفوسو په زیاتوالي ډېره اغېزلري. چې له یوه پلوه د مړینې د کموالي سبب ګرځي او له بله پلوه منځنۍ عمر اوږدېږي. خو دنفوسو دغه زیاتوالی د نړۍ په ټولو هېوادونو کې په یو ډول نه دی. موږ کولای شو چې دغه ټول په دوه برخو ووېشو: لومړی ډول د شمالي امریکا او اروپا پانګه والو هېوادونو او د چین او روسیې ځانګړتیا ده.د هغو خصوصیات ډېره لږه زېږونه چې نورهم دکمښت په حال کې دي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاملونه يي په لاندې ډول دي:

۱- په پرمختللو هېوادونو کې ښاري نفوس اکثريت لري. ښکاره ده چې زېږونه په ښاري کورنيو کې له کليوالي کورنيو څخه لږ وي.

۲- په دې هېوادونو کې ښځې ټولنيزو کارونوته جلب او جذب شوي دي. معمولاً هغه ښځې چې له کور څخه د باندې کارونه لري، نسبت هغو ښځو ته چې کار نه کوي د ماشومانو شمېرېې لږ وي.

په پرمختللو هېوادونو کې د زېږېدنو او مړينو دواړو شمېرلږ وي. د نفوسو طبيعي زياتوالی ۰,۵ - ۱ سلنه يا په زرو کې له۵- ۱۰ پورې وي. کله يې اندازه له دې څخه هم کمه وي. دغه لږ زياتوالی د پرامختللو هېوادونو ځانګړتيا ده.

دويم ډول زياتوالی د مخ پر ودې هېوادونو ځانګړتيا ده لکه آسيايي، افريقايي او د لاتيني امريکا هېوادونه، چې هغه د زيات زېږونونو څخه عبارت دی، چې په لاندې لاملونو پورې اړه لري:


د اقتصادي ودې ډېره ټيټه سطح، د ميکانيزه (ماشيني) کرنې نه شتون، بيسوادي د اکثريت خلکو له پاره د حفظ الصحې نشتوالی، په ټولنه کې د عنعنوي فرهنګ څخه د ښځو پيروي کول او د هغوی له وخت څخه مخکې نکاح او داسې نور.

په آسيايي، افريقايي او د لاتيني امريکا په هېوادونو کې د روغتيايي خدماتو د سمون په پايله کې په مړينه کې کمښت راغلی دی، نو همدغه لامل ددې سبب شوی دی چې د نفوسو زياتوالی زيات شي.

له زيات زېږونونو سره جوخت د نفوسو طبيعي زياتوالي چټکوالی مومي چې د نفوسو دغه زياتوالی له ۲ څخه تر ۳ سلنه پورې د تغير په حال کې دی. چې په هرو زرو تنوکې له ۲۰ څخه تر ۳۰ پورې زياتوالی مومي. دغه زياتوالی زياتره د وروسته پاتې ټولنو او هېوادونو ځانګړتيا ده.

د پرمختللو صنعتي هېوادونو او مخ پر ودې هېوادونو د نفوسو د ودې د مقايسې لپاره د عمر هرم په راتلونکي مخ کې وګورئ. د عمر په هرم کې افقي کرښې د نفوسو شمېر په سلنو او په عمودي کرښو باندې د نارينه او ښځينه شمېر په مختلفو عمرونو ښودل کېږي ماشومان او نوي ځوانان (له صفر څخه تر ۱۸ کلنۍ) او سپين ږيري (له ۶۵ کلنۍ څخه د زيات عمر خاوندان) معمولاً اقتصادي فعال نفوس نه ګڼل کېږي. لويان (له ۱۵ - ۶۵ کلنۍ پورې) اصلي توليدوونکي او اقتصادي فعاله ډله ګڼل کېږي.

دنړۍ په بيلا بيلوبرخو کې د عمر هرمونه سره توپير لري مخ پرودې هېوادونو لکه مکسيکو کې د هرم قاعده لويه وي يعنې په هرو ۱۰۰ تنوکې زيات نفوس له۰- ۱۵ کلنۍ پورې وي. د غه هېواد ځوان نفوس لري. هغه هېوادونه چې ډېر زيات ځوان نفوس لري، نو بايد د ځوانانو اړتياوو د پوره کولو له پاره په تيره بيا د ښوونې او روزنې، د هغوی لپاره د کار په پيدا کولو کې پانګه واچوي. په پرمختللو صنعتي هېوادو لکه سوېډن کې زېږونونه او مړينه دواړه کم دي او ژوند ته زيات هيله من دي. په دې هېواد کې




د هرم قاعده کوچنۍ ده او فعال اقتصادي نفوس زيات دی، خو نفوس ورو ورو د سپين ږيرتوب په لور پرمخ ځي.

دغه شميرنه بايد ديوه کال په اوږدو کې ترسره شي، پايله يې په سلنه اعلان شي. کله چې زيږيد له مړيني څخه زياته وي، د نفوسو طبيعي زياتوالی شتون لري.

$$\text{د نفوس طبيعي زياتوالی} = \frac{\text{د زيږونونو شمير} - \text{د مړينې شمير}}{\text{ټول نفوس}}$$

## ب: د نفوسو ميخانيکي زياتوالی:

د نفوسود طبيعي زياتوالي سره يوځای د نفوسو ميخانيکی خو ځښت يعنې مهاجرتونه هم د نفوسو په زياتوالي کې د پاملرنې وړ اغيز لري.

په هېواد کې دننه مهاجرتونه يوازې د نفوسو د بيا ځای پرځای کيدنې سبب ګرځي او د هېواد نفوس تغير نه کوي، خو له هېواد څخه د باندې مهاجرتونه د نفوسو په شمېر باندې اغيز لري. که چيرې هېواد ته له باندې څخه مهاجرتونه له هېواد څخه بهرته مهاجرتونوپه نسبت زيات وي د نفوسو ميخانيکي زياتوالی را منځته کيږي. او برعکس يې د نفوس د کمښت سبب ګرځي. د يوه هېواد د نفوسو په مطلقې ودې کې بايد له زيږيدنو او مړينو سر بېره مهاجرتونه هم وشمېرل شي.

د نفوسو مطلقه وده = ( د زيږونونو شمېر – د مړينې شمېر) + هېواد ته له باندې څخه مهاجرت.

د نفوسو مطلقه وده = (د زيږونونو شمېر – د مړينې شمېر) – له هېواد څخه نورو هېوادونوته مهاجرت،

د نفوسو ډېره زياته طبيعي او ميخانيکي وده د اضافي نفوسو over popalation مسأله رامنځته



(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي. د اضافي نفوسو اصطلاح هغه وخت رامنځته کېږي او استعمالېږي چې په یوه سیمه کې د منابعو له شتو امکاناتو څخه زیات نفوس استوګنه ولري او یا له ټاکلو ټولنیزو هدفونو څخه زیات وي. کله هم ښایي نفوس مناسب وي، خو نامناسب ویش رواج ولري. په ځینو مآخذونو کې د مناسبو نفوسو اصطلاح کارول شوي ده. خو دغه اصطلاح هم کوم ټاکلي تعریف نه لري. اضافي نفوس نسبي اصطلاح ده چې په سیمه کې له منابعو څخه ګټې اخېستنې په اندازې پورې اړه لري. د مثال په ډول پرمختللي هېوادونه له مخ پر ودې هېوادونو څخه له همدې موجوده منابعو څخه د خلکو له پاره ښه کار او زیات امکانات برابر کړي دي. نوله همدې امله د اضافي نفوسو مطالعه د تکنالوژۍ د پرمختګ په سویې پورې اړه لري.

په پای کې ویلای شو چې د نفوسو چټکه وده او د زېږونونو زیاتوالی د وروسته پاتې هېوادونو ځانګړتیا ده. د نفوسو دغه طبیعي زیاتوالی اقتصادي بودجه محدود وي او فشار پرې زیاتوي او کارونه په ټپه دروي.

په ښوونځیو وختونو کې صحي خدماتو زیاته پراختیا نه وه کړې قحطي، ناروغي او جګړې د نفوسو د محدود ولو لاملونه وو. خو نن ورځ نفوس په سرسام اور ډول زیات شوی دي او وروسته پاتې هېوادونه چې له لوږې، ناروغیو او بیکارۍ سره لاس په ګرېوان دي. دغه بیکاري د بېوزلۍ او بېوزلي د فقر او یا غیر قانوني مهاجرتونو سبب ګرځي.

ټولنپوهان دغې زیات زیاتوالي ته د نفوسو چاودنه وایي او ټولنې ته یې زیات خطر بولي. د نړۍ ټول نفوس چې په ۲۰۱۰م کال کې ۶,۸ میلیارده وو. په ۲۰۵۰ میلادي کال کې به ۹ میلیاردو او په ۲۱۵۰ میلادي کال کې د اټکل له مخې ۱۱ میلیاردوته د رسیدو وړاند وینه شوې ده چې که کنټرول نه شي نو نړۍ به له فاجعې سره مخامخ کړي.

## په ټولګي کې د ننه فعالیت:

زده کوونکي دې په مناسبو ډلو وویشل شي او لاندې جدول دې کاپي او بشپړ کړي او هغه پوښتنه چې له جدول څخه لاندې لیکل شوي دي، ځوابونه ووایي او د ډلې استازي دی هغه خپلوټولګیوالو ته وړاندې کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

| هېوادونه | د نفوسو ګڼوالی په یوه کیلومتر مربع ساحه کې | زېږونونه په ۱۰۰۰ تنوکې | مړینه په زرو تنوکې | طبیعي زیاتوالی په زرو تنوکې | د نفوسو وده په سلنه |
|---|---|---|---|---|---|
| برازیل | ۱۸ تنه | ۲۶ | ۸ | ۱۸ | ۱,۸ |
| ایتوپي(حبشه) | ۴۷ تنه | ۴۹ | ۱۹ | | |
| جاپان | ۲۳۰ تنه | ۱۲ | ۸ | ۴ | ۰,۴ |
| عربستان سعودی | ۸ تنه | ۳۶ | ۵ | | |
| ألمان | ۲۲۹ تنه | ۱۱ | ۱۲ | | |
| کنیا | ۴۷ تنه | ۴۳ | ۱۰ | ۳۳ | ۳,۳ |
| د امریکا متحده ایالتونه | ۲۳۹ تنه | ۱۴ | ۹ | | |
| فرانسه | ۱۰۶ تنه | ۱۳ | ۱۰ | | |
| بنګله دیش | ۷۹۱ تنه | ۴۱ | ۱۴ | | |

الف: د هغو هېوادونو د نفوسو طبیعي وده چې معلومه نه ده محاسبه کړئ.

ب: د ټولو هېوادونو طبیعي وده په سلوکې محاسبه کړئ.

ج: آیا کولای شئ چې هېوادونه د نفوسو د لږې او زیاتې ودې له مخې و وېشئ. دغه کار څرنګه کېدای شي؟

## پوښتنې:

۱- مخ پرو دې هېوادونو کې کوم لاملونه د نفوسو د چټکې طبیعي ودې سبب ګرځي؟
۲- د نړۍ په پرمختللو هېوادونو کې کوم لاملونه د ورو ودې باعث ګرځي؟
۳- په یوه هېواد کې کوم لاملونه د اضافي نفوس د ودې سبب ګرځي؟
۴- د اضافي نفوسو اصطلاح هدف څه دي، څرګنده یې کړئ؟
۵- د ټولنې دعمر په جوړښت او ترکیب کې د طبیعي نفوسو چټکه وده په څه ډول ده واضح یې کړئ؟
۶- په هغو هېوادونو کې چې د نفوسو وده یې ورو ده د ټولنې د عمر جوړښت په څه ډول دی توضیح یې کړئ؟

## له ټولګي څخه بهر فعالیت:

لاندې پوښتنو ته ځواب برابر کړئ او د جغرافیې په راتلونکي ساعت کې یې خپلو ټولګیوالو ته وړاندې کړئ.
آیا زموږ د هېواد نفوس په چټکۍ زیاتیږي؟ که چېرې دغه نفوس په همدې ډول زیات شي، څه ستونزې به رامنځته کړي؟ څرنګه کولای شو د نفوسو د زیاتوالي مخنیوی وکړو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږویشتم لوست:

## د نړۍ په ځینو هېوادونو کې د فعال اقتصادي نفوسو دلړوالي ستونزې.




تاسې په تیر لوست کې د اضافي نفوسو په باره کې معلومات حاصل کړل. اوس د نفوسو د کمښت ستونزې مطالعه کوو. د نفوسو کنترول په هغو هېوادونو کې چې په هغې کې اضافي نفوس شتون ولري، ګټور کاردي. خو په یو شمېر نورو هېودونو کې، د نفوسو د کنترول له مخې د زیږونونو شمېر له مړینې څخه لږ دي. همدغه لامل سبب کېږي چې د بوډاګانو نفوس چې عمر یې له۶۵ کلنې څخه زیات وي یا متقاعد او د ناتوانو خلکوشمېر زیاتیږي. په دې صورت کې صنایع د بشري قوې له کمښت سره مخامخ کېږي او د صنایعو پرمختګ محدودیږي. په پای کې په ټولنه کې له موجوده بشري استعدادونو څخه په ټولنه کې په ګټوره توګه ګټه نه اخیستل کېږي دغه حالت په هغو هېوادونو کې چې د فعال اقتصادي نفوسو په کمښت De

population اخته وي( ۱۸ څخه تر ۶۵ کلنی)، لیدل کېږي. او د شتو صنایعو او منابعو په کار اچولولپاره اقتصادي فعالو نفوسو ته اړتیا لري. نو مجبوراً باید دغه اړتیاد زېږونو د هڅونې (د مثال په ډول اروپایي هېوادونو کې چې د فعال اقتصادي نفوسو له کمښت سره مخامخ دي معمولاً د کورنیو د هڅونې، د جایزو په ډالۍ کولو او یا کورنۍ د کار او ژوندانه د وسایلو او دماشومانو د ساتنې د ځانګړو اسانتیاوو په پام کې نیولو له مخې هڅول کېږي). یا هېوادته د بهرنیو مهاجرینو په جلبولو سره دغه ستونزه حلوي.

په پاي کې ویلای شو چې اضافي نفوس او کم نفوس دواړه حالتونه هېواد ته ستونزې پېښوي. یوتن انګلیسي پوهانو د مالتوس په نوم باور درلوده چې د ځمکې سر چینې د نفوسو د اړتیاوو په نسبت چې هره لحظه شمېرېې مخ په زیاتیدو دی، محدودې دي. کورنۍباید د زېږونونو د محدود ولو له لارې کنترول شي. له دویمې نړیوالې جګړې څخه وروسته د نفوسو دغه بېساري زیاتوالی د نړۍ د اقتصادي ستونزو $\frac{2}{3}$ برخې جوړوي. د ۱۹۵۰ میلادي کلونو په لسیزه کې پرمختللو هېوادونو، مخ پر ودې هېوادونوته د اقتصادي او فرهنګي پرمختګ له پاره د کورنیو د محدودولو وړاندیز وکړ. هند لومړنی هېواد و چې د کورنیود محدودولو له پالیسۍ سره یې په ۱۹۵۲ میلادي کال کې موافقه وکړه وروسته دغه پالیسي د چین او د مصر په هېواد کې هم پلې شوه. د چین هېواد په دې برخه کې زیات بریالیتوبونه په برخه شول. د نفوسو د زیاتوالی ضریب چې ۱۹۵۵ میلادی کال کې ۴ سلنه و په ۱۹۹۶ میلادی کال کې ۱٫۷ سلنې ته راښکته شو، چې دهغې له مخې هرې چینایي کورنۍ ته له یوه ماشوم څخه زیات ماشوما ن منع شول. په داسې حال کې چې په هند کې د نفوسو د زیاتوالي ضریب له ۲،۶ - ۳،۹ سلنه دی. د مالتوس د نظریې برخلاف ځینې پوهان باور لري چې زیات نفوس د تولیداتو د زیاتوالي او د اقتصادي ودې سبب ګرځي، نو د نفوسو د زیاتوالي موضوع باید ازاده پرېښودل شي. له همدې امله یو شمېر هېوادونه د کورنیو له محدودولو سره مخالفت کوي او ګڼ نفوسه کورنۍ



(c) ketabton.com: The Digital Library

هڅوي. دغه پالیسي په ۱۹۳۰ میلادي کال کې په نازي آلمان کې پلې شوې وه.

همدارنګه بلجیم، سویډن، انګلیستان او فرانسې کې هم په بېلابېلو وختونوکې یې پلویان درلودل. ددریمې نړۍ په ځینوهېوادونوکې له خپلواکۍ وروسته د بزګرانو او کارګرانو د زیاتوالي لپاره او په خارجیانو باندې نه تکیه کول، د نفوسو د زیاتوالي له پالیسي څخه پلوي کوله. په پای کې ویلای شو، په هغو شرایطو کې چې د لګښت وړ منابع او د نفوسو اندازه یوله بل سره متناسبه نه وي او د مصرف کوونکو فشار له اندازې څخه زیات وي ویلای شو چې په منابعو فشار شته که د نفوسو د زیاتوالي ضریب کم نه شي دغه فشار نور هم زیاتیږي. یاپه بل عبارت که چېرې د یوه هېواد د اقتصادي ودې پلان د نفوسو د زیاتوالي سره متناسب نه وي اقتصادي او ټولنیزې ستونزې را منځته کوي . د نفوسو لړوالی هم د اقتصادي ودې د رکود سبب ګرځي او د صنایعو دنه پرمختګ سبب کېږي او د یوه هېواد د وروسته پاتې کیدو لامل ګرځي.

### په ټولګي کې د ننه فعالیت:

زده کوونکي دې په مناسبو ډلو وویشي. هره ډله دې په لاندې موضوعاتو په خپلو منځوکې بحث وکړي او د فعالیت پایله دې، د ډلې استازې خپلو ټولګیالو ته وړاندې کړي.

آیا زموږ د هېواد منابع د هېواد د نفوسو اړتیاوو ته ځواب ویلای شي یا نه؟

که چېرې د هېواد اړتیاوو ته ځواب ویلای شي، ولې زموږ خلک بېوزلي او بیکاره دي اوبهرنیو هېوادونو ته مها جرت کولو ته اړکېږي په دې برخه کې په خپلو منځوکې بحث وکړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پوښتنې:

لنډ ځواب و واياست

۱- ولې مخ پر ودې زياتو هېوادونو کې د کورنيو په محدود ولو ټينګار کېږي؟

۲- د کورنيو محدود ول څه پايلې لري؟

۳- د کورنيو محدود ول په کومو هېوادونو کې اغېزمن دي؟

٤-ولې ځينې هېوادونه د کورنيو د محدودولو مخالف دي؟

## له ټولګي څخه بهر فعاليت:

لاندې موضوع تحليل کړئ او د جغرافيې په راتلونکي ساعت کې يې خپلوټولګيوالوته وړاندې کړئ.

اضافي نفوس په يوه هېواد کې د کومو ستونزو سبب ګرځي. د هغې لپاره د حل کومه لاره وړاندې کوئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۳.۵ مهاجرتونه او د هغو لاملونه



## مهاجرت څه ته وايي او څو ډوله مهاجرتونه پېژنئ؟

مهاجر یا Immigrount هغه چا ته ویل کېږي چي د استوګنې ځاي ته بدلون ورکړي او د یوه ادراي واحد څخه بل اداري واحد ته نقل مکان شوی وي. مهاجرتونه د انسان د تاریخ په اوږدوکې سرته رسيدلي او بيلا بيل ډولونه لري، چي ځيني په هيواد کې د ننه کېږي، لکه کليوال چی ښارونو، صنعتي سيمو او نوو کرنيزو ځمکو ته مهاجر کيږي او داسې نور. ځيني نور له نړيوالو سرحد ونو څخه تير يږي او بهرنی مهاجرت بلل کيږي.

دغه مهاجرتونه په بېلا بيلو هيواد ونو کې په بېلا بيله اندازه پلي شوي دي. نوموړي زياتره مهاجرتونه اختياري مهاجرتونه دي چي پخپله خوښه د زياتې اجورې اوښه ژوند له پاره کېږي.

خو اجباري مهاجرتونه هم کېږي چي خلک د سياسي او نظامي شخړو په سبب مهاجرت ته اړ شي. هغه خوک چي په هيواد کې د ننه نقل مکان کوي په هيواد کې د ننه د بيځايه شوي په نوم ياديږي. د ملګرو ملتونو د ارقامو له مخي شميريې په ۱۳۸۷ لمريزکال کې ۲۴ ميليونه وو او هغه خلک چي له نړيوالو سرحد ونو څخه اوړي دپناه اخيستو ونکو په نوم ياديږي. لکه فلسطينيانوچي په عربي هيواد ونو کې او

افغانانو په ګاونډیو اود نړۍ په نورو هیواد ونو کې پناه اخیستي ده د هغو پناه اخیستونکوټول شمېر ۱۶ میلیونو ته رسیږي چې افغانان هم په کې شامل دي. ځیني نوموړي مهاجرتونه لنډ مهاله دي چې لومړني ځاي ته د بېر ته راګرځېدو نیت لري. لکه زموږ د هیواد کوچیان چې د آب وهوا،څرځایونو د او دموسم د تغیرله مخې بیا بېرته لومړني ځای ته راګرځي. دایمی مهاجرتونه هم شته چې لومړني ځاي ته د راګر ځیدو نیت نه لري.

مهاجرتونه بیلا بیل لاملونه لري، چې کولای شو د هغې ځینې برخې دلته یادې کړو:

۱. طبیعي لاملونه: طبیعي لاملونه هم د مهاجرت سبب ګرځي لکه په سیمه کې د اوبو کمښت د آب و هوا د شرایطو خرابتیا، د خاورې کمزورتیا یا طبیعي آفتونه لکه زلزله، سیلابونه، سمندري طوفانونه، وچکالي او داسې نور.

۲. اقتصادي لاملونه: اقتصادي لاملونه د مهاجرت بنسټیز لامل دي، اوس دغه مهاجرت دمخ پر ودې هیواد ونو ځانګړ تیاده. ځکه په دې هیواد ونو کې د کلیو او ښارونو ترمنځ ډېره نا برابري ده. په داسې حال کې چې په پر مختللو هیواد ونوکې د کلیوالو ژوند په ډېره چټکۍ سره ښاري ژوند ته نژدې شوي دي. برعکس په دې هیواد ونوکې ښاري خلک مینه لري چې له ښارڅخه د ښار څنډو او کلیوته مهاجرت وکړي، چې په پاکه هوا او چاپیریال کې په ارامه ژوند وکړي.

مخ پرودې هیواد ونو کې ددې مهاجرت اصلي لامل اقتصادي دی. د کلیوالو ر عایدات یوازې لومړنۍ اړتیاوې پوره کوي نو نشي کولای چې په کلیو کې اقتصادي فعالیت پرمخ بوځي. له بلې خوا د نفوسو طبیعي ودې له مخې په کلیو کې ځمکه او اوبه د ټولو اوسیدونکو د اقتصادي فعالیت له پاره کافي نه دي. دکرنې ماشیني کیدل هم د یو زیات شمېر بزګرانو د بیکارۍ سبب ګرځي او مهاجرت ته اړکیږي.

دغه مهاجرین چې زیاتره یې ځوانان دي او په ښارکې خپله دنده له بزګرۍ څخه په غیر بزګري کار ونو بدلوي په ښارونو کې دغه مهاجرین هغه دندې چې لاس ته یې را وړی هم ناکافي دي. ځکه هغوي ماهر کار کو ونکي نه دي، نو په هغو کارونو لاس پورې کوي چې سطح یې ټیټه او عایدیې لږ وي لکه: لاسي خرڅلاو او شاقه فزیکي کارونه او داسې نور. نوپه پای کې په لومړني استوګنځي کې او هغه ځای ته چې د ژوندانه لپاره یې ورته سترګې نیولي وي د نفوسو په زیاتوالي اوکمښت، د نفوسو د عمر په ترکیب، د کار قوه،بیکارۍ مزدورۍ، همدارنګه فرهنګ، او ژبه اغیزه کوي.

د اقتصادي مهاجرتونو بل ډول دکر نېزې ځمکې په پر اختیا، د اوبو لګولو په نویو پروژو، صنعتي سیمو د کانونو په را ا یستلو او تجارتي فعالیتونو او یا برعکس د کورنیو عاید کموالي، بیکاري، د کار خانو تعطیل په سبب منځته راځي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳. سیاسي مهاجرت: دغه اصطلاح زیا تره د سیاسي پناه اخیستو نکو له پاره کارول کېږي. هغه چاته اطلاق کېږي،چې د بیلا بیلو لا ملونه له مخې لکه جګړې، دهشت،سیاسي تعقیب، مذهبی عقایدو، د ټولنیزو ډ لود اړیکو او هغه قومي اقلیتونه چې اصلي هېواد ونه یې پرې ایښي دي او له بل هېواد څخه یې د پناه اخیستنې غو ښتنه کړي وي لکه افغاني پناه اخیستونکي چې له ۱۳۵۷ لمریز کا ل څخه وروسته یې ګاونډیو او د نړې هیواد ونو ته مهاجرت کړی دی اویا د بو سني اوهرزه ګوني د پخوانی( یو ګوسلاویا) پناه اخېستونکي او په افریقاکې د روندا د کمپ پناه اخیستونکي او د سوډان د داد فور پناه اخیستونکي او داسې نور. په جینوا کې د ۱۹۵۱ میلادي کال دکنو انسیون پریکړې، د پناه اخیستنکو د حالت په هکله او د هغو حقونو څخه د دفاع له پاره په یو مهم سند بدل شوي دی. د پناه اخسېتونکي او یا د پناه اخېستنې د غوښتنې اصطلاح هغه چاته ویل کېږي چي په اصلي هیواد کې د عقیدتي فعالیت( ایډیالوژیکي او سیاسي)، نژاد، ژبې، ملیت اوقوم له مخې د تعقیب لاندې وي او یا عملاً (روحي او فزیکي) زندان او مړینې شکنجې خطر لاندې وي.

د اقتصادي او سیاسي مهاجرینو ترمنځ ګډټکي یوازې له وطن څخه جلا توب اوبېوزلي ده. د اقتصاد له مخې مهاجرت، مهاجر ویخپله منلی دی او د خپلې اقتصادي بنې په ښه والي پسي ګرځي. په داسې حال کې دو یم یي (سیاسي مهاجر) ځان قرباني بولي، سره له دې چې په ارامه او مطمینه فضاکې ژوند کوي.

۴- مذهبي مهاجرتونه: دغه ډول مهاجر تونه په مذهبي او نورو ټولنیزو او فرهنګي مسایلو باندې د قیوداتو او محدود یتونود وضع کولو له مخې کېږي. د دې ښه مثال په ۱۹۴۷ میلادي کال کي په هندوستان او پاکستان باندې د هند د لویې نیمې وچې ویش و چې دهغه په پاي کې په میلیونو د هند و مذهب د پیروانو کورنی له پاکستان څخه هند ته او په مقابل کې په میلیونو مسلماني کورنیو له هند څخه پاکستان ته پخپله خوښه مهاجرت وکړ.په لنډه توګه ویلاي شو، هغه لاملونه چې د مهاجرت سبب ګرځي هغه له اقتصادي، بیکاري، طبیعي افتونو، سیاسي، مذهبي، فرهنګي او نور لاملونو څخه عبارت دی.

هغه لاملونه چي د مهاجرینود جذب او هڅونې سبب ګرځي عبارت دي د ښه ژوندانه له امکا ناتو څخه، ښه ښوونه او روزنه، داستوګنې ښه ځاي او په کورنیو پورې تړاو.

## په ټولګي کې د ننه فعالیت:

زده کوونکي په مناسبو ډلو وویشئ. په لاندې موضو عګانو دې پخپلو منځو کې بحث وکړي او د مباحثې پایلې دې د ډلې استازي ټولګیوالوته وړاندې کړئ.

۱. په هیواد کې د ننه مهاجرت اوله هیواد څخه بهر مهاجرت.

۲. د مهاجرت اقتصادي لاملونه.

۳. هغه لاملونه چې د هغې له مخې افغانان نورو هېواد ونو ته مهاجر شوي.

۴. که چېرې مهاجرت له کلیو څخه ښارونو ته ادامه ولري په کلیو او ښارونو کې څه ستو نزې رامنځته کوي. تاسې د دې مهاجرت د کمولو له پاره د حل کومې لارې وړاندې کوئ.

## پوښتنې:

لاندې جملې بشپړې کړئ:

۱. د کوچیانو مهاجرت زموږ په هیواد کې --------- مهاجرت دی.

۲. د فلسطینیانو مهاجرت د اردن او لبنان هیواد ونو ته ------ ډول مهاجرت دی.

لنډ ځواب وواياست:

۳. کوم طبیعي لاملونه د مهاجرت سبب ګرځي؟

۴. ولې د مخ پرودې هیواد ونو خلک له کلیو څخه ښارونو ته او پرمختللي هیواد ونه برعکس له ښار ونو څخه کلیو ته له مهاجرت سره مینه لري؟

۵. د څو اقتصادي ډوله مهاجرتونو نومونه واخلئ.

۶. کوم سیاسي لامل د مهاجرت سبب ګرځي؟

۷. د ۱۹۵۱ میلادي کال د اپریل کنوانسیون چې په ژینوکې لاسلیک شو پناه اخیستونکي یې څه ډول تعریف کړ؟

## له ټولګي څخه بهر فعالیت:


زده کوونکي دې په دې موضوع چې ولې له مخ پرو دې هیواد ونو څخه خارجي مهاجرتونه کېږي. د دې مهاجرتونو د مخنیوي له پاره د حل کومې لارې وړاندې کوئ. یوه مقاله ولیکئ او دجغرافیې په راتلونکي ساعت کې یې خپلوټو لګیوالو ته وړاندې کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

اته ویشتم لوست

# نړیوال مهاجرتونه او د هغې پایلې




په معاصره دوره کې د مهاجرینو نقشه

**ولې خلک له هیواد څخه د بهر مهاجرت سره مینه لري؟**

لکه چې په تیرولوستونوکې یادونه وشوه، مهاجرت د دوو لا ملونوله مخې کیږي.

۱ . نامساعد لاملونه: لکه طبیعي،اقتصادي، ټولنیز، سیاسي او مذهبي لاملونه چې په مخکینیو لوستونوکې ورڅخه یادونه شوې ده.

۲ .جزبونکي لاملونه: لکه دیوې ساحې دنفوسوکموالي، راښکونکې سیمې، د ځمکې لاندې منابع،دکار زیاتوالي او ډیره اجوره.

مهاجرتونه د تاریخ په اوږدوکې رامنځته شوي دي اوتراوسه جریان لري.ځیني په هیواد کې دننه وي، چې په هیواد کې دننه دمهاجرت په نوم یادیږي، ځیني له نړیوالو سرحد ونوڅخه په تیریدو سره کیږي، چې د بهرنیومهاجرتونوپه نوم یادیږي.مهاجرین غواړي چې د اړونده هیواد له سیاسي، اقتصادي یاټولنیزوشرایط څخه ګټه واخلي. د آریایانو مهاجرتونه ختیځ، جنوب او لویدیځ ته اویاد ختیځي آسیاد خلکو مهاجرت، د امریکا لویې وچې او همدارنګه نړیوال مهاجرتونود ۱۵ م پیړۍ د جغرافیایي لویواکتشافونوپه پایله کې پراختیاومونده او د نړۍ نورو سیمو ته د اروپایانو د مهاجرت سبب شو. په هغه وخت کې په یوه نیمه پیړۍ کې ۷۰ میلیونه تنه مهاجرشول، چې له خپلې پانګې څخه په نوې نړۍ کې ګټه واخلي اوپه سوداګرۍ لاس پورې کړي. په پایله کې د امریکا او اوقیانوسیې



(c) ketabton.com: The Digital Library

لوېږ وچې ګڼ نفوسه شوې. چې ښه مثال یې دشمالي امریکا هیواد ونه دي. چې ۹۵ سلنه نفوس یې اروپا یي مهاجرین او ۲ سلنه یې افریقایي توریوستکي دي. د ۱۹ پېړۍ په ټوله دوره کې د نفوسو زیاتوالی او اقتصادي بحران د مهاجرتونو سبب شوچې دهغو پواسط د اروپا اضافي نفوسودګنوالي د روند بار کم شو. یوازې د انګلستان په هیواد کې له ۱۸۱۵ میلادي څخه تر ۱۹۲۰ میلادي پورې ۱۷ میلیونه تنومهاجرت پیل کړ. دغو مهاجرتونو دوه اړخونه درلودل، دایمي مهاجرین او د اداري کارکونکواو مذهبي مبلغینو مهاجرت چې موقتي جنبه یې لرله. ددې دوو مهاجرینو له ترکیب څخه د بریتانیا امپراتوري رامنځته شوه. چې وروسته دغه مهاجرتونه په بېساري ډول په نړیواله ستونزه بدل شوه او هیواد ونه یې اړکړل چې د مهاجرینو د منلو له پاره مقررات وضع کړي. د امریکا دمتحده ایالتونوکانګرس دمهاجرینو دمخنیوي له پاره په ۱۹۲۴ میلادي کال کې دمهاجرینو په نوم قانون تصویب کړ. دغه قانون امریکا ته په هغه شمېر مهاجرین چې له بیلا بیلو هیواد ونو څخه کولای شي امریکا ته راشي مقررات وضع کړل. نوموړي قانون زیات دهغو مهاجرینو مخه نیوله چې د جاپان اوچین ژېرنژاد پورې یې اړه درلوده. وروسته د نورو هیواد ونو په باره کې هم عملي شو. ددې مقررې له مخې مهاجرین باید خپله پانګه هم له ځانه سره ولري. هغوی کولای شول چې له پنځو کلونو وروسته په امریکا کې د اوسېدنې تابعییت حاصل کړي او یا له امریکا څخه خارج شي. اوس بر عکس زیاتره نړیوال مهاجرین د درېمې نړۍ له هیوادونو څخه پرمختللي صنعتي هیوادونو ته کېږي چې بنسټیزلامل یې اقتصادي اوسیاسي لامل دي. کله چې د یوې کورنۍ عایدات یوازې د لومړنیو اړتیا وو پوره کول وي او یا حد اقل معاش وي، هغوی د دې توان نه لري چې په هیواد کې د ننه پانګه واچوي. له بلې خوا ورځ په ورځ نفوس زیاتېږي او د نفوسو طبیعي زیا توالی او دا سې نور مشکلات ددې





(c) ketabton.com: The Digital Library

سبب گرځي چي خلك له کليو ښخه ښارونو او خارجي هيواد ونو ته مهاجرت وکړي. ځرنگه چي هغوی له مهاجرت له پاره قانوني اسناد نه لري. نو له غير قانوني اوقاچاقي لاروڅخه استفاده کوي. نو د ستو نزو په منلو او آن د تلفاتو په منلو ځانونه تاکلي هيواد ونو ته رسوي. دغه نفوس د يوه هيواد فعا ل اقتصادي نفوس( له ۱۵ کلنه څخه تر ۶۵ کلنه پورې) احتواکوي ځرنگه چي دهغوي يو شمير دکار کولو رسمي ويزه اوکار کولو اجازه او د کار ځانگړې مهارت نه لري نوله همدې امله لږمعاش او خراب چاپيريال کې چي د دولت نظارت څخه لېرې وي شاقه او غير صحي کارونو ته مخه کوي.

ديا دونې ور خبره دا ده چي يو شميرپر مختللي پانگه وال هيواد ونه د نفوسو د طبيعي کنترول له مخي د بشري قوي له کمښت سره مخامخ دي چي د دې ستونزې د حل له پاره د قانوني لارې مهاجر کار گران مني. په لويديځه اروپا کي تقريبا ۱۱ ميليونه مهاجرکار گران کارکوي. د مهاجروکار گرانو د منلو له مخې المان په لومړۍ درجه کې دی، وربسې انگلستان،فرانسه، سويس او سکند يناوي هيواد ونه دي.

د لويديځي اروپا هيواد ونه په ورستيو کلونوکې له گاونډيو هيواد ونو(ايتاليې، پرتگا ل او هسپانيې) موسيمي مهاجرو کارگرانو د کموالي د احساس له مخي، د جنوب ختيځې اروپا، ترکيې، د انتيل د ټا پوگانو او افريقا د هيواد ونو کارگرانو ته متوجه شول. المانيان معمولاً د ترکې اويو نانې مهاجرو کارگرانو څخه، فرانسويان د شمالي افريقا د مهاجرو کارگرانو څخه او انگلستان د مشترك المنافع د هيواد ونو له کارگرانو څخه گټه اخلي. د امريکا متحده ايالتونه د مکسيکو له مو سيمی کار گرانو څخه کاراخلي.

په همدې ډول د نړۍ د پرمختللو پانگه والو هيواد ونو څخه مخ پرودې هيواد ونو ته هم مهاجرت کيږي د هغوی پانگه په کارکې پوهه په تيره بيا د هغوی په کارکی تجربه ده چي پخپلو هيواد ونو کې يې حاصله کړې ده.په کال کې د دې مهاجر ينو شمير تقريباً له ۲۰۰ څخه تر ۳۰۰ زرو پورې رسيږي، چي د کار او د ښه ژوند په لټه کې خپل هيواد ونه پريږدي او د لويو وچو ترمنځ په مهاجرت لاس پورې کوي. نوي سيمې دغه مهاجرين په پرانيستې غېږه او زياتو امکاناتو او ښه ژوند په برابرولو مني. خارجي مهاجرتونه، له هغه هيواد ونو څخه چي مهاجرت کوي د نفوسو په کمښت او هغو هيواد ونو ته چي مهاجرت کيږي د نفوسو د زياتوالي سبب گرځي. د مخ پرودې هيواد ونو ټول مهاجرين ځوان او فعال اقتصادي نفوس تشکيلوي. د دې مهاجرت له مخې د مخ پر ودې هيواد ونو فعال اقتصادي نفوس کميږي، چي په پای کې د اقتصادي رکود سبب گرځي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## په ټولګي کې د ننه فعالیت:

زده کوونکي دې په مناسبو ډلوویشل شي. د لاندې موضوعګانو په باره کې دې پخپلو منځو کې بحث وکړي او مباحثې پایله دې د ډلې مشر په ټولګي کې وړاندې کړي.

١. دیوه هیواد کوم نا مساعد عوامل او سیدونکي د وطن پرېښودوته اړباسي. دغه ستو نزه پخپلو کې وارزوئ.

٢. کوم لاملونه د مهاجرینو د جذب سبب ګرځي. زموږ له هیواد څخه زیات مهاجرین کومو هیوادونوته تللي دي. ولې؟

٣. تاسي له کلو څخه ښارونو ته د مهاجرینو د کموالي او مخنیوي لپاره اویاله وطن څخه دباندې مهاجرت له پاره څه وړاندیز لرئ؟

٤. د خارجي مهاجرتونو اغیزې د هیواد په اقتصاد او نفوسو ترکتنې لاندې ونیسي.

٥. د مخ پرودې او پر مختللو پانګه وال هیوادونو د مهاجرینو شرایط پرتله کړئ.

### پوښتنې:

١. کوم لاملونه د مهاجرینو د جذب سبب ګرځي؟

٢. کوم لاملونه د مهاجرینو مخه نیسي؟

٣. د جغرافیایي لویو اکتشافاتو څخه وروسته کومو لویو وچو زیات مهاجرین منلي دي؟

۴. ولې د امریکا د متحده ایالتونو کانګرس په ۱۹۲۴ میلادي کال کې امریکا ته د مهاجرینو قانون وضع کړ.

۵. کوم لاملونه له دریمې نړۍ څخه پر مختللي صنعتي هیوادونو ته دمهاجرت سبب ګرځي؟

۶. کومو مهاجرتونو ته قانوني او کومو مهاجرتونو ته غیر قانوني مهاجرتونه وایي؟

## له ټولګي څخه بهر فعالیت:

زموږ په هیواد کې کوم لاملونه د داخلي او خارجي مهاجرتونون د زیاتوالي سبب ګرځي.
د دې تحلیلي مطلب په باره کې مقاله ولیکئ او د جغرافیه د مضمون په راتلونکي ساعت کې یې خپلو ټولګیوالو ته وړاندې کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۴,۵ نژادونه



په نړۍ کې ولې بیلابیل نژادونه شته؟

## الف: نژاد

نژاد دخلکو ډلې ته ویل کېږي چې د ظاهري څېرې، د پوستکي او وېښتانو رنګ، بیلوونکې نښو او ارثي ګډې ځانګړتیاوې و لري. د نړۍ ټول خلک په دریو اصل نژادونو ویشل شوي دي. چې له سپین یا اروپایي نژاد،ژیړ نژاد یا مغولي نژاد او تور یااستوایي نژاد څخه عبارت دي.له یادو شوو نژادونو څخه هر یو نژاد ځانګړي ارثي مشخصات لري. لکه د وېښتانو شکل او رنګ، دپوستکي رنګ او دسترګو،پزې او دسردکوپړۍ جوړښت او داسې نورې ځانګړتیاوې.

**سپین نژاد**: لوړه ونه،سپین پوستکی، جګه پزه او خرمایي وېښتان او پرانېستي سترګو ځانګړې بڼه او داسې نور.

**ژیړ نژاد**: ژیړ پوستکې، تور او صاف وېښتان، لږه رېږه،ګرد سر، بادامي سترګې لنډه پزه ، ټيټه ونه او لږ غونډې ځاغ وي.

**تور نژاد**: تور یا نصواري ته ورته پوستکی اوپلنه پزه، ګړګوتي وېښتان او پیړې شونډې لري.



(c) ketabton.com: The Digital Library

گډ يا دوه رگه نژاد: د مهاجرتونو او د مختلفو نژادونو تر منځ دودونو په پايله کې منځته راغلي دي لکه مولات او سامبو نژادونه.

**سره پوستکي**: اصلاً د ژېړ نژاد پورې اړه لري، خو د مذهبي عقيدوله مخې په مخ او وېښتانو نکريزي وهي. نوله همدې امله د سور پوستکو په نوم مشهور شوي دي.

ستاسې په نظر دنوموړو نژادونو په منځته راتللوکې کوم لاملونه اغېزه لري؟په داسې حال کې چې ټول انسانان له يوه مور او پلار څخه يعنې آدم (ع) او بي بي حوا (ع) څخه پيدا شوي دي.

پوهان دې پوښتنې ته داسې ځواب وايي:

نژادونه د طبيعي چاپېريال د بېلابېلو شرايطو، اقليم او خوړو سره د تطابق له مخې چې په انساني ژوند باندې اغېزه لري، را منځته شوي دي. نوموړي طبيعي شرايط په بېلابېلو نژادونو اغېزه کوي. د مثال په ډول په کومو ځايونو کې چې تور پوستکي ژوند کوي د لمر وړانگې په عمود ډول لگېږي او د هوا تودوخه زياته وي او لمر دسيمې د اوسېدونکو په پوستکي په مستقيم ډول اغېزه کوي، له اړتياوو اندازې څخه زياته تودوخه انسانانو ته تاوان اړوي. نو له همدې امله ددې هېوادونو د اوسېدونکو جسم ( اورگانېزم) د زرگونو کلونو په تېريدو سره له اندازې څخه دزياتې تودوخې سره توافق کړي دي او په پاي کې دتور رنگه نسجونو ماده يي په پوستکي کې را ټوله‌ېږي. دغه نسجي ماده (ميلانين) د پوستکي ايپدرمس رنگينه طبقه داسې حجرات لري چې د پوستکي رنگ جوړ وي، ژېړ، نصواري، سور اوآن داچې تور رنگ لرونکي وي.

د هغو خلکو پوستکي چې ډېر ميلانين لري د بدن پوستکي يي زيات تور وي، دغه ماده د لمر دوړانگو د نفوذ مخه نېسي او پوستکي د لمر د وړانگوله سوځېدو څخه ژغوري. د وخت په تېريدو سره په دې ډله کې د پوستکي توروالي مېراثي گرځي، زيږه او گړگوتي وېښتان د سر کاسه له تودوخې څخه ساتي.

سپين پوستکي زياتره په شمالي معتدله سيموکې ژوند کوي، په داسې سيمو کې زيات اوربښت، لندبل او زياتره وريځ وي او خلك يي له لمر څخه لږه‌گټه اخلي، نو له همدې امله يي بدن زيات لمر ته اړتيا لري. د هغوی په بدن کې د ميلانين ماده يوازې په اوړي کې زياتيږي. هغه وخت چې د انسان بدن د لمر د وړانگو پواسطه د اړتيا وړ ويټامين ډي جذبوي د انسان پوستکي غنم رنگه



(c) ketabton.com: The Digital Library

گرځي.

په هغو ځايونو کې چې ژیړ پوستکي ژوند کوي، په هغه ځايوکې معمولاً باد او طوفانون لګېږي، چې له ځان سره خاورې، میده شګې انتقالوي. د کلونو په تېریدو سره له دې بادونو او طوفانونو سره توافق کوي او د ژیړ پوستکو سترګې تنګېږي، چې و کولای شي دخاورې او شګوپه وړاندې وساتل شي. دغه نښه په ژیړ پوستکو کې ارثي ګرځی اود زیاتره خلکو ورځني خواړه وریجي وي، چې ډېرلږ غذايي مواد لري. ټول نژادونه د ذکاوت او استعداد له مخې توپیر نه لري، د هغوی ظاهره څېره لکه چې ورڅخه يادونه وشوه د طبيعي او محيطي شرايطو محصول دی.

ځینې پوهان باور لري چې سپين نژاد، عالي نژاد دی او ژیړ او تور نژاد له شاته پاتې نژادونو څخه ګڼل کېږي. هغوی یوازې جسماني کارونه سرته رسوي. نژاد پالونکي تراوسه په ځینو هېوادونو کې همدغه نظرعملي کوي. په دې هېوادونوکې تور پوستکي له سپين پوستکو څخه لږ ارزښت لري نو تور پوستکي تحقير وي او لږه حق الزحمه ورکوي.

۱۹۶۵م کال د ملګرو ملتونو عمومي غونډې د ټولوډولونو نژادي تبعيض د له منځته وړلولپاره نړيواله معاهده لاسليک کړه. د هغې له مخې يې د هر ډول نظرياتو خپريدل چې په نژادي امتيازاتو ولاړ وي منع کړل. توهين اود هر ډول نژادي تبعيض لپاره هڅې جنايت ګڼي. دغه موضوع د اساسي قانون د دويم فصل په ۲۲ ماده کې درج شوې ده. چې د افغانستان په اتباعو کې هر ډول تبعيض او امتياز منع دي.د افغانستان اتباع ښځې وي او که نارينه د قانون په وړاندې مساوي حقونه اووجايب لري.

## په ټولګي کې د ننه فعاليت:

زده کوونکي دې په مساوي ډلووېشل شي او هره ډله دې په لاندې موضوعګانو پخپلو منځو کې بحث وکړي او د بحث پايله دې د ډلې داستازي په واسطه خپلو ټولګيوالوته وړاندې کړي.

۱- په بشري نژادونوکې کوم نژاد ذکي اوډېر استعداد لري؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

۲-ولې تور نژاد تور پوستکي او ظاهري ځانګړې ښېره لري؟

۳-ولې سپين نژاد ظاهري ځانګړې خصوصيات لري ؟

۴-سره پوستکي دنړۍ په کومه لويه وچه کې استوګن دي او دښېرې د سوروالي علت يې توضيح کړئ؟

۵-ګډ نژاد په څه ډول منځته راځي؟

## پوښتنې:

لنډ ځواب ور کړئ:

۱-د تور پوستکو ظاهري ځانګړ تياوې بيان کړئ.

۲-سور پوستکي په نړۍ کې په کوم نژاد پورې اړه لري؟

سم ځواب په نښه کړئ:

۱-د نړۍ ټول خلك په څلورو نژادونو لکه سپين،سور،تور او ژيړ نژاد ويشل شوي دي.

۲-سپين نژاد لوړه ونه، سپين پوستکې، جګه پزه، تور ګورګوتي وېښتان لري.

۳- نژادونه د بېلابېلو طبيعي محيطونو،اقليم او خوړو محصول دي.

لاندې جملې بشپړې کړئ:

۱-ګډ نژادونه د مهاجرت او د ودونو پواسطه منځته راغلي لکه...... او ......

۲-د اساسي قانون د دويم فصل ........ مادې له مخې د افغانستان اتباعو ترمنځ هر ډول تبعيض او امتياز منع دی.

## له ټولګي څخه بهر فعاليت:

لاندې موضوع تحليل کړئ او د جغرافيې په راتلونکي ساعت کې يې ټولګيوالو ته وړاندې کړئ.

زموږ دهېواد خلك دکوم نژاد پورې اړه لري. دهېواد اساسي قانون په کومه ماده کې هر ډول تبعيض منع شوي دي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ب: د نژادونو جغرافیایي ویش:




په آسیا کې د ژبو او نژادونو د ویش نقشه

د نړۍ په کومو لویو وچو کې د سپین نژاد، او تور نژاد نفوس متمرکز شوي دي؟

د آسیا د لویې وچې نفوس له بېلابیلو نژادونو څخه جوړ شوي دي، چې زیاتره یې زیړ نژاد جوړ وي او پاتې نور یې سپین پوستکي او تور پوستکي دي.

د هغوی د جغرافیایي ویش په باره کې لنډ معلومات وړاندې کېږي.

### د آسیا د لویې وچې نژادي ګروپونه:

**الف زیړ نژاد:** د آسیا په لویه وچې کې ددې نژاد خلکو د نورونژادونو په پرتله ډېر نفوس تشکیل کړي دي. مغلان، تبتیان، سامویدیان، ترکمنان، قرغیز یان د شمالي چین خلک،کوریایان په لړ څه تو پیر همدغه نژادي ځانګړتیا وې لري، د جنوب ختیځې آسیا خلک ( جنوبي چین، کامبوج، لاوس، تایلند، برما او ویتنام او آن جاپانیان


چې د پوستکي رنګ يې روښانه دي د همدغې نژاد برخه جوړوي. ددې نژاد ځينې فرعي ډلې دشمالي سايبريا د تندرا او تايګاه په ځنګلونو ( ستنې ډوله پاڼې لرونکي ځنګلونو) کې د خو زريزوخلکو د ډلې په څېر ژوند کوي.

**ب- سپين نژاد**: په هندوچين کې د سپين پوستکو نژاد نسبتاً لږ شمېر موندل کېږي، چې په ابتدايي ډول ژوند کوي.د سپين پوستکو د استوګنې اصلي ځاي د هماليا غرونو دلړيو لويديځې سيمې او دهند نيمه وچه ده . افغانان،ايرانيان،بلوڅان، قفقازيان او روسان د سپين نژاد ښې بېلګې دي. همدارنګه سامي نژاد ه په عربستان، سوريه، اردن، اسرائيل، د ترکيې يوه برخه او کردستان کې استوګن دي د سپين غنم رنګه نژاد پورې اړه لري.

**ج: تور نژاد**: تور نژاد په استوايي سيموکې ژوند کوي، چې نژاد پېژندونکي هغوي ته نګريتو Negritos وايي. دغه تور پوستکي کوړې کوړې وېښتان لري چې سوچه بېلګه يې په سيلون،هند کې د هماليې د غره په جنوب کې، د ملاکا په ټاپو وزمه، د انديمان او نيکوبار په ټاپوګانو کې تيت شوي دي. دغه خلک په نيمه ابتدايي حالت ژوند کوي او زياتره يې په ځنګلونو کې استوګن دي چې زياتره يې د هماليه د غرونو په جنوب کې استوګنه کوي.

## د اروپا د لويې وچې نژادي ډلې:

د اروپا اوسيدونکي تقريباً ټول سپين پوستکي دي او په شمالي، ختيځ، الپي، ديناريکي اومديترانه يي ډلو ويشل شوي دي. شمالي او ختيځ سپين نژاد برخې داستوګنې ځای سکنديناوي هېوادونه، انګلستان، د فرانسې شمال، المان، لهستان(پولينډ) د روسيې اروپايي برخه ده، الپي نژاد يې د اروپا په مرکزي او لويديځو برخوکې استوګن دي. په داسې حال کې چې مديترانه يي نژاد ځانګه يې غنم رنګه څېره لري د مديترانې د سمندر ګي په شاوخوا هېوادونو کې ځای پر ځای شوی دي د اروپايي نژاد ديناريکي برخه په البانيه او دختيځې اروپا په ځينو هېوادونو کې ژوند کوي. لاپنيان د اروپا په ډېره شمالي برخو کې استوګن دي.




په اروپا کې د نژادونو د ويش نقشه



(c) ketabton.com: The Digital Library

## د افریقا دلویې وچې نژادي ډلې:



په افریقاکې د نفوسو ویش

د افریقا نژادي ډلې تور پوستان، عربان، بربریان، آسیایان او اروپایان تشکیلوي. تور پوستان دافریقا ۷۰ سلنه نفوس جوړوي، چې ټول یې د لویې صحرا په جنوب کې استوګن دي. تورنژاد هم په څلورو ډلو ویشل کېږي: چې عبارت دي له بانتو، نیلوت Nelotes پیګیمي Pygmies بوشمن Bushmen او هوتن تت Hottentots څخه.

د دې هرې ډلې په څېره کې زیات توپیرونه لیدل کېږي.بانتو د افریقا دتورپوستا نو ډېره لویه ډله ده چې د افریقا په لویدیځ کې په تیره بیا ددې سیمې دساحل په اوږدو کې په مرکزي افریقاکې، په ختیځ او جنوب ختیځ برخو کې او د مادغاسکر په ټاپوکې ژوند کوي.

د هغوي د بدن پوستکی قهوه اي، پلنه پزه، ډبلې شونډې او کوړې کوړې ویښتان لري.

نیلوت خلک جګه ونه لري( ۱۸۳سانتي متره) چې په سوډان، یوګندا او کینیا کې ژوند کوي.

پیګمیان په استوایي ځنګلونو کې استوګن دي. ونه یې ټېټه ده ( لوړوالي یې ۱۴۷ سانتي مترو پورې رسېږي).

بوشمن او هوتن تت ټېټه ونه لري او د کالاهاري ددښتې په شاوخواکې ژوند کوي.




(c) ketabton.com: The Digital Library

عربان او بربران د لوېې صحرا په شمال کې استوګن دي. عربان غنم رنګه دي او تو ر وېښتان لري د افریقا په شمال لویدیځ کې سپین پوستکي بربر قبیلې ژوند کوي چې په نسل کې داسپانیې اوایټالیې له خلکو سره ورته والی لري. نو له همدې امله د الجزایر، تونس اومراکش هېوادونو، خلك د بربر دهېوادونو په نوم یادوي.

سپین پوستکي اروپایې مهاجر، له استعمار څخه وروسته په افریقا کې تیت شول.د تمرکز اصلي ځاي یې په شمال لویدیځ کې ( المغرب) اوپه جنوب کې ( جنوبي افریقا او زمبابوي)دي. همدارنګه په کینیا او زایر کې هم ژوند کوي، مهاجرآسیایان له اروپایانو څخه زیات دي. هندیان په جنوبي افریقا، کینیا او یوګنډا کې استوګن دي. د مورشس د ټاپوګانو نفوس زیاتره هندیان دي.د ماد غاسکر زیاتره نفوس مالایي یان او پولینزي یان دي.

## د امریکادلوې وچې نژادي ډلې:

د امریکا زیات اوسېدونکي سپین پوستکي یاګډ نژاد څخه دي.د امریکا د لوېې وچې اصلي اوسېدونکي سور پوستکي دي. چې په اصل کې د زیږ نژادیوه برخه ده، چې د مذهبي عقیدې له مخې خپل مخ اوېښتان په نکریزو سره کوي.شمېر یې په شمالي امریکا کې ډېر محدود دی، خو په مکسیکو او السلوادور کې د نفوسو اصلي عنصر ګڼل کېږي، د بولیویا، ګوایتمالا، اکوادور، پیرو ا و پاراګوای د لوړوسیمو نیم نفوس سور پوستکي دي. د امریکا په لویه وچه کې د سپین پوستکو دزیاتوالي لامل د نړۍ له بېلا بېلو هېوادونو څخه امریکاته د



د امریکا په لویه وچه د نژادونو د ویش نقشه




(c) ketabton.com: The Digital Library

سپین پوستکو مهاجرت ګډل کېږي زیږ پوستکو له چین او جاپان څخه دې لویې وچې ته مهاجرت کړی دی. تور نژاد د غلامی اوغلامانو د خرڅلاو د رواجولو په پایله کې امریکاته له افریقا څخه راوړل شوي دي. له پورتوریکو، کیوبا او دومنیکن پرته نور ټول ټاپوګان د توریپوستکو د استوګنې سیمې ګڼل کېږي او د ونزویلا،سورینام، فرانسوي ګیانا او پانامې کې تور پوستکي ژوند کوي.

دوه رګه اوګډ نژادونه د سپین پوستکو او تور پوستکو د ودونو په پایله کې (مولات Mollstes) اوتور پوستکو او سور پوستکو د وادوکولو په پایله کې زانبوس(Zanbus) د څلورنیمو پېړیو په اوږدو کې را منځته شوي دي، زیاتره دغه نژادونه د مرکزي او جنوبي امریکا په هېوادونوکې ژوند کوي. په اقیانوسیه کې زیات نفوس سپین پوستکي اروپایی مهاجرین دي. یو لږ شمېر تور پوستکي او زیږ پوستکي او دوه رګه نژادونه هم شته.

## د استرالیا نژادي ډلې:

د اروپایانو له مهاجرت څخه مخکې په استرالیا کې ۵۰۰ تور پوستکې قبیلې مېشتې وې چې د خلکوشمېرېې څه ناڅه شپیته زرو تنو ته رسیده. د استرالیا اروپایي کېدنه له (۱۸۳۰) م کال څخه وروسته د اروپایانوله مهاجرت سره پیل شوه. لومړني مهاجرین یې هغه محکومین وو چې دهېواد د پرېښودو په جزا محکوم شوي وو. اوس ددې لویې وچې د دوه رګه وو نفوس اکثریت جوړوي. د هغې لامل داوه چې سپین پوستکې ښځه حاضره نه وه چې دې ټاپوګانو ته مهاجرت وکړي ، نو له همدې امله یې له بومي ښځو سره یې ودونه وکړل او ګډ نفوس یې را منځته کړ.



**په ټولګي کې د ننه فعالیت:**

زده کوونکي دې په مناسبوډلو وویشل شي او یو له پوښتنو څخه دې دیو اوبل په مشوره ځواب برابر کړي او دډلې استازي دې خپلو ټولګیوالوته وړاندې کړي.

۱- د نقشې له مخې په نړۍ کې د سپین نژاد د استوګنې ځاي تثبیت کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ - د نقشې له مخې په نړۍ کې د زېړ نژاد د استوګنې ځای تثبیت کړي.

۳- د نقشې له مخې د تور نژاد د استوګنې ځای تثبیت کړي.

۴- د زېړ نژاد خصوصیت ولیکئ.

۵- ګډ نژاد څه ته وایي او دغه نژاد د نړۍ په کومه لویه وچه کې زیات دی.

## پوښتنې:

لاندې تش ځایونه په مناسبو کلمو ډک کړئ.

۱ - د آسیا د لویې وچې اکثریت نفوس .........تشکیلوي.

۲ - د اروپا اکثریت نفوس........نژاد، د افریقا...........نژاد تشکیلوي.

۳- د تور پوستکو او سپین پوستکو دوادو کولو په پایله کې...........ګډ نژاد را منځته شو.

لنډ ځواب ورکړئ:

۱- د اروپایي سپین نژاد غنم رنګه برخه د نړۍ په کومو هېوادونو کې ژوند کوي.

۲- د افریقاد لوېې وچې دنژادي ګروپونو نومونه واخلئ.

۳- سور نژاد ځانګړتیا وې بیان کړئ.

۴- ګډ نژاد څه ته وایي او دغه نژاد زیاتره په کومه لویه وچه کې شتون لري؟

## له ټولګي څخه بهر فعالیت:

مهاجرین په کومو لویو وچو کې د نفوسو د زیاتوالي سبب شوي.


ددې مطلب لاندې مقاله ولیکئ او د جغرافیې په را تلونکې ساعت کې په ټولګي کې وړاندې کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# شپږم څپرکی

## ۶-۱ د نړۍ د مهمو دینونو په هکله څه پوهېږئ؟




پاسنۍ نقشه په غور ولولئ او و وایاست چې په نړۍ کې کوم دینونه زیات پیروان لري؟

دین د انسانانو د فرهنګ ډېر مهم عنصر دې. هر یو دین له یوه ټاکلي ځای کې منځته راغلي دي او وروسته نورو سیموته خپور شوي دي. دینونه معمولاً له سیاسي، نژادي، ژبني او اقتصادي سرحدونو څخه اوړي او د نفوذ ساحه یې له پورتنیو لاملونو څخه د هیڅ یو تابع نه ده، دینونه دپیروانو د عقیدې له مخې په لاندې برخو وېشل کېږي:

**۱. انیمېزم** Animism **یا د طبیعي پدیدو د عقیدو پیروان**: انیمیزم د انسانانو له لومړنیو آیینونو څخه ګڼل کېږي، د دې آیین پیروان وایي چې ټول شیان او جمادات روح لري. ددې آیین پیروانو په تیرو وختونو او دوروکې په تیره بیاله تاریخي دورې څخه مخکې، طبیعي په تیره بیاحیرانوونکي (خارق العاده) شیانو او پدیدوته د خدایي خاصیت قایل و، لکه بریښنا، تندر، رو ښنایي، طوفان، باران او داسې نور د ماورای طبیعت قدرت په صفت پېژندل. دغه آیین اوس په قطبي، بیاباني او لېرې پرتو ځنګلي سیمو کې په تور پوستو او زېړ پوستو خلکو کې لیدل کېږي.

**۲. د ارباب الانواع د عقیدې پیروان**: ددې عقیدې پیروانو باور درلوده چې هره حادثه او پدیده جلا خدای لري. دغه آیین دیونان له مدنیت څخه پیل شوی دی او د روم د مدنیت په وخت کې اعلی درجې ته ورسیده لکه د اورغورځوونکي (اتشفشان)خدای، د بریښنا او تندر خدای، دسمندرونو خدای، د ستورو

خدای، د باران خدایاو داسې نور.

**۳. د اسماني دينونو پېروان**: دغه دينونه زياتره اخلاقي اړخ لري او د خدای(ج) عبادت کوي. چې د هغې د لارښوونې له پاره يې بيلابيل پيغمبران درلودل لکه يهوديت، مسيحيت او اسلام چې ترټولو کامل دين د اسلام مقدس دين دی.

له بېلابيلو دينونو څخه د خلکو پيروي ځينې وختونه په ټولنيز چاپيريا ل کې د زياتو توپيرونو سبب ګرځي. مثلاً هندوان د غوايي غوښه نه خوري او د غوايي غوښه خوړل په کې منع دي. د هغوي د ژوندانه په قلمرو کې د غوايي د غوښې د خرڅلاو مرکزونه، نه ليدل کېږي. همدارنګه مسلمانان او عيسويان چې خپل مړي ښخوي. د هغوی د ژوندانه په ساحه کې هديرې ليدل کېږې. په هغو ځايونو کې چې هندوان اوسيږي، نو هلته د مړو د سوځيدو ځايونه ليدل کېږي، ځکه چې هغوی خپل مړي سوځوي.

د رخصتۍ ورځې هم په بيلابيلو دينونو کې تو پيرلري، چې په اقتصادي فعاليتونو او نورو کارونو اغېزلري. دبيلګې په ډول په اسلام کې د جمعې ورځ او په عيسويت کې د يکشنبې ورځ رخصتي وي. په اسلامي سيمو کې د معمارۍ ځانګړی سبک شتون لري او کورونه د حريم ټاکلي ځايونه لري. جماتونه ګلدستې، رواقونه، منارونه او ګنبځې په اسلامي هېوادونو کې ځانګړی سبک لري چې په عيسويت کې داډول سبک نه ليدل کېږي.

## په ټولګي کې د ننه فعاليت:

زده کوونکي په مناسبو ډلو و ويشئ. هره ډله دې دنړۍ ددينونو په نقشه کي دانميزم، ارباب الانواع او آسماني دينونو دعقيدو دنفوذ ساحه، په نښه کړي اوهره ډله دې راټول شوي معلومات خپلوټولګيوالو ته وښيي.

## پوښتنې:

لنډ ځوابونه ورکړئ:

۱. دنړۍ دينونه په عمومي ډول په څو برخو ويشل شوي دي؟

۲. اينميزم څه ډول مذهب دی؟

۳. ارباب الانواع له انيميزم سره څه تو پير لري؟

٤. کاملترين دين کوم يو دی؟

۵. په يوه سيمه کې د يو ځانګړي فرهنګي سيمي په را منځته کيدو کي د مذهب د آيين اغيزي واضح کړئ.

## له ټولګي څخه بهر فعاليت:


دنړۍ د دينونو او آيينونو نومونه واخلئ او دين او آيين ترمنځ تو پيرونه واضح کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# الف: داسلام سپیڅلی دین

دنړۍ د اسلامي هیوادونو په هکله څه پوهیږئ؟




پو رتنی نقشې ته ځیرشئ او و وایاست چې زیات اسلامي هیوادونه دنړۍ په کومه لویه وچه کې پراته دی؟

د اسلام سپیڅلې دین د الهي و حدانیت او ټولنیز عدالت په بنسټ ولاړدی، چې د حضرت محمد(ص) په بعثت او دقرانکریم په نازلیدو سره په مکه مکرمه کې انسانانو ته وړاندې شو.

کله چې حضرت محمد(ص) له مکې معظمې څخه مدینې منورې ته هجرت وکړ، له هغې څخه وروسته داسلام مقدس دین په ډیره چټکۍ خپورشو اود ختیځ اولویدیځ په افکارویې زیاتې او دایمي اغیزې وکړې. زیاتروخلکو دقناعت اوښه والي له مخې اسلام و منه او نوریې هم اسلام ته دعوت کړل نو ځکه په ډیره لږموده کې په پراخه ساحه کې خپورشو.

اوس دنړۍ په ټولو هیوادونو کې اسلامي دعوت په یوه ډول یا بل ډول وجود لري.

نن ورځ مسلمانان د ځمکې په پراخه ساحه کې استوګن شوي دي. تقریباً د نړۍ د نفوسو پنځمه برخه

مسلمانان دي. د آسیالویه وچه دنړۍ د مسلمانانود استوګنې لومړنۍ سیمه ده. ددې لویې وچې اسلامي هېوادونه په منځني ختځ،منځنۍ آسیا، جنوبي او جنوب ختیځې آسیا کې پراته دي. د دې اسلامي هېوادونو د خاورې پراختیا ۱۵ میلیونه کیلومتره مربع او نفوس یې د آسیا د لویې وچې د نفوسو دریمه برخه جوړوي. په آسیا کې ۲۷ هېوادونه مسلمانان دي چې د هغو څخه د ۱۸ هېوادونو رسمي دین اسلام دی.

د یادونې وړده چې د اسلام سپیڅلی دین د آسیا په جنوب ختیځ کې(اندونیز یا کې) د هند ګجراتي او ایراني سوداګرانو په ۱۳ پېړۍ کې له سوداګرۍ سره یوځای د اسلام دین هم خپورکړ، ترڅو چې د وخت حاکمانو هغه ومانه او دهغه د خپرولوله پاره یې هڅې وکړې. نن ورځ ددې سیمې زیات مسلمانان په اندونیزیا، مالیزیا، بروني او فلیپین کې استوګنه لري.

د افریقا لویه وچه د اسلام دویم مرکز ګڼل کېږي.د افریقا په لویه وچه کې د مسلمانانو داستوګنې سیمه ددې وچې په شمال کې پرته ده دغه ناحیه د مدیترانې د سمندرګي په جنوب کې د سواناد تحت استوایي سیمې، په ختیځ کې د سره سمندرګي او په لویدیځ کې د اطلس د سمندر پورې غزیدلې ده. په نورو افریقایي هېوادونوکی په مختلفو فیصدۍ استوګن دي.

د اروپا او امریکا په لویه وچه کې د پاملرنې وړشمېر مسلمانان اوسیږي. د اروپا په لویه وچه کې په البانیې، بوسني او هرزګوني او په امریکا کې سور ینام په دواړو لویو وچو کې اسلامي سیمې ګڼل کېږي.

د ۲۰۰۰ میلادي کال د احصایې له مخې په ۶۳ نورو هېوادونوکې هم له ۱- ۳۸ سلنه پورې مسلمانان ژوند کوي. اوس په نړۍ کې داسې هېواد نه شته چې هلته مسلمانان نه وي د زیاتو معلوماتو لپاره د دې لوست اړوند جدول ته مراجعه وکړئ.

د اسلامي نړۍ هېوادونه د اقتصاد او نفوسو له پلوه یوډول نه دي، خو په ځینوکارونو کې ګډې موخې لري. اسلامي زیات هېوادونه د طبیعي منابعو له مخې لکه نفت، طبیعي ګاز، د ډبروسکاره، مس، ر بړ او داسې نورو له پلوه ډېر شتمن دي. د نړۍ په ٦٥،٥ سلنه د نفتو زېرمې د فارس په خلیج(په عرب خلیج) کې پرتې دي. د همدغوسرچینود شتون له مخې د نړۍ د استعمارګرانو د پام وړګر ځیدلي دي. په همدې ډول زیات اسلامي هېوادونه د استعماري هېوادونو د لاس وهنې اود متخصصینو د نشتوالي له مخې له خپلو منابعو څخه هم ګټه نه شي اخېستلای. په همدې دلیل په ارزانه بیه د لومړنیو اوموتوکو دسر چینو( منابعو) محصولات صادروي او په مقابل کې په لوړه بیه له پرمختللو هېوادونو څخه کالي واردوي. د اقتصاد له پلوه په شتمنو هېوادونو پورې تړلي دي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاندنې جدول ۲۰۰۰ میلادي کال د احصایې له مخې ترتیب شوی دی

# اضافي معلومات

| ګڼه | دآسیا په لویه وچه کې | دمسلمان شمیر په سلنه | رسمي دین | ګڼه | د افریقا د په لویه وچه کې | دمسلمان شمیرنه په سلته | رسمی دین | ګڼه | د اروپا لویه وچه | د مسلمان شمیرنه په سلنه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | افغانستان | ۹۹/۶ | اسلام | ۱ | الجزایر | ۹۹,۷ | اسلام | ۱ | اذربایجان | ۸۴ |
| ۲ | اردن | ۹۳,۵ | اسلام | ۲ | تانزانیا | ۳۵ | | ۲ | الباني | ۳۸,۸ |
| ۳ | ازبکستان | ۷۶/۲ | - | ۳ | تونس | ۹۸,۹ | اسلام | ۳ | بسینیا و | ۴۳ |
| | اندونیزیا | ۷۶/۵ | - | | جیبوتي | ۹۴,۱ | | | هرزګونیا | |
| ۴ | امارات | ۸۲/۷ | اسلام | ۴ | چاد | ۵۹ | | | | |
| ۵ | متحدعرب | | اسلام | ۵ | سنیګال | ۸۷,۶ | | | د امریکا د | |
| | ایران | ۹۹/۲ | اسلام | ۶ | سودان | .۷۰/۳ | | | لویې وچې | |
| ۶ | بحرین | ۸۲/۴ | اسلام | ۷ | سومالي | ۹۸/۳ | اسلام | ۱ | هیوادونه | |
| ۷ | بروني | ۶۴/۴ | اسلام | | سیرالیون | ۴۵,۹ | | | سورینام | |
| | بنګله دیش | ۸۵/۸ | اسلام | ۸ | ساحل عاج | ۳۸/۶ | | | | ۱۹/۶ |
| ۸ | تاجکستان | ۷۸/۶ | - | ۹ | صحرا | ۱۰۰ | - | | | |
| ۹ | ترکمنستان | ۸۷/۲ | - | ۱۰ | کومورو | ۹۸ | | | | |
| ۱۰ | ترکیه | ۹۷/۴ | - | ۱۱ | ګامبیا | ۸۶,۹ | | | | |
| ۱۱ | پاکستان | ۹۶ | اسلام | ۱۲ | ګینه | ۶۷,۳ | | | | |
| ۱۲ | سوریه | ۸۶/۲ | - | ۱۳ | ګینه بسیاو | ۳۹,۹ | - | | | |
| ۱۳ | فلسطین | ۸۷/۷ | اسلام | ۱۴ | لیبیا | ۹۶,۱ | اسلام | | | |
| ۱۴ | قزاقستان | ۴۲/۲ | - | | مالي | ۸۲ | اسلام | | | |
| | قرغزستان | ۶۰/۸ | - | ۱۵ | مصر | ۸۴,۴ | اسلام | | | |
| ۱۵ | قطر | ۸۲/۷ | اسلام | ۱۶ | المغرب | ۹۸,۳ | اسلام | | | |
| ۱۶ | عربستان سعودي | ۹۴ | اسلام | ۱۷ | موریتاني | ۹۹,۱ | اسلام | | | |
| ۱۷ | عراق | ۹۶ | اسلام | | نیجیر | ۹۰/۷ | | | | |
| ۱۸ | عمان | ۸۷/۴ | اسلام | ۱۸ | نیجریا | ۴۵/۹ | | | | |
| ۱۹ | کویت | ۸۳ | اسلام | ۱۹ | ولتای علیا | ۴۸,۶ | | | | |
| | لبنان | ۵۵/۳ | - | ۲۰ | (بورګینافاسو) | | | | | |
| ۲۰ | مالدیو | ۱۰۰ | اسلام | ۲۱ | ارتیریا | ۵۰ | | | | |
| ۲۱ | مالیزیا | ۶۰/۴۵ | اسلام | ۲۲ | | | | | | |
| ۲۲ | یمن | ۹۸/۹ | اسلام | ۲۳ | | | | | | |

په برما، سریلانکا او فلیپین کې یوزیات شمېر مسلمانان ژوندکوي او دهند دنفوسو ۱۲ سلنه مسلمانان دي.

د اسلامي نړۍ د کنفرانس غړي ۵۷ هېوادونه دي چې ۲۵ هېوادونه یې په اسیا ، ۲۷ هېوادونه یې په افریقا ۳ هېواودونه یې اروپا او ۲ هېوادونه یې په امریکا کې دي.

## په ټولګي کې د ننه فعالیت:

زده کوونکي دې په مناسبوډ لوکې تنظیم شي او هره ډله دې د نړۍ په ټولو لویو وچو کې د اسلام د دین د خپریدو د علتونو په هکله پخپلو منځو کې مباحثه وکړي او د ډلې استازی دې بحث پایلې په ټولګي کې وړاندې کړي. ښوونکی دې د بحث پایلې له خپل معلومات سره یوځای کړي او زده کوونکو ته دې توضیحات ورکړي.

## پوښتنې:

لنډ ځواب ورکړئ

۱. د اسلام د دین بنسټ په څه شي ولاړدی؟

۲. په حضرت محمد(ص) لومړنۍ وحی څه وخت او په کوم ځای کې نازله شوه؟

۳. ولې اسلامي هېوادونه دنړۍ د استعمارګرانو د پاملرنې وړدي؟


سم ځواب په نښه کړئ:

۱. د آسیا د جنوب ختیځ په کوم هېواد کې د نړۍ ډېر زیات نفوس ژوند کوي؟


الف: مالیزیا ب: اندونېزیا ج: بنګله دیش د: افغانستان

## له ټولګي څخه بهر فعالیت:

له ورکړ شوې نقشې او د نړۍ د اسلامي هېوادونو دلست څخه په ګټې اخېستنې د اسلامي هېوادونو بې نومه نقشه کاپي او بشپړه کړئ او د جغرافیې د مضمون په راتلونکي ساعت کې یې دلویو وچو په بیلوالی ټولګي کې وړاندې کړئ.



## ب -د مسیحیت د دین په باب څه پوهېږئ؟




د نړۍ د دینونو نقشه


پورتنی نقشې ته وګورئ او ووایاست چې د عیسویت د دین د پیروانو د نفوذ سیمې د نړۍ په کومو لویو وچو کې پرتې دي؟

عیسویت د آسماني نړیوالو دینونو له جملې څخه دی چې زیات پیروان لري او د لومړۍ میلادي پېړۍ په لومړیو کې ښکاره شوی دی او د دویمې میلادي پېړۍ په پای کې په ډېره چټکۍ یې پراختیا موندلې ده. دغه دین لومړی د حضرت عیسی (ع) بن مریم په واسطه په فلسطین کې خلکوته ور وپېژندل شو. څرنګه چې حضرت عیسی(ع) پلارنه درلوده، نو ځکه د عیسی (ع) بن مریم په نوم یا د شوی دی.

پیروان یې دهغه د پیدایښت په هکله ډېرې نظریې لري. آن داچې ځنې هغه د الوهیت په درجه کې هم ګوري. له همدې امله دنن ورځې عیسویت له توحید څخه منحرف شوی او شرکونو او زیاتو خرافاتو په کې ځای نیولی دی عیسویان په تثلیث عقیده لري یعنې په دریو خدایانو باورلري: خدای،خدای زوی(عیسی بن مریم) او روح القدس یا مریم.

حضرت عیسی(ع) د بني اسرائیلو په انبیاوو کې وروستنی پیغمبر دی او د حضرت عیسی(ع) او حضرت محمد(ص) دپیدایښت ترمنځ بل پیغمبر نه دی رالېږل شوی. حضرت عیسی(ع) پخپل ژوند کې واده نه دی کړی او نه یې د استوګنې له پاره کور جوړ کړی دی.

د مسیحیت دین د لومړی کنستاتین په وخت کې له ۳۰۶ څخه تر ۳۳۷ میلادي کلونو پورې رسمي دین او کلیسا د روم د امپراطور د حکومت د مستقیم نظارت لاندې و او قوانین یې له مسیحیت سره موافق کړل، د سان پیترو لومړنۍ کلیسا په اوسني واتیکان کې جوړه شوه.




د مسیحیت د دین دسترو څانګو په باره کې څه پوهیږئ؟

د عیسویت مذهب په ۲۵۰ مذهبي فرقو ویشل شوی دی چې له هغې جملې څخه یې درې غوره برخې په لاندې ډول دي:

۱. **کاتولیک**: د کلي اوعمومي په معنادی. دغه اصطلاح دهغې پخوانۍ کلیسا په باره کې چې په نورو څانګو ویشل شوی نه وه او درومي کاتولیک په نوم یادیده، استعمالیده. د کلیسا په راس کې پاپ و. په لاتیني ژبه کې د پاپ اصطلاح د پلارپه معناده.

د روم اسقف د دغې برترۍ له مخې په ټولې مسیحي نړۍ باندې د مستقیم او مرکزي کنترول مدعي شو. د کاتولیکانو له نظره پاپ له ټولو ګناهونو، تیروتنو او اشتباګانو څخه مصئون دی. د کلیسا کار کوونکي باید واده ونه کړي. دغه مذهب په لومړۍ درجه په ایتالیه، بلجیم، فرانسه، اسپانیه، پرتګال او په ځانګړې توګه په لاتیني قوم کې او په دویمه درجه د اتریش، پولینډ، مجارستان، چک، سلواک، کرواتي او سلواني (پخوانۍ یوګو سلاویا) او اقلیتونه یې د بریتانیا په اتحادیه او نورو اروپایي هېوادونو کې په سترګو کېږي.

۲. **ارتودوکس** Orthodox: د کامل او صحیح په معنادی. د روم امپراطوري په ٤٧٦ میلادي کال کې په دوو ختیځو او لویدیځو برخو وویشل شوه. په همدې دلیل کلیسا هم د لویدیځ روم په کلیسا(کاتولیک) او یوناني ختیځ روم( ارتودوکس) وویشل شوه. دلویدیځ روم کلیسا هڅه کوله چې خپل نفوذ په سلاویانو(بلغارستان) کې پراخه کړي. دغه عمل د ختیځ روم کلیسا ناراضه کړه.

په همدې ډول مسلمانانو دیرموک په جګړه کې د حضرت عمر(رض) د خلافت په دوره کې ٦٢٦



(c) ketabton.com: The Digital Library

میلادي کال کې ختیځ روم ته ما ته ورکړه او د سوریې او فلسطین سیمې یې ازادې کړې. د امویانو د خلافت په دوره کې ترکیه هم د مسلمانانو په لاس کې ولویده. د روم امپراطور دریم لیوي د اسلام د دین د نفوذ دمخنیوي لپاره ځیني مذهبي اصلاحات یې عملي کړل. په ۷۶۶ میلادي کال کې فرمان صادر شو چې د هغه له مخې دانځورونو او تمثالونو نصبول په کلیسا کې منع شول. دغه عمل یې یو ډول بت پرستي وګڼله. دغه عمل په ختیځې او لویدیځې اروپا کې عکس العملونه رامنځته کړل. په ختیځ روم کې د نظامي قوې په زور عملي شول، خو د روم په ښارکې دریم پاپ ګری ګورس مذهبي شورا جوړه کړه او فتوا یې صادره کړه چې هر څوک چې په کلیسا کې تصویرونو او تمثال ته احترام نه کوي د ایمان له دایرې څخه خارجیږي.

د دې دواړو مذهبي فرقو ترمنځ لوی اختلاف په لاندې ډول دی:

۱. ارتودوکس په قطعي ډول د دې اصل مخالف دي چې د روم پاپ د مسیحي کلیسا په ټولو ټولنو عمومي ریاست ولري.

۲. د روم پاپ معصوم نه دی، باید په ایماني او اخلاقي مسایلوکې تیروتنې ونه کړې. د ارتودوکس د کلیسا کارمندان په واده کولو کې خود مختار دي.

د روسیې، صربستان، رومانیه او یونان زیاتره خلك او په عمومي ډول پر سلاویانو کې د ارتودوکس مذهب زیات پیروان لري.

۳. **پروتستانت**protestant: د اعتراض کوونکي په معنادي.

کاتولیکي کلیسا چې زیاتره دشکوه او جلال پسې ګرځیده نو د خپلو اړتیاوو دپوره کولو لپاره یې دګناهونو د بخښنې پاڼې اولوحې خر څولې او روحاني مقام یې د پیسو په مقابل کې پلورلو. آلمان کې مارتین لوتر روحاني(۱۴۸۳-۱۵٤٦ میلادي کال پورې ژوندي و د اعتراض لاندې را وستل په ۱۵۱۷ میلادي کال د اکتوبر په ۳۱ اعتراضیه لیک چې ۹۵ مادې یې درلودې ولیکه.په ۱۵۳۴میلادی کال کې انجیل د لاتینې ژبې څخه چې مذهبي ژبه وه په آلماني ژبه و ژباړل شو او د انجیل لوستل اسانه شول. نوزیاتره خلك د لوتري کلیسا پلویان شول. چې شرایط یې اسانه وو او ډېر لږ یې شعایرو او رسم و رواجونو ته پاملرنه کوله دغه مذهب دلو تریسم په نوم هم یادیږي.

د پروتستانت څانګه په اروپا کې په جرمني قومونو کې زیات پیروان لري.ددغه مذهب پیروان په فنلند، سویډن، ناروې، ډنمارک، انګلستان، هالند، المان، اتریش او دسویس، چك، سلواك د هېوادونو په یوه برخه کې او هم د اروپا په نورو هېوادونو کې ځیني کوچنی لږه کی ژوند کوي.

د جغرافیایي لویو اکتشافاتو څخه وروسته، په ۱٦میلادي پېړۍ کې چې اروپایانولویې استعماري

امپراتورۍ جوړې کړې، نو په ټوله نړۍ کې یې خپل فرهنگ او مذهب خپور کړ. اوس د اروپا په ټولو پخوانیو مستعمروکې په بیلابیلو سلنو ددې دین پیروان شته د مثال په ډول د ټولو جنوبي او منځنی امریکا د هېوادونو مذهب کاتولیک او د شمالي امریکا د هېوادونو پروتستانت او کاتولیک دی. په همدې ډول هغه افریقایي هېوادونو کې چې یو وخت د اروپا د استعمار لاندې وو دغه مذهبونه شته. ښه مثال یې جنوبی افریقا، ایتوپي او دگینې د خلیج ساحلي هېوادونه دي.

د اسیا او اوقیانوسیې د پخواني استعمار لاندې هېوادونو کې په مختلفو سلنو ددې مذهب پیروان شته دي. سره له دې هم عیسوي دین د جنوبي امریکا په دریوو هېوادونوکې(ارجنټاین، بولیوي او پیرو) په یو افریقایي هېواد(لیسوتو) او په دریوو اروپایي هېوادونو (مالټ، ناروي او واتیکان) کې د هېوادونو رسمي دین گڼل کیږي.

## په ټولگي کې د ننه فعالیت:

زده کوونکي دې په مناسبو ډلو وویشل شي او هره ډله دې د نقشې له مخې په نړۍ کې د عیسویت د دین د خپریدو دلاملونو په هکله پخپلو منځو کې بحث وکړي او دکار نتیجه دې د ډلې استازی خپلو ټولگیوالو ته وړاندې کړي.

## پوښتنې:

لنډ ځواب ورکړئ:

۱. د عیسویت دین ولې په دې نوم یادیږي؟
۲. دبني اسرا ئیلو په نبیانو کې وروستنی نبي څوک و؟
۳. د حضرت مسیح(ع) دزیږیدنې په هکله خپل معلومات وړاندې کړئ
٤. د عیسویت د دین مهمې څانگې کومې دي؟
٥. د کاتولیکي او ارتودوکس د کلیسا وو ترمنځ تو پیر څه دی واضح یې کړئ؟

## له ټولگي څخه بهر فعالیت:

د اروپا له لویې وچې څخه د باندې دعیسویت د دین دخپریدو په هکله تبصره وکړئ او د جغرافیې په راتلونکي ساعت کې یې خپلوټولگیوالو ته وړاندې کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ج - د تائوییزم taoism او شینتو ییزم shIntoism آینونوپه هکله څه پوهېږئ؟

د نړۍ د ادیانو نقشه په (۱۲۳) مخ کې ولولئ او د تائوییزم او شینتوییزم د آیین ساحه په کې په نښه کړئ.

تا ئو په چیني ژبه کې د لارې او طریقې په معنادی دغه ښوونځی یا مکتب د چین په لوی فیلسوف لاوو تزو او یا لاووتان پورې اړه لري. یو افسانوي سړی چې د څېړني او مطالعې خاوند و، د هغه د ژوندانه د سرگذشت په هکله کوم معلومات په لاس کې نه شته. آن داچې د موجودیت حقیقت یې هم له پوښتنې لاندې دی.

داسې روایات شته چې دغه شخصیت د چو په ایالت کې له میلاد څخه مخکې په ۶۰۴ کال کې نړۍ ته راغی او ځینې دهغه د زیږون نېټه له میلاد څخه مخکې ۵۰۷ کاله بولي.

د تائوییزم فلسفه دکنفسیوس له عصرڅخه په چین کې مخکې ده.

د چین قوم او ملت په دغې عقیدې ولاړ دی. د تائوییزم آیین په ۱۶۵ میلادي کال کې د هوان له خواد هان د لړۍ خاقان په واسطه رسمي شو او دهغه په نوم یې معبد جوړکړ، خو دومره زیات پرمختگ یې ونه کړ. د تانگ د لړۍ بنسټ ایښودونکي په ۶۱۸ میلادي کال کې په هغه ایمان راوړو. له دې څخه وروسته تائوییزم په ساز ماني بڼه رسمي دین شو.

- شینتوییزم په لغت کې(د خدایانو د لارې) په معنادی او د جاپان د خلکوآیین دی.

ددې آیین له مخې زیات شمېر خدایان شته، چې امپراطور هم د خدایانو له ډلې څخه شمېرل کېږي. دغه آیین د جاپان له میلاد څخه په مخکې تاریخ پورې اړه لري.

جاپانیان باورلري چې له جاپانیانو څخه پرته، نور باید په دې هېواد کې ژوند ونه کړي او چاپانیان هم باید په بل ځای کې مړه نه شي. جاپانیان خپله سیمه الهي هېواد بولي او نور هېوادونه ددې ځانگړتیاوو لرونکی نه گڼي.

د شینتوییزم آیین د جاپانیانو ډېر پخواني آیین دی، چې وروسته یې د کنفسیوس او بودایي آینونو د اغېزو لاندې تحول وکړ. اوسنی بڼه یې اداب،عنعنات، د مقدسو ځایو زیارت، جشنونه او عمومي اخترونه دی. دغه مسألې په مذهبي اړخ غلبه لري. ددې آیین پیروان په جاپان او د ختیځې آسیا په زیاترو هېوادونو کې ژوند کوي

### په ټولګي کې د ننه فعالیت:

زده کوونکي دې په دوه نفري ډلو وویشل شي د تائوییزم او شنتوییزم د آینونو د فلسفې په غوره ټکو دې پخپلو منځوکې مباحثه وکړي او د بحث پایلې دې خپلو ټولګیوالوته وړاندې کړي.

### پوښتنې:

۱. د تائوییزم د آیین معناڅه ده او دغه آیین په کوم هېواد کې رامنځته شو؟

۲. د تائوییزم آیین پیروان په کومو هېوادونوکې استوګنه لري؟

۳. د شنتوییزم د آیین معناڅه ده او دغه ایین په کومو هېوادونو کې زیات پیروان لري؟

۴. د شنتوییزم د آیین له مخې د جاپانیانو نظرد خپل هېواد په باره کې بیان کړئ.

### له ټولګي څخه بهر فعالیت:

د تائوییزم او شنتوییزم د آیینونو په هکله خپل نظر په خو کرښوکی ولیکئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## د-بودايي او هندوييزم د آيينونو په هکله څه پوهېږئ؟

په (۱۲۳ او ۱۲۹) مخ کې د نړۍ دمذهبونو نقشه په غور ولولئ او ووایاست چې بودايي دين د نړۍ کومو هېوادونو ته پراختيا موندلې ده؟

بودايي Buddha آيين له ميلاد څخه پنځه پېړۍ مخکې رامنځته شو. د هغه موسس د سيدارتا په نوم يو شهزاده و چې په (۳۰) کلنۍ عمر کې يې په دې لار کې بريالیتوب تر لاسه کړ او د گوتاما لقب ورته ورکړ شو څرنگه چې پوهې او حقيقت ته ورسيده نو بودا (عاقل او فيلسوف) ونومول شو.

بودا باور درلود چې انسان بايد خپل نفساني تمايلات شهوت او غضب و پېژني او هغه کنترول کړي.

بودايي آيين ډېر پلويان او کتابونه لري چې له ټولو څخه يې زيات مقدس ترى پتيکا( درې ټوکرۍگل) دى. نن ورځ ددې آيين ډېر پېروان په هند، جاپان، چين، مغلستان، تبت، برما،کامبوج، تايليند بوتان او د نړۍ په نورو سيمو کې ژوند کوي. مقدس ښارونه يې په هند کې بنارس او په تبت کې لهاسا دى. دغه آيين د کامبوج، بوتان او تايلينډ په هېوادونو کې رسميت لري. د يادونې وړده چې د بودا مجسمه لومړی په گندهارا(د جلال آباد په هډه کې) د کنشکا دحکومت په وخت کې په افغانستان کې جوړه شوې وه. وروسته په باميانو کې لويې مجسمې په غره کې وتوړل شوې اودبوديزم دزيارت کوونکو ډېرستر ځای گڼل کيده. ددې آيين له سترو فرقو څخه لامائييزم دى. لاماييزم د بوديزم ځانگړى بڼه گڼل کېږي او زيات قلمرو يې په تبت کې دى چې د کار واک يې د روحاني رئيس په لاس کې دى چې لاما نوميږى.

هندوييزم Hinduism يو ټولنيز مذهبي سيستم دى چې د ۱۵۰۰ ميلادي کال په شاوخوا کې يې په هندوستان کې رواج درلوده. نن ورځ د هند زياتره خلک ددې آيين پيروان دي.

ددې آيين ځانگړتيا دروح تناسخ دى. د هندوانو په باور هر انسان په نړۍ کې د خپلو نيکو او بدو عملونو مسؤول دى. د هغوی په باور که چېرې انسان خپل ژوند په سمه توگه سرته ورسوي، نو روح يې دښه سړي جسم ته او که بدکاره اوسي نو روح يې د مجازاتو له پاره د بد سړي جسم ته آن داچې حيواناتو ته انتقالېږي او تر هغه وخته دې کارته دوام ورکوي تر څوچې انسان نيک کارونه سرته ورسوي.

هندوان بايد طبقاتي قوانين مراعات کړي او داسې باور ولري چې د هغو په رعايت سره بيا په دې نړۍ کې زېږېږي اود هوسا ژوند خاوندان به شي. د هندوانو آيين درې خدايان لري برهما(د موجوداتو خالق)، ويشنو(د موجوداتو د ساتنې خدای)او شيوا(د موجوداتو د له منځه وړلو خدای) ددې آيين مقدس کتاب ويدا (د برهمنيانو ودا Vda)نوم لري. دغه کتاب دهند دارياانو له پاره هم سپېڅلی( مقدس) دى، چې د سانسکريت په ژبه ليکل شوى دى. د هند ددې پخواني دين اصول مذهبي سرودونه او دستورونه گڼل کېږي. چې لرغونتوب يې له ميلاد څخه ۷ پېړۍ مخکې دى.

هندوييزم په کاست مذهبي طبقاتو باور لري، چې نوموړي طبقات له برهمنانو، ويشيا، کشتريا او شودرا څخه عبارت دي. چې د هرې طبقې مقام په ټولنه کې تاکل شوى دى د پاملرنې ورنقطه داده چې دنړۍ ټول لوى دينونه او آيينونه د آسيا په لويه وچه کې څرگند شوي دى او د نړۍ نورو سيموته خپاره شوي دي. هر دين او آيين په بيلابيلو فرقو ويشل شوى دى.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## په ټولګي کې د ننه فعالیت:

زده کوونکي دې په مناسبو ډلو وویشل شي او هره ډله دې دبودیزم او هندوییزم د آیینونو په غوره ټکو بحث وکړي اود ډلې استازی دې د فعالیت نتیجه خپلو ټولګیوالوته وړاندې کړي. ښوونکی دې موضوع را ټوله او د خپلو معلوماتو سره دې ټولګي ته وړاندې کړي.

## پوښتنې:

لنډ ځواب ورکړئ

۱. د بودیزم د آیین بنسټ ایښودونکی څوک و، چېرې رامنځته شو او مقدس کتاب یې څه نو مېږي؟

۲. د بودیزم آیین د نړۍ په کومو هېوادونو کې پیروان لري؟

۳. د هندویزم په آیین کې دروح تناسخ په کومه معناکارول کېږي؟

لاندې جملې بشپړې کړئ:

۱. د هندویزم مقدس کتاب ........... په نوم یادیږي.

۲. د بودایانو مقدس کتاب د........... په نوم یادیږي.

## له ټولګي څخه بهر فعالیت:

ګرانو زده کوونکو بودیزم او هندو یزم آیینونو په سیاسي فلسفي مسألو خپله تبصره ولیکئ او د جغرافیې د مضمون په راتلونکي ساعت کې یې خپلو ټولګیوالو ته ولولي.

### اضافي معلومات

| ګڼه | هېوادونه | هندوایيزم | بودیزم | تائوایيزم | شنتوایيزم | ګڼه | هېوادونه | هندوایيزم | بودیزم | تائوایيزم | شنتوایيزم |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | اندونیزیا | ٪ ۳/۴ | | | | ۱۰ | فیجي | ٪ ۳۳/۳ | | | |
| ۲ | انګلیستان | ٪ ۱ | | | | ۱۱ | شمالي کوریا | | ٪ ۲۲/۸ | | |
| ۳ | بنګله دیش | ٪ ۱۲/۴ | ٪ ۰/۶ | | | ۱۲ | مالیزیا | | ٪ ۱۹/۲ | | |
| ۴ | بوتان | ٪ ۲۰/۵ | ٪ ۷۴ | | | ۱۳ | میانمار | | ٪ ۷۲/۷ | | |
| ۵ | تایوان | | ٪ ۴۳/۴ | ٪ ۳۴/۵ | | ۱۴ | موریس | ٪ ۴۹/۶ | | | |
| ۶ | پاکستان | ٪ ۱/۲ | | | | ۱۵ | نیپال | ٪ ۸۰/۶ | | | |
| ۷ | جاپان | | | | ٪ ۸۴/۲ | ۱۶ | ویتنام | | ٪ ۴۹/۲ | | |
| ۸ | چین | | ٪ ۸/۵ | ٪ ۲۰/۱ | | ۱۷ | هند | ٪ ۸۱/۳ | ٪ ۹/۱ | | |
| ۹ | سنګاپور | ٪ ۴۲/۴ | | | | | | | | | |




(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږ دیرشم لوست

## ۶–۲ دنړۍ مهمې ژبې:

آیا د نړۍ مهمې ژبې پیژنئ؟




پورتنۍ نقشه په غور سره مطالعه کړئ. د دې نقشې مختلف رنګونه دنړۍ د بیلابیلو ژبو ښکارندویي کوي.

ژبه دصوتي سمبولونو دقراردادي کسب کوونکي سیستم څخه عبارت ده، چې انسان دهغې په وسیله خپلې تجربې تبادله کوي او راتلونکو نسلونو ته يې انتقالوي.

ژبه پوهولو او را پوهولو (د افهام او تفهیم) وسیله اود علایمو سیستم دی، چې دپوهې د انتقال او حاصلولو، معاشرې او دخلکو دتفاهم له پاره کارول کیږي او د انسانانو دکار او فعالیت په پروسه کې منځته راغلې او په تدریجي ډول یې تکامل کړی. خبرې کول انسان ته ددې توان ور بخښي چې خپلې تجربې وساتي او هغه راتلونکي نسل ته انتقال کړي.

د دنیا هغه ژبې چې یوه ریښه ولري د ژبو دکورنۍ په نوم یادیږي. دنړۍ د ژبو کورنۍ په لاندې

ډول دي:

**الف**: **اندو اروپايي ژبې**: د ژبو دغه برخه د ژبو د ډلو ډېره پراخه ډله ده، چې د اندو اروپايي په بيلابيلو څانگو (لاتين، بالتيک، سلاويک، جرمانيک، اريک او ارمني) ويشل شوې ده.

**ب**: دنيگرو ژبه کې لاندېنۍ دوه ژبې شاملې دي:

**۱** - د سوډان په جنوب، د چاد په جمهوريت، نايجريا اود افريقا په استوايي هيواد نوکې خلک په دې ژبې خبرې کوي.

**۲** -: **دبا نتو ژبه**: دکانگو، زمبيا او انگولا دحوزې خلک پرې خبرې کوي.

**ج**: **حامي او سامي ژبه**: په عربي آسيايي او دافريقا د شمالي برخې په هيوادونوکې اکثريت لري.

- **سامي ژبه**: د عربستان په ټاپو وزمه،د مصر په عربي جمهوريت، ليبيا، الجزاير، مالي او په مراکش کې مروجه ده.
- **دحامي ژبه**: په حبشه، الجزاير، نايجر او دسنيگال په يوه برخه کې خلک پرې خبري کوي.

د التايي او اورالي ژبو کې لاندې پنځه ژبې شاملې دي:

**۱** - دفن په ژبه د الپ، فنلنډ، اويستاک او د اروپايي روسيې شمالی خلک پرې خبرې کوي.

**۲** - **ترکي**: په ترکيه، ترکمنستان، ازبکستان، قزاقستان، قرغزستان، چين او افغانستان کې پرې خبرې کوي.

**۳** - **منگوليايي**: په منگوليا( مغلستان) او د چين په شمال کې خلک پرې خبرې کوي.

**۴** - **د توگوس ژبه**: د سايبريا په شمال کې په تيره بيا د تايگا او تندرا سيموکې مروجه ده.

**۵** - **جاپاني او کوريايي ژبه**: دجاپان په ټاپوگانو او د کوريا په ټاپو وزمه کې خلک پرې خبرې کوي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## نوري ژبې:

**۱**- ماليزيايي او پولنزيايي ژبه: ماليزيايي او پولنزيايي ژبه د جاوا، سوماټرا په ټاپوګانو، د کمبوديا په يوه برخه او د بورنيوېه ټاپو ګانوکې رواج لري.

**۲**- دامريکا اصلي او بومي ژبه د امازون په حوزه کې مروجه ده.

**۳**- د دراويدن ژبه: د هند په جنوب کې او د سريلانکا په يوه برخه کې رواج لري.

**۴**- چيني ژبه ديوې کتلې په توګه دچين په هيواد کې رواج لري.

أيا پوهيږئ چې د نړۍ زيات خلک په کومو ژبو خبرې کوي؟

### اضافي معلومات

د نړۍ مهمې ژبې چې زيات ويونکي لري.(شميرې په ميليون تنو)

| ژبه | مورنۍ ژبه | دژبې ټول ويونکي |
|---|---|---|
| ماندرين چينايي | ۸۵۳ | ۱۲۱۳ |
| هندی | ۳۴۸ | ۴۵۴ |
| اسپانوی | ۳۴۶ | ۴۰۱ |
| انګليسی | ۳۳۰ | ۴۸۷ |
| بنګالی | ۱۹۷ | ۲۰۴ |
| عربی | ۱۹۵ | ۲۳۰ |
| پرتګالی | ۱۷۳ | ۱۸۶ |
| روسی | ۱۶۸ | ۲۸۰ |
| جاپانی | ۱۲۵ | ۱۲۶ |
| آلمان | ۹۸ | ۱۲۴ |
| فرانسوی | ۷۴ | ۱۲۶ |
| مالای اندونيزيايی | ۵۴ | ۱۶۴ |
| ايتالوی | – | ۶۲ |
| اردو | – | ۶۱ |

• مخامخ جدول په غور ولولئ

•ماندراتي ژبه د ختيځې آسيا له ډير و معروفو ژبوڅخه ده. دنړۍ پنځمه برخه خلک يا تقريباً ۸۵۳ میلیونه چینايي او په مجموع کې په نړۍ کې ۱۲۱۳ میلیونه تنه ژوندکوي.

• انګليسي ژبه چې د اند و اروپايي ژبو يوه څانګه ده چې میلیونونه انسانان په هغې خبرې کوي او دنړۍ په ۵۰ هيوادونو کې رسمي ژبه ده.

•عربي ژبه چې دسامي ژبې له کورنۍ څخه ده دنړۍ له ۲۲ هيوادونو څخه په زياتو هيوادونوکې رسمي ژبه ده او په هغې خبرې



(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي. دیادونې ور ده چې د ژبې پر اختیاله سیاسي حدودو سره مطابقت نه لري.بنایي په یوه هیوادکې څو ژبې وي. خو د یوه هیواد ټول هغه خلك چې د هغه هیواد په سیاسي حدودوکې ژوند کوي، خپل ځان په یوه واحد پورې تړي او په هغې افتخارکوي. لکه افغانستان. په دې هیوادکې له ۳۰ څخه زیاتې ژبې او لهجې شته خو ټول په دوو رسمي ژبو پښتو او دری لیکل او لوستل کوي اوپه هغوسیموکې چې زیاتره خلك یې په اوزبکي، ترکمني، بلوچي،پشه یي، نورستاني او پامیري ژبو خبرې کوي د پښتو او دري سر بېره په هغه سیمه کې دریمه رسمي ژبه ده.

•برعکس په نړۍ کې داسي هیوادونه هم شته چې بیل سیاسي حدود لري خو په یوه ژبه خبرې کوي لکه عربي ژبه چې په عربستان، سوریه، عراق، مصر، لیبیاکې مروجه او رسمي ژبه ده.

## په ټولګي کې د ننه فعالیت:

زده کوونکي دې په مناسبوډلو وویشل شي او دنقشي له مخې دی دنړۍ دلویو ژبو سیمي وټاکي. د ډلې استازی دې لاس ته را غلي معلومات خپلوټو لګیوا لو ته وړاندې کړي. ښوونکی دی وړاندې شوي مطالب د خپلو معلوماتوسره په مناسب ډول را ټول کړي.

## پوښتنې:

لنډ ځواب ولیکئ

۱- ژبه یا لسان تعریف کړئ

۲- دسامي او حامي ژبې دنړۍ په کومو هیوادونو کې رواج لري؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- د پنځو هغو لويو ژبو نومونه واخلئ چې زيات شمير خلك پرې خبرې كوي؟

٤- ولې په نړۍ كې چينايې ژبه زيات و يونكي لري؟

٥- په اندو اروپايي ژبو كې كومې ژبې شاملې دي؟

٦- التايي او اورالي ژبې په كومو څانگو ويشل شوي دي؟

### له ټولګي څخه بهر فعاليت:

زده كوونكي دې د ژبې د اهميت په باره كې څو كرښې وليكي او د جغرافيې په بل ساعت كې دې خپلوټو لگيوا لو ته وړاندې كړي.




(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اضافي معلومات:

د اندو اروپايي د ژبو کورنۍ




(c) ketabton.com: The Digital Library



# الف-عربي ژبه

ستاسې په نظر عربي ژبه په کومو هیوادونو کی رسمي ژبه ده؟




په (۱۳۷) مخ کې د نړۍ د ژبو نقشه ولولئ د حامي ژبې د نفوذ ساحه له سامي څخه بیله کړئ.

دا خبره څرګنده ده چې دهیوادونواو ملتونو تر منځ اړیکې د ژبې د پراختیا او د اړیکو نه شتون د ژبې بیلوالی او محدودیت منځته راوړي. لکه عربي ژبه چې د اسلام د مقدس دین د خپریدو او نفوذ له مخې په ټوله نړۍ کې خپره شوې ده.

عربي ژبه د نړۍ د مسلمانانو د مقدس کتاب ژبه ده. نو له همدې امله ځانګړې ارزښت لري.

سره له دې چې قرآنکریم په ډیرو ژبو ژباړل شوی دی، خو د نړۍ ټول مسلمانان هغه په اصلي ژبه یعنی

عربي تلاوت او زده کوي. نوله همدې امله ټولو مسلمانانوته په کارده چې د قرآنکریم او نبوي احادیثو د تلاوت او د الهي احکامو څخه دګټې اخېستنې له پاره د عربي ژبې قاعدې زده کړي.

هغه وخت دعربي ژبې زده کړې دقواعدو تدوین او وضع کولو ته اړتیا پیښه شوه، چې داسلام دین غیر عرب هیوادونو او قومونو ته ورسیده او هغه هیوادونه او قومونه دعربي ژبې حوزې ته ورننوتل او په دوامدار ډول یوبل ته نژدې شول. لږ لږ یې د عربي په زده کړه پیل وکړ، خبرې او لیکل یې پرې کول. دد غو قواعدو ترتیب کولو دوه هدفونه درلودل.

۱- په قرآن، نبوي احادیثو او نورو شرعي حکمونو باندې د آسانه پوهېدلو له پاره .

۲- د نورو ژبو له تصرف څخه د عربي ژبې ساتنه.

په دې ډول عربي ژبې د اسلامي نړۍ په زیاتو سیمو کې د محلي ژبو ځای ونیوه آن دا چې په منځنیو میلادي پیړیو کې علمي او ادبي کتابونه چې پوهانو لیکل او راټولول، زیاتره په عربي ژبه وو. نوله همدې امله عربي ژبه د خپل عصر علمي او نړیواله ژبه ګڼل کېده. اوس هم د نړیوالو ژبو په ډله کې ده.

عربي ژبه د آسیا او افریقا په لویو وچو سربېره دمسلمانانو دنفوذ په پایله کې د اروپا په جنوب کې تر پرتګال هم ورسیده. تر اوسه د عربي اصطلاحات د ادبي، نظامي، تجارتي، بیړۍ چلونې، ستورو پیژندنې او علومو ( په کیمیا، ریاضي، بیالوژي، طب او درمل جوړولو)کې کارول کیږي. دغه اصطلاحات زیاتره په فرانسوي، ایتالوي او اسپانوي ژبو کې رواج شوي دي.

دنړۍ له ۲۲ هیوادونو څخه چې رسمي ژبه یې عربي ده. لس هیوادونه په افریقا او ۱۲ هیوادنه یې په آسیا کې پراته دي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اضافي معلومات:

د نړۍ هغه شمېر هیوادونه چې رسمي ژبه یې عربي ده په لاندې ډول دي.

**افریقایي هیوادونه چې رسمي ژبه یې عربي ده:**

۱ـ الجزایر
۲ـ تونس
۳ـ جیبوتي (عربي او فرانسوی)
۴ـ چاد عربي او فرانسوی
۵ـ سودان
۶ـ سومالي
۷ـ کومورو
۸ـ لیبیا
۹ـ مصر
۱۰ـ مراکش

**آسیایي هیوادونه چې رسمي ژبه یې عربي ده:**

۱ـ اردن
۲ـ عربو متحده امارات
۳ـ سوریه
۴ـ عراق
۵ـ عربستان سعودي
۶ـ عمان
۷ـ فلسطین
۸ـ قطر
۹ـ کویت
۱۰ـ لبنان
۱۱ـ یمن
۱۲ـ بحرین

### په ټولګي کې د ننه فعالیت:

زده کوونکي دې په مناسبو ډلو وویشل شي او هره ډله دې په لاندې موضوعګانو پخپلو منځونو کې بحث وکړي. اوپایلې دې د ډلې استازي خپلوټو لګیوا لو ته وړاندې کړي.

- هغه هیوادونه چې رسمي ژبه یې عربي ده لست یې کړئ.
- ولې د اروپا په لویه وچه کې تر اوسه دعربي ژبې لغات او اصطلاحات په کیمیا، ریاضي، بیالوژي، طب او داسې نورو برخوکې استعمالیږي.

## پوښتنې:

لنډ ځواب ورکړئ

۱- ولې عربي ژبه په زیاترو هېوادونوکې خپره شوې ده؟

۲- عربي ژبه د آسیا او افریقا په څو هیوادونو کې رسمي ژبه ده؟

۳- دعربي ژبې ریښه معرفي کړئ.

## له ټولګي څخه بهر فعالیت:

ولې د عربي ژبې زده کړه د نړۍ د ټولو مسلمانانو له پاره اړینه ده؟


تر دې سرلیک لاندې مضمون ولیکئ او د جغرافیې په راتلونکي ساعت کې یې خپلو ټولګیوالو ته وړاندې کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## ب – انګليسي ژبه

دهند او اروپايي ژبې جدول




ولې دنړۍ زياتره خلک د انګليسي ژبې له يادونې سره مينه لري؟

پورتنی جدول په غور ولولئ او وواياست چې انګليسي ژبه د اندو اروپايي ژبو له کومې ډلې څخه ده؟

د انګلو ساکسون د استعمار له دورې څخه د فرانسې د نورو ماندي خلکو ترفتحې پورې يعنې له ۵۰۰



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

څخه تر ۱۰٦٦ میلادي کال پورې په انګلینډ کې ډیره پخوانۍ مروجه ژبه انګلیسي وه. دغه سوچه تو تیاني ژبه ډیره مشکله او له څولهجو څخه مرکبه وه دنور ماندیانو پواسطه د انګلینډ له فتحې څخه وروسته فرانسوي ژبه هم مروجه شوه او تر ۱۲۵۰ میلادي کا ل پورې انګلیسي او فرانسوی ژبه په انګلینډ کې استعمالیدې.

وروسته ددې دوو ژبو دیوځاي کېدو او ګډېدو پواسطه بالاخره یوه بله ژبه د سوچه انګلیسي ژبې په نوم منځته راغله. نوله همدې امله انګلیسي ژبه له توتاني Teutonie ( پخوانۍ انګلیسي)، لاتیني او فرانسوي ژبې (نورماندي) څخه مرکبه ده. بیاهم انګلیسي ژبه د عمومي خصوصیاتو او دصرف او نحوې دجوړښت له مخې په بشپړ ډول توتاني شمیرل کیږي.

وروستنی سترتغیر چې په انګلیسي ژبه کې را منځته شو یوله بل پسې دبهرنیو کلماتوله داخلیدلو څخه عبارت دی، چې د معاصرو علومو د پرمختګ او د عمومي افکارو د پراختیاپورې اړه لري. یو زیات شمېر کلمې په دې ژبې ورزیاتې شوي، چې ډیرې یې یوناني، فرانسوي او ځینی عبراني او لاتیني دي.

انګلستان په ۱۹ پیړۍ کې یوه پراخه مستعمراتي امپراطوري جوړه کړه، چې لمریه کې نه پریوته. په هغو مستعمروکې د اقتصادي منابعو د ښکیلاک سربیره دخپل فرهنګ په خپریدوېې هم پیل وکړ. چې غوره برخه یې انګلیسي ژبه او مذهب دی. هغه خلك چې مورنۍ ژبه یې انګلیسي ده.په نړۍ کې یې شمېر ۳۳۰ میلیونو ته رسیږي. دنړۍ د ۱۵۷ میلیونو نور نفوسو لپاره دویمه ارتباطی ژبه ده.

همدا رنګه انګلیسي د بریتاني په پخوانیو ٤۹ مستعمره هیوادونوکې چې اوس یې خپلواکي هم اخیستې ده او دهیواد اصلي ژبې یې ډیر انکشاف نه دی کړی، انګلیسي ژبه دلومړنۍ رسمي ژبې او په ځینو هیوادونوکې د دویمي رسمي ژبې په توګه منل شوې ده.

د انګلیسي ژبې ز ده کړه دیوې نړیوالې ژبې په توګه د نړیوال تفاهم سربېره په جغرافیه او نورو علموکې د معلوماتي منابعو او معتبرومأخذونویه توګه په انترنېټ، کتابونو او مجلوکې له انګلیسي څخه ګټه اخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په ټولګي کې د ننه فعالیت:

زده کوونکي دې په مناسبو ډلووویشل شي او د انګلیسي ژبې د پرمختیا په لاملونو دې پخپلو منځو کې بحث وکړي او د ډلې استازي دې دخپل بحث نتیجه خپلوټو لګیوا لو ته وړاندې کړي.
ښوونکی دی د ډلې بحث له خپلو معلوماتو سره را ټول کړي او ټولګي ته دې توضیح کړي.

## پوښتنې:

لنډځواب ورکړئ

۱- انګلیسي ژبه ولې دنړۍ په ٤۹ هیوادونو کې د رسمي ژبې په توګه منل شوېده؟
۲- انګلیسي ژبه له کومو پخوانیو ژبو څخه ترکیب شویده؟
۳- ولې زیاتره ځوانان غواړي انګلیسي یاده کړي؟
٤- دنړۍ ټولو لویو وچوته د انګلیسي ژبې د خپریدو لامل توضیح کړئ.

## له ټولګي څخه بهر فعالیت:

د انګلیسي ژبې د زده کړې د اړتیاپه هکله څوکرښې ولیکئ او دجغرافیې د مضمون په را تلونکي ساعت کې یې خپلوټو لګیوا لو ته وړاندې کړئ

# اضافي معلومات

هغه هیوادونه چې په هغې کې انگلیسي درسمي ژبې په توگه منل شوې ده( له انگلستان پرته په ٤٩ هیوادونو کې رسمي ژبه ده)


| د امریکا په لویه وچه کې | د افریقاپه لویه وچه کې | د اروپاپه لویه وچه | په اوقیانوسیه کې | د اسیا په لویه وچه کې |
|---|---|---|---|---|
| ١- انتیگوا اوباربودا | ١- اوگاندا | ١- انگلستان | ١- استرالیا | ١- سینگاپور |
| ٢- دامریکا متحده ایالتونه | ٢- بوتسوانا | ٢- ایرلنډ | ٢- تونگا | |
| ٣- بهاما | ٣- تانزانیا | ٣- مالتا | ٣- تو والو | |
| ٤- باربادوس | ٤- زیمبابوی | | ٤- ساموا | |
| ٥- بلیز | ٥- نامیبیا | | دسلیمان ټاپوگان | |
| ٦- ترینیداد او توباگو | ٦- سوازیلنډ | | ٦- فیجي | |
| ٧- جامیکا | ٧- سرالیون | | ٦- کریپاتي | |
| ٨- دومنیکا | ٨- سیشل | | ٨- مارشال | |
| ٩- سنت کیتس او نویس | ٩- گانا | | ٩- میکونزي | |
| ١٠- سنټ لوبسیا | ١٠- کامرون | | ١٠- نائورو | |
| ١١- سنټ وینسنت او کرنادین | ١١- کینیا | | ١١- وانو آتو | |
| ١٢- کانادا | ١٢- گامبیا | | ١٢- پا پواگینې | |
| ١٣- گرینادا | لیستو | | ١٣- پالائو | |
| ١٤- گویان | ١٤- لایبریا | | | |
| | ١٥- مالاوي | | | |
| | ١٦- موریس | | | |
| | ١٧- نایجریا | | | |
| | ١٨- زامبیا | | | |
| | ١٩- جنوبي افریقا | | | |



(c) ketabton.com: The Digital Library

## ج-لاتيني ژبه (فرانسوي، اسپانوي اوپرتګالي)

### دهند او اروپايي ژبې کورنۍ




د (۱۳۷) مخ نقشه او پورتنی جدول ولولئ او ووایاست چې د لاتيني ژبې څخه کومې ژبې منځته راغلې دي.

رومي ژبه (د ايتاليايانو پخوانۍ ژبه) د اندو اروپايي ژبو د کورنۍ له ډلې څخه ده چې د پخواني روم د امپراتورۍ لاندې سيموکې پرې خبرې کېدلې. په لويديځه اروپاکې يې ورو ورو تغير وکړ او په محلي لهجو تبديله شوه لکه د اسپانيې، پرتګالي او فرانسې او په ختيځ کې د رومانيې او البانيې دخلکو ژبې د بېلګې په توګه يادولای شو. د روميانو پخواني آثار له ميلاد څخه مخکې په شپږمې پېړۍ پورې اړه لري، خو دلاتين ادبيات په درېمې پېړۍ کې پېل شول. فرانسوي،اسپانوي او پرتګالي ژبې د ژونديو ژبو له ډلې څخه دي چې د استعمار او

نورو لاملونوله مخې دژبې د اصلي ویونکو له حوزې څخه د باندې يې رواج و مونده او پراخ گرامر لري. اسپانیه، پرتگا ل او فرانسه هغه هیوادونه دي چې د جغرافیايي اکتشافاتو ورسته يې وکولای شول چې د امریکا، افریقا، آسیا او اوقیانوسیه کې لويې مستعمرې لاس ته راوړي په هغو سیموکې يې خپل کلتور او فرهنگ هم مروج کړ، چې ددغه کلتوری نفوذ یوه مهمه برخه ژبه گڼل کیږي.

د اروپا د استعمارلاندې هیوادونو کې د څوپیړیو دتسلط په پای کې د مستعمره هیوادونو محلي ژبو وده ونه کړه. سره له دې چې خپلواکه هیوادونه هم دي، خودپخوانیو استعماري ژبو د نفوذ له مخې يې خارجي استعماري ژبه دخپل هیواد د رسمي ژبې په توگه منلې ده. لکه فرانسوي ژبه د نړۍ په ۲٦ هیوادونوکې، اسپانوي ژبه د نړۍ په ۱۹ هیوادونوکې اوپرتگالي ژبه دنړۍ په ٦ هیوادونوکې رسمي او لومړنۍ ژبه او په ځینو هیوادونو کې دویمه رسمي ژبه ده.

د زیاتو معلوماتو له پاره هغه جدول چې ضمیمه دی ولولئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

د لاتیني ژبې څانګې چې د ژبې د اصلي ټاټوبي څخه بهر په نورو هېوادونو کې د رسمي ژبې په توګه منل شوې دي

## دلاتيني ژبو څانګې

| پرتګالي: هېوادونه | پرتګالي: لویې وچې | اسپانوی: هېوادونه | اسپانوی: لویې وچې | فرانسوی: هېوادونه | فرانسوی: لویه وچې |
|---|---|---|---|---|---|
| انګولا | افریقا | اندورا | اروپا | موناکو | اروپا |
| برازیل | جنوبی امریکای | ګینه استوایی | افریقا | فلپین | آسیا |
| ختیځ تیمور | آسیا | ارجنتاین | جنوبي امریکا | منځنی افریقا | افریقا |
| ساوتومه و ترنسیپ | افریقا | اکوادور | جنوبي امریکا | بنین | افریقا |
| کپ ورود | افریقا | االسلوادور | جنوبي امریکا | بروندی | افریقا |
| ګینی بیساو | افریقا | ا وروګوای | جنوبي امریکا | بورکینافاسو | افریقا |
| | | بولیوی | جنوبي امریکا | توګو | افریقا |
| | | پیرو | جنوبي امریکا | چاد | افریقا |
| | | پاناما | جنوبي امریکا | جیبوتی | افریقا |
| | | پاراګوی | جنوبي امریکا | روندا | افریقا |
| | | دومنکین | جنوبي امریکا | ساحل عاج | افریقا |
| | | چیلي | جنوبي امریکا | سینګال | افریقا |
| | | کلمبیا | جنوبي امریکا | سیشل | افریقا |
| | | کستاریکا | جنوبي امریکا | کومورو | افریقا |
| | | کیوبا | جنوبي امریکا | ګا بون | افریقا |
| | | ګو ایتیمالا | جنوبي امریکا | ګینه | افریقا |
| | | نیکاراګوا | جنوبي امریکا | لوکزمبورک | اروپا |
| | | ونزویلا | جنوبي امریکا | مادغسکر | افریقا |
| | | هندوراس | جنوبي امریکا | موناکو | اروپا |
| | | | | نیجریا | افریقا |
| | | | | نیجر | افریقا |
| | | | | کامیرون | افریقا |
| | | | | کانګو برازویل | افریقا |
| | | | | کانګو کنشاسا | افریقا |
| | | | | هایتی | منځنۍ امریکا |
| | | | | کانادا (انګلیسی و فرانسوی) | شمالي امریکا |



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په ټولګي کې د ننه فعالیت:

زده کوونکي دې په مناسبو ډلو وويشل شي او هره ډله دې دلاتيني ژبې د يوې څانګې (پرتګالي،اسپانوي، فرانسوي او نورو) په باره کې  پخپلو منځو کې بحث وکړي.  چې ولې دنړۍ په زياتو هيوادونو کې نومورې ژبې تر اوسه پورې رسمي ژبې دي؟ دبحث پايلې دې د ډلې استازی ټولګي ته بيان کړي او ښوونکی دې د ډلې د بحث پايلې له خپلو معلوماتو سره را ټول کړي او ټولګي ته دې وړاندې کړي.

## پوښتنې:

لنډ ځواب ورکړئ:

۱- دلاتيني ژبې دکورنۍ څانګې معرفي کړئ.

۲- فرانسوي ژبه، له فرانسې پرته دنړۍ په څو هيوادونوکې رسمي ژبه ده؟

۱- فرانسوي ژبه دلاندې ژبو د کورنۍ يوه څانګه ده

الف: جرمنيک   ب: لاتين   ج: سلاوي   د: سانسکرت


۲- اسپانوي او پرتګالي ژبې د لاندې ژبو څانګه ده.

الف: سلاوي   ب: پخواني يونان   ج: لاتين   د: جرمنيک

## له ټولګي څخه بهر فعالیت:

د هغه جدول په مرسته چې دهيوادونو رسمي ژبه يکې فرانسوي، پرتګالي او اسپانوي ده د نړۍ په نقشه کې تثبيت کړئ او د جغرافيې د مضمون په را تلونکي ساعت کې يې خپلو ټولګيوالو ته وړاندې کړئ.

## د- جرمني ژبه




د جرمني ژبې د جغرافيايي ويش نقشه ولولئ او په نقشه کې د جرمني ژبې د نفوذ ساحه تثبيت کړئ. د زياتو معلوماتو لپاره اړونده جدول هم ولولئ.

يوې قبيلې له ميلاد څخه مخکې دلومړنی زرکلنې دورې په منځنی برخې کې د المان په شمال اود سکنديناوي دټاپووزمې په جنوب کې ژوند کاوه او له دويمې ميلادي پېړۍ څخه وروسته يې نورو سيموته مهاجرت وکړ، چې اوس، هلته استوګن دي.

دجرمني ژبه د اندو اروپايي ژبو له ډلې څخه ده چې انګلو ساکسون ژبې (الماني، هالنډي او انګليسي)، د ايسلينډ دخلکو ژبه او د سکنديناوي ژبې (دناروي، سويډن او ډنمارک د خلکو ژبې) اوګوتيک ژبه Gothic احتواکوي. د ګوتيک د ژبې اثار دميلادي څلورمې پېړۍ را پديخوا موجود دي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

جرمني ژبه په دوه محلي لهجو ويشل شوې ده:

۱- د لوړو سيمو جرمني ژبه، چې په جنوبي برخه کې پرې خلك خبرې کوي او د جرمني ژبې رسمي ادبيات جوړوي.

۲- د اوارو سيمو جرمني ژبه چې د هيواد په شمالي جلگو کې پرې خبرې کيږي. له دې ژبې څخه فلامندي او هالنډي ژبې مشتق شوي دي. الماني ژبه د المان دهېواد سربېره د اطريش، لختين شتين اوسويس ( الماني، فرانسوي او ايتالوي رسمي ژبې دي). د لوکزمبورگ ۷۰ سلنه خلك او د هالنډ يوشمېر خلك په الماني ژبه خبرې کوي.

د يادنې وړده چې انگليسي ژبه هم د جرمني د اوارو سيمو دخلکو د ژبې يوه څانگه ده چې د انگلو ساکسون Anglo Saxon د قبيلې د خلکو پواسطه په شپږ مه ميلادي پېړۍ کې انگلستان ته يو وړل شوه او وروسته د فرانسوي تورو سره گډه شوه. د انگلستان خلك او د ايرلينډ ديوې برخې خلك په هغې گړېږي.




(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په ټولګي کې د ننه فعالیت:

ټولګي دې په مناسبو ډلو وویشل شي او هره ډله دې د نقشې له مخې د جرمني ژبې سیمې په نښه کړي او د ډلې استازی دې هغه هېوادونه چې په هغې کې الماني ژبه ډېره مروجه ده خپلوټو لګیوا لو ته ور وپېژني.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## پوښتنې:

لنډځواب ورکړئ

۱- د اروپا کومې ژبې د جرمني ژبې یوه برخه ده؟

۲- د جرمني ژبې څخه کومې ژبې را بیلې شوي دي؟

۳- د سکندنوي ټاپو وزمې هغه ژبې چې جرمني ریښه لري نوم واخلئ؟

٤- الماني ژبه د کومو هېوادونو رسمي ژبه ده؟


## له ټولګي څخه بهر فعالیت:

د اروپا د لویې و چې نقشه بې لیکنې رسمه کړئ. د ژبو د عمومي جدول په مرسته د جرمنیك (لویدیځ،ختیځ او شمالي جرمني) د هند او اروپایي ژبو د کورنۍ سیمې او ځانګې په بیلابیلو رنګونو رنګ کړئ او د جغرافیې د مضمون په را تلونکي ساعت کې یې خپلوټو لګیوا لو ته وړاندې کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هـ-د چينايي، جاپاني او اندونزيايي ژبو په باره کې څه پوهيږئ؟




**د (۱۳۷) مخ نقشه او چارت ولولئ او و واياست چې چينايي ژبه له جاپاني څخه څه توپيرلري؟**

چينايي ماندرين ژبه لکه د ويتنامي (انامي)، تبتي، تايلنډي او ميانماري(برمايي) ژبو په څير د ژبپوهنې د اصطلاح له مخې يوهيجا يي (يوسيلابه) ژبو دي. د دې ژبې کلمې جلا سېلابونه لري. دکلماتو صرف ډېر لږ دهغو دتغير سبب گرځي.

چينايي ژبه ډېره پخوانۍ او د پراخو ادبياتو لرونکې ده. د دې ژبې الفبا څلور سوه توري لري او مصوره ده او څوسوه فرعي نښې هم لري. نو له همدې امله د هغې زده کړه ستونزمنه ده او هر څوک هغه نه شي ز ده کولای او د ولس د بيسوادۍ سبب گرځيدلې وه. له همدې امله دهغې د اسانولو له پاره هڅې شوې دي. ددې ژبې ويونکې پخپلو منځوکې نژادي اړيکې لري او دشمېر له مخې د آسيا د لويې وچې نيم نفوس جوړوي او دنفوذ ساحه يې د آسيا په ختيځ کې ده.

• په څو سيلابه ژبنۍ ډله کې کوريايي، جاپاني، د سايبريا د خلکو زياته برخه، منځنۍ آسيا، د راويډي او هندي ژبې شاملې دي. چې په دې ژبنۍ ډله کې د پسوند او پيشوند ډېرې پېچلې کلمې موجودې دي.

• هغه ژبې چې نرمښت منونکې دي د جلا عنوانوتر سرليك لاندې مخکې معرفي شوي دي.
اندونزيايي ژبه: چې د مالايي ژبې (د ماليزيا د هېواد د جنوبي برخې) څخه بيله شوې ده د اندونزيا د هېواد رسمي ژبه ده. په ۱۹۲۸ ميلادي کال کې د ملي ژبې په توګه وټاکل شوه. د وخت په تيريدو د عربي، چيني، هالنډې، پرتګالي، سانسکريتې، تاميلي، فرانسوي او انګليسي ژبې کلمې په دې ژبې کې شاملې شوې دي. دبېلګې په توګه په دې ژبې کې تقريباً د هالنډې ژبې ۷۰۰۰ کلمې شته دي.

## په ټولګي کې د ننه فعاليت:

زده کوونکي دې په مناسبو ډلو وويشل شي. د ژبو د کورنۍ نقشه دې په (۱۳۷) مخ کې په غور ولولي او بيا وروسته دې د زېرېو ستو خلکو ژبې د هغو د اړونده هېوادونو سره يو د بل په مرسته وټاکي ښوونکي دې د فعاليت پايله د خپلو معلوماتو سره را ټول کړي

## پوښتنې:

لنډ ځواب ورکړئ
۱- د ماندرين چينايي ژبې ځانګړ تياوې و واياست.
۲- آسيايي يو سېلابه ژبې کومې دي؟
سم ځواب انتخاب کړئ
۱- چينايي ژبه په کومه کورنۍ پورې اړه لري:
الف: يوسيلابه ب: څوسيلابه ج: نرمښت منونکي د: ټول ځوابونه سم دي
سم ځوابونه غوره کړئ.
۱- اندونزيايي ژبه له مالايي ژبې څخه بيله شوې ده.
۲- ماندرين چينايي ژبه ٤۰۰ توري او څوسوه نښې لري؟
۳-د ويتنامي، تبتي، تايلنډې او برمايي ژبې څوسيلابه ژبې دي؟

## له ټولګي څخه بهر فعاليت:

د آسيا د لويې وچې نقشه بې ليکنې رسم کړئ او يو سيلابه او څوسيلابه ژبې په جلا رنګونو رنګ کړئ او په راتلونکي ساعت کې يې خپلوټو لګيوا لو ته وړاندې کړئ.




(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



## و- دبالتیک- لیتواني او سلاوي ژبې




**د (۱۳۷) مخ نقشه او پورتنی گراف په غور ولولئ او ووایاست چې سلاوي ژبه په کومه ژبنی کورنی پورې تړلې او کومې څانگې لري؟**

سلاوي ژبه د هندو اروپايي ژبو له څانگو څخه ده چې په ختيځه اروپا او د بالکان په نورو سلاوي هېوادونوکې مروجه ده.

د مسيحيت د لومړۍ پيړۍ پيل کې بالتيکي او سلاوي قبيلو د ختيځې اروپا لويه برخه نيولې وه، چې په لويديځ کې يې د جرمني قبيلې او په جنوب کې يې اريايي قبيلو استوگنه درلوده د پنځمې پيړۍ څخه وروسته سلاويانو د خپل نفوذ سيمه په بېلابېلو خواوو کې پراخه کړه او اوس سلاوي ژبې د ختيځې اروپا په پراخه ساحه کې رواج لري.

سلاوي ژبه زياتې محلي لهجې لري چې ډېره مهمه يې روسي ژبه ده، چې دسايبريا په ټايگا، د ترانس سايبريا د اوسپنې کرښې په دواړه اړخونو، آذربايجان او اوکراين کې مروجه ده.

سلاوي ژبه په خو محلي لهجو هم ويشل کيږي، چې د هنگري او بالکان يوڅه خلک او همدارنگه چکيان، سلواکيان. پولنډيان، سربيان. بوسنيان. کرواتيان، بلغاريايان او دمقدونيې خلک په هغې خبرې کوي.

دبالتیك دسمندرګي د سواحلو د خلکو ژبه د سلاوي له ژبې سره ورته والی لري او لیتوانیایي ژبه هم د سلاوي ژبې د کورنۍ څانګه ګڼل کیږي.

## په ټولګي کې د ننه فعالیت:

زده کوونکي په مناسبو ډلو وویشئ چې د سلاوي ژبې د غوره څانګو په باره کې پخپلو منځوکې بحث وکړي او د بحث پایله دې خپلوټو لګیوا لو ته وړاندې کړي. ښوونکی دې دبحث موضوع را ټوله او له خپلو معلوماتوسره یو ځای دې ټولګي ته وړاندې کړي.

## پوښتنې:

لنډ ځواب ورکړئ

۱- سلاوي ژبه د کومې ژبنۍ لویې کورنۍ څانګه ګڼل کیږي؟

۲- سلاوي ژبه د اروپا په کومه برخه کې زیات ویونکي لري؟

۳- دسلاوي ژبې مهمې څانګې معرفي کړئ.

٤- د بالتیك ژبه په کومو څانګو ویشل شوې ده؟

سم ځوابونو په نښه کړئ

۱- سلاوي ژبه د اندو اروپایي ژبو څانګه ده(      )

۲- سلاوي ژبه زیاتره په ختیځه اروپا او د بالکان په نورو هېوادونوکې مروجه ده؟

۳- د سلاوي ژبې مهمه څانګه روسي ژبه ده (      ).


## له ټولګي څخه بهر فعالیت:

د اروپا نقشه بې لیکنې رسم کړئ او د سلاوي ژبې د نفوذ سیمه په یورنګ په نښه کړئ او د جغرافیې د مضمون په راتلونکې ساعت کې یې خپلوټو لګیوا لو ته وړاندې کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## ز-هندي او اردو ژبې




د (۱۳۷) مخ نقشه او پورتنی جدول په غور ولولئ او ووایاست چې د اردو ژبه د کومې ژبنی ډلې پورې اړه لري.

هندي ژبه د هند اصلي او رسمي ژبه ده. اردو د پاکستان او بنگالي د بنگله ديش اصلي او رسمي ژبې دي.

اردو په تاريخي لحاظ د سانسکريت څخه مشتق شوې ده له فارسي سره گډه شوې او له هغې څخه يوه نوي ژبه د اردو په نوم جوړه شوې ده. په پای کې دبيلابيلو لاملونو له مخې د پاکستان، بنگله ديش او هند د يوې برخې گډه ژبه گڼل کيږي. دغه ژبه د شاه جهان د حکومت په دوره کې ۱۶۲۷- ۱۶۸۵ ميلادي کال پورې(په هند کې د تيموريانو دکورنی بنسټ ايښودونکي د ظهرالدين بابر لمسی چې دهند د مغلانو په نوم هم ياديږي) د اردو ژبې په نوم ونومول شوه.



(c) ketabton.com: The Digital Library

د اردو ژبه د پخوانی فارسي، ترکي او هندي ژبو څخه جوړه شوې ده. لومړني بنسټونه يې په هند کې د مسلمانو فاتحينو په راتلو سره اېښودل شوي دي. څرنگه چې دسلطان محمود غزنوي او د هغه د زوی د سلطان مسعود د حکومتونو په دوره کې هند يانو ته د غزنويانو په دربارکې لوړې څوکۍ ورکړل شوې وې. په هند کې د غزنويانو د دربار ژبه هم فارسي (دری) او دهند مسلمانو حاکمانو په همدې ژبې خبرې کولې. نو له همدې امله ددری ژبې اغيزې په اردو ژبه کې را منځته شوې. د اردو اصطلاح ترکي ده او معنايې عسکر او د عسکرو قرارگاه ده.

څرنگه چې ترک، فارس او هنود عسکر په يوه عسکري غونډ ځاي کې يوځای وو، نو د اردو ژبه له دريو ژبو ترکي، دري او هندي څخه جوړه شوه او د اردو په ژبه ياده شوه، چې وروسته د انگليسانو د څو پېړيو د واکمنی په واسطه انگليسي اصطلاحات پرې هم ور زيات شول.

په ټولگي کې د ننه فعاليت:

**په ټولگي کې دننه فعاليت**:

زده کوونکي په دوه نفري ډلو وويشئ هره ډله دې د اردو ژبې په تاريخچه پخپلو منځوکې بحث وکړي او د بحث موضوع دې خپلوټو لگيوا لو ته وړاندې کړي. د مضمون ښوونکی دې د بحث موضوع را ټوله کړي او لاس ته راغلي معلومات دې له زده کوونکو سره شريک کړي.

**پوښتنې**:

لنډ ځواب ورکړئ

۱- د اندو اريايي معاصرې ژبې کومې دي؟

۲- د اردو ژبه ولې په دې نوم يادېږي؟

لاندې جملې بشپړې کړئ.

۱- د اردو ژبه د.......................... د حکومت په دوره کې د اردو په نوم ياده شوه.

۲- د اردو ژبه له ______، ______ څخه جوړه شوې ده.

**له ټولگي څخه بهر فعاليت**:

زده کوونکي دې د جنوب ختيځې آسيا نقشه بې ليکنې رسم کړي او اردو ژبې هېوادونه دې په جلا رنگ، رنگ کړي او د جغرافيې د مضمون په راتلونکي ساعت کې دې په ټولگي کې زده کوونکو ته وړاندې کړي.




(c) ketabton.com: The Digital Library

# اووم څپرکی

## خلور خلويښتم لوست

## ۱-۷ اړيکي او نړيواله کېدنه Globalization




### آيا د نړيوال کيدو له موضوع سره آشنايئ؟

هغه پرمختګونه چې د پوهنې په بيلابيلو برخو کې رامنځته شوي.
لکه مخابرات، په تيره بيا هغه معلومات چې د مصنوعي سپوږ مکيو، رادار او انترنېټ او داسې نورو څخه لاس ته راځي، نړۍ يې له پخوا څخه ډيره نژدې کړې ده دهېوادونو ترمنځ اړيکي يې ټينګې کړې دي.
له ليرې څخه معلوماتوRemote sensing په سوداګرۍ، صنعت، ترانسپورت(ځمکني، هوايي اوسمندري)، فرهنګ او د هيوادونو او له يوې سيمې څخه بلې سيمې ته د مالونواو کاليو په لېږ دولوکې آسانتيا را منځته کړې ده. نو همدې ټولو مسألو نړيوال کيدنه، په تيره بيا په جغرافيه کې الکترونيکي مخابراتو او د مصنوعي سپوږ مکيو اړيکو خپل حقيقي اړخ غوره کړی دی. ديادونې وړ اسانتياوې يې د جغرافيې په بيلابيلو برخو کې برابر کړې دي او په دې اساس يې نړۍ په يوه لوړ مقياس د انسانانو ګډکور جوړ کړ دساينس او تکنالوژۍ د پرمختګ، فضاته د انسان سفر، فضايي تم ځايونو شتون او مصنوعي سپوږمکيو ليږل دځمکې شاوخوا ته انسان وکولای شول چې د هغو په مرسته په بيلابيلو برخو کې اړيکې يوله بل سره نژدې کړي. دمثال په ډول د مصنوعي سپوږميو په مرسته انسان کولای شي له کابل څخه نيويارک، کاناډا او دنړۍ نورو لېريو سيمو ته، له مکاني واټن سره سره په ډېرلږ وخت کې تماس ونيسي.
په دې سربېره په سوداګرۍ، بانکي چارو، د اسعارو دتبادلې او راکړې ورکړې، فرهنګي او ترانسپورتي چارو او نظامي چاروکې دنړۍ ټولې سيمې د معلوماتو د پوښښ لاندې راولي. نو زماني او مکاني واټن د تماس لپاره نژدې شوي دی، چې د نړيوالتوب Globalization مفهوم افاده کوي
د اړيکو پر مختګونه ياTelecommunication لکه پرمختللی رادار، تيلفونونه، موبايل، انترنېټ، فکس او د نړۍ د سپوږمکيو سيستمونه د نړۍ هيوادونه يوبل ته نژدې کړي او هغه واټن چې دنړۍ د هېوادونو ترمنځ موجود و، له منځه لاړ.
د ارتباطي او اطلاعاتي وسيلو چټکه وده لکه فکس، کمپيوټر، انترنېټ، تيليفون، تلويزيون او داسې نورو د هېوادونو د نژدې کولو لپاره زمينه برابره کړې ده د مثا ل په ډول که چېرې د وارداتي مالونو وارد وونکي وغواړي له جاپان څخه زيات سوداګريزمالونه اوکالي نيويارک او دوبۍ ته وارد کړي. وارد وونکي د انترنېټ



(c) ketabton.com: The Digital Library

په مرسته د اړوند وکمپنیو څخه د مالونو دلېږ دولو غوښتنه کوي. په لومړي پړاوکې فرمایش اخیستل کېږي او وروسته صادر وونکې کمپنۍ د مالونو بیه، کرایه او د مالونود بیمه کولو اطلاع ورکوي. واردوونکی د الکترونیکي اویز په واسطه د مالونو بیه د انترنېټ پواسطه مقابل لوري بانکی حساب ته استوي. او وخت پر وخت د انتقالاتي وسایلو خط السیر د مصنوعي سپوږ مکیو، انترنېټ، موبایل پواسطه کنترولیږي، ترڅوچې مالونه اخیستونکي ته ورسیږي.
دغه انتقالاتي پروسه د نوري فایبر یا الکترونیکي اسانتیا وو په مرسته اسانه شوي ده او د زرګونو کیلو مترو واټن په یوه دقیقه کې تنظیموي. دغه په نړۍ کې د ارتباطي مسایلو دنړیوالتوب ګڼه ده.

## په ټولګي کې د ننه فعالیت:

ګران زده کوونکي په دریو ډلو له ویشلو څخه وروسته دنړۍ د دریوو مهمو وسیلو لکه رادیو، تلویزیون او تیلفون په باره کې بحث وکړي او دبحث پایله دې د ډلې استازي خپلوټو لګیوا لو ته بیان کړي او ښوونکی دی له خپل معلوماتو سره د فعالیت نتیجه را ټوله کړي.

## پوښتنې:

له څلور ځوابونو څخه سم ځواب غوره کړئ
۱- ګلوبلایزیشن عبارت دي له:
الف: اړیکې ب: نړیوالتوب ج: سیاسی نظام د: د اړیکو نشتوالی
۲- تیلېفون دلاندې موضوعاتو لپاره کارول کېږي:
الف: دکالیوتبادله ب: دسوداګریزو کالیو تسلیمول ج: د موسسو او افرادو ترمنځ د اړیکو تامینول د: هیڅ یوسم نه دی
جمله بشپړ کړئ:
۳- انترنېټ په نړۍ کې ................ ښه وسیله ده.
لنډ ځواب وواياست:
٤- د عصري پرمختللو ارتباطي وسایلو نومونه واخلئ.

## له ټولګي څخه بهر فعالیت:

ارتباطي وسایل کوم مفهوم افاده کوي او ارزښت یې په کومه برخه کې دی؟ مهرباني وکړئ هغه په کتابچو کې ولیکئ او دجغرافې په راتلوونکي ساعت کې یې شرح کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اړیکو دغوره وسیلو ډ ولونه:




## د اړیکو څو ډوله وسیلې پېژنئ؟

د پیغام په انتقال کې د جغرافیایي حقایقو موندل، د نورو علومو په څیر، د اړیکو د وسیلو پورې اړه لري. نوله همدې امله د اړیکو د وسایلو غوره ډولونو زده کړه د جغرافیایي څانګې د زده کوونکو لپاره حتمي او اړین کار دی. په تیره بیا د نن ورځې خبرنې د لمریز نظام، مصنوعي سپوږمکیو او د هغه تحولاتو او د حقایقو د موندلو په هکله لکه کائونه،کرنیز زیانونه ا وداسې نور او همدارنګه نوي پرمختګونه د کائناتو او دسیارو په هکله دحقایقو موندل او د هغو اړیکې له څمکې سره هغه اړینې مسألې دي چې د مخابراتي وسایلو پواسطه سرته رسیږي.

انسانانو د ژ وندانه له لومړیو وختونوڅخه په څمکه کې له اشارو، نښو او ساده وسیلو څخه ګټه اخیستله. همدا رنګه ډول (دهل) او نغاره به یې وهله او بیا وروسته یې له اهلي حیواناتو څخه ګټه اخیستله او په پای کې له موټر، سیم لرونکي تیلیفون مونولوګ او بې سیم تیلیفون، رادیو، تلویزیون، انټرنېټ او رادار څخه یې ګټه اخیستله.

ډیجیتل تیلیفون او مونولوګ څخه ګټه اخیستنه په اوسني وخت کې مخابراتي ستونزې حل کړي او یوله بل سره یې اړیکې ټینګې کړي.

د تیلي کمونیکشن په برخه کې اختراعګانو دنړۍ څېره بدله کړه او د اړیکو په سیستم کې پرمختګونه په هوانوردۍ، سمندري ترانسپورټ او دحمل ونقل په ډیرو نورو برخه کې بنسټیز تغیرات رامنځته کړي. لوی بدلونونه په تیره بیاله دویمې نړیوالې جګړې څخه وروسته اختراعګانې چټکې شوې. ډېله یېزې اړیکې ( میډیا) په اروپا او امریکا کې د اړیکو معاصرې دستګاوې جوړې شوې.

د ارتباطي وسیلې په توګه د راډیو را منځته کیدلو، وکولای شول چې انسانان یوله بل سره نژدې کړي او د رادیو منځنۍ، لنډې، اوږدې او FM څپې لېږې واټنونه د غږ د خپر ولو پواسطه نژدې کړي. دسوداګریز و مالونو اخبار خپرول، د تولیدي، صناعتي او تخنیکي مالونو اعلانول، ورځپاڼې، تلویزیون، انټرنېټ سپوږمکۍ د اړیکو ډېرې لوېې وسیلې شمېرل شوې، چې په جغرافیایي څېړنوکې ورڅخه زیاته ګټه اخیستل کېږي. د ګوګل Google د انټرنېټ سایټ کې هغه پروګرام چې د (PC Glob) یا د نړۍ د اطلس په نوم یادیږي، ځای پرځای شوی دی چې اقتصادي او فزیکي، اوبو او هوا او داسې نورو په

باره کې معلومات انسان ته ورکوي. فضايي او کيهاني سفرونه او د مصنوعي سپوږمکيو او ځمکې تر منځ د اړيکو ټينګول په پرمختللي ډول بدل شوي دي او معاصرې کيهاني څېړنې وکولای شول چې د طبيعت د ځينو رازونو په پېژندلو او کشفولوکې له انسان سره په ډېره ښه طريقه مرسته وکړي. په مصنوعي سپوږميوکې د پرمختللو کمرو نصبول د ځمکې د کرې او سمندرو په باره کې د ځينوحقيقتونو د روښانه کولو سبب شوي دي او نوې موضوعګانې يې دځنګلونو، کانونو، سمندرونو او د ژوندانه د چاپېريال په هکله سپړلي دي.

د انسان د ژوندانه په ټوله موده کې د اړيکو عمده وسيلو پر مختګ کړی دی چې لاندې برخې لري:

١- لومړنۍ وسيلې: لکه الوتونکي (هدهد او کوترې) او اهلي حيوانات لکه آس، اوښ، خر، قاطر.

٢- عصری وسيلې: لکه د ميډيا د اړيکو وسيلي (راديوچې منځنی، لنډې، اوږدې او FM څپې لري)، تلويزيون، موبايل، کمپيوتر، انټرنېټ، مصنوعي سپوږمۍ چې پاس ورڅخه يادونه وشوه.

## په ټولګي کې د ننه فعاليت:

زده کوونکي په بيلو ډلو وويشئ، چې د اړيکو د وسيلو نومونه واخلي او دسپوږمکيو نقش دفضآ او ځمکې په نوو کشفياتو کې بيان کړي.

## پوښتنې:

سم ځواب وټاکئ:

١- ميډيا عبارت دی له:

الف: اخبار ب: ډله ييزې اړيکي ج: راديو د: هيڅ يو

٢ – دسپوږ مکيو څخه د جغرافيې په کومو مسألو کې ګټه اخېستل کيږي؟

٣- د اړيکو اصلي وسايل__، __، ___، ___، او___، ___، احتوکوي.

## له ټولګي څخه بهر فعاليت:

ګرانو زده کوونکو د تيلې کمونيکيشن په باره کې لنډ معلومات ورکړئ او له موبايل څخه ګټه اخېستنه پخپلوکتابچو کې وليکئ او د جغرافيې د مضمون په راتلونکي ساعت کې يې ټولګي ته وړاندې کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# الف: پُستpost په نړۍ کې.

## ایا د پُست په باره کې معلومات لرئ؟

له ډېرې پخوا زمانې را هیسې په نړۍ کې پُستي شتون در لوده، چې نوموړې فعالیتونه په چین، مصر، یونان اود پخواني روم په امپراتورۍ کې له حیواناتو او الوتونکو څخه په ګټه اخېستنه لیکونه او پیغامونه انتقالیدل. کله چې په اقتصادکې مختلف شغولونه منځته را غلل نو د پُستي خدمتونوپه واسطه یې خپلې اړتیاوې یې د اړیکو په برخه کې پوره کولې. په هغه وخت کې پُستي تشکیلات نیم دولتي وو، چې دغه حالت د منځنیو پېړیو ترنیمایي پورې دوام وکړ. خودغه کار ورو ورو تغیر موند. کله چې غوښتنې زیاتې شوې، پُست غوره پرمختګ وکړ.

همدا رنګه د امویانو او عباسیانو د امپراطورۍ په دوره کې د پُستي سیستم څخه ګټه اخیستل کېده او هغه یې د ښارونو او هېوادونو د امنیت لپاره ډېره ښه وسیله ګڼله. د هارون الرشید په زمانه کې خالد برمکي د امپراطورۍ د پُستي متصدي په توګه مقررشوچه د البرید په نوم یادیده.

د چاپ د ماشین اختراع او په بیلابیلو هېوادونوکې د لیک لوست او لومړنیو زده کړو زیاتیدل، دنوو لویو وچو کشفېدل، د حمل ونقل د وسایلو زیاتوالی دتګ او راتګ لپاره اسانتیاوې او دهغو تر منځه یې اړیکې زیاتې کړې چې په پای کې په اړیکو کې وده زیاته شوه.

په شپاړسمې میلادي پېړۍ کې پُست د هېوادونو له سرحدونو څخه بهر شو او د فرانسوا تاکسي په همت لومړي ځل لپاره پُستي خدمتونه رامنځته شول او په اروپاکې څو هېوادونه د پُستي موادو چې یوازې لیکونه یې احتواکول، په تبادلې لاس پورې کړ.

په ۱۸ مې پېړۍ کې پُستي ساحه پراخه شوه او وېې کولای شول چې د اړیکو د یوې باوري وسیلې په توګه خلکو ته وسپارل شوه. هېوادونو خپل منځی د پُستي تبادلې لپاره دوه اړخیزې سراسرې موافقتنامې لاسلیک کړې. دبخار د بېړیو اختراع او د اوسپنې کرښې د منځته راتللو سره پُستي فعالیتونه چټک شول. نړیواله پستي راکړه ورکړه د وخت دحمل و نقل له وسیلو څخه ګټه اخېستنه،د پُستي تشریفاتو د ساده کولو او د اجرتونو په باره کې د یوډول توب له را منځته کېدلو پرته ممکن نه وه . نوله همدې امله راولانډ هل انګلیسي Mr Rawland Hillپه ۱۸٤۰ میلادي کا ل کې نرخنامه او د هیواد د سرحداتو په دننه کې یوېنې پُستي ټکټونه رواج کړل.

لومړي ځل د نړۍ د پستي اتحادیه د ټولوتمدنو هېوادونو ترمنځ په ۱۸٦۸ میلادي کا ل کې د المان د هیواد د پُست د اداري دکارکوونکي هانري پواسطه طرحه شوه او خپل دولت ته یې

وړاندیز وکړ چې په پورتنۍ طرحه په یو ه کنفرانس کې چې د دولتونو استازي په کې ګډون ولري بحث وشي. وروسته د ۱۸۷٤ میلادي کا ل د ستمبر په ۱۵نیټه د ۲۱ غړو هېوادونو ترمنځ د کنفرانس په پایله کې پریکړه چې د برن د معاهدې په نوم یادیږي لاسلیک شوه، نوموړې پریکړه په حقیقت کې دپُستې د اتحادیې بنسټ ګڼل کېږي. کله چه د پست دعمومي اتحادیې سره ډېر شمېر هیوادونه یو ځای شول د پست د جهاني اتحادیې په نوم ونومول شوه چه په ۱۹۹٦ م کا ل کې یې دغړو شمېر ۱۸۹ هیوادونوته ورسید.

## په ټولګي کې د ننه فعالیت:

زده کوونکي دې په ډلو وویشل شي او هره ډله دې دُپست د اسانیتا وو په باره کې بحث وکړي او د خپل بحث پایلې دې منظمې کړي او تنظیم شوې معلومات دې په ټولګي کې وړاندې کړي

## پوښتنې:

لنډ ځواب ورکړئ:

۱. فرانسوا تاکسي څوک دی؟

۲-د بخار بیړیو او داوسپنې کرښې اختراع په نړیوالې پستې کې کوم تحولات را منځته کړل؟

لاندې جملې بشپړې کړئ

۳. دنړۍ پستي اتحادیه د لومړي ځل لپاره د ټولو هیوادونو تر منځ په___ کال کې د ___ له خوا په سویس کې جوړه شوه.

## له ټولګي څخه بهر فعالیت:


د پستې رول د انسانانو په ژوند باندې تشریح کړئ، چې له یوه مخ څخه زیات نه وي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## ب: په نړۍ کې ټيلیفون او موبايل Telphone and Mobil:

د نړۍ په سطحه د الکاتل (Alcatel) د سمندر لاندې د کيبلونو نقشه.



آياکولاي شئ د ټيليفون او موبايل پواسط مختلف پيغامونه خپل د نظر وړشخص ته ولیږئ.

په عصري ټکنالوژۍ کي ټيليفون Telphone او موبايل Mobil په ډېله ييزو رسنيو کي د اړيکو ډېره مهمه برخه لري او له هغو څخه په جغرافيايي مسايلوکي د اړيکو دنيولويه برخه کي ديوې وسيلي په توګه ګټه اخيستل کيږي لکه: (آب و هوا، زلزلې اورلګيدنې، د سوداګريزو او اقتصادي معلوماتو په برخه کي...)نو له همدې امله د ټيلیفون او موبايل څخه ګټه اخيستنه په جغرافيايي موضوعګانوکي د ټولو زده کوونکو لپاره مهم او اړين دي. لکه چې مخکې ورڅخه يادونه وشوه، د لومړي ځل لپاره ګرام هام بل Gramham Bill ټيليفون اختراع کړ، چې د انسانان په ژوندکې لوی قدم وو. وروسته بي سيمه ټيلیفون اختراع شو، چې په ۱۸۹۷ ميلادي کال کي لومړنی پيغام د ګګليمو مارکوني Gugliemo Marcone پواسطه له اروپا څخه د اطلس د سمندر څخه هغه خواته مخابره شو. دغه ازمايښت و ښودله چې د راديوي څپو پواسطه د اړيکونيول امکان لري، چې دغه عمل د شفاهي پيغام د ليږلو پيل دی، چې له يوه سري څخه بل سرې ته د کوچني ماشين پواسطه استول کيږي. نولسمه پيړۍ د اړيکواو رسنيو په برخه کي د ډېرو اختراعګانو شاهده ده، چې بې سيمه اړيکې د ملکي هوا نوردۍاو جوي څېړنو په برخه کې مهم تغيرات را منځته کړي دي.


د دويمي نړيوالي جګړي څخه وروسته ډېري او چټکۍ اختراعګانې را منځته شوې او عصري ټيليفونونو د زړو ټيليفونونو ځای ونيوه. ملګرو ملتونو په ۱۹۷۰ ميلادي کال کې بې پرې مخابراتي مرکز جوړ کړ د ملګرو ملتونو نماينده (مک برايډ) لومړنی پيغام دپاريس له يونسکو څخه د ټولي نړۍ هېوادونو ته خپورکړ. په ۱۹٤۷ ميلادي کا ل کې د تر انزيستور Transistor اختراع د نړۍ د مخابراتو په برخه کې زياتې اسانتيا وې رامنځته کړې. د Mobile Radio Communication د لنډې تاريخچې



(c) ketabton.com: The Digital Library

ځخه دا را څرگندیږي چې د مخابرې د انفرادي خدماتو پروگرام په ټولنیز ژوندانه کې د اړیکو د زیاتوپر مختگونو سبب شوی دی. د انفرادي مخابری له تخنیک څخه گټه اخېستنه چې په ۱۹۶۰میلادي کال ۶۲ سلنه وه په ۱۹۷۰ میلادي کال کې ۷۲ سلنې ته زیاته شوه. اوس د شخصي مخابرې خدمات (Personal Communacation service) (P C S) په چټکۍ مخ په زیاتیدو دي.

بې سیمه تیلېفون چې لاتین نوم یې سیلولر Cellular دی، هغه ډول پرمختللي تیلېفون ته ویل کیږي چې د دوه تنو تر منځ اړیکي ټینگوي او هرځای ته د انتقا ل وړ وي. دسیلولر کلمه دCells یا حجرې له کلمې څخه اخیستل شوې ده، چې د موخو له مخې لویه یا کوچنی ساحه د موبایل دپوښښ لاندي راولي. چې دغه کار د موبایل د کمپنی په ظرفیت پورې اړه لري او ټاکلې ساحه د پوښښ لاندې راولي. موبایل مخابراتي محرمیت هم لري چې هره کمپنی په هر هېواد کې ځانگړی نمبر هم لري چې د کود نمبر د دایرولو پرته اړیکې نیول نا شوني دي.



**په ټولگي کې د ننه فعالیت:**

د لومړي ځل لپاره تیلېفون دکوم مخترع پواسطه رامنځته شو او په انسانانو کې د کومو تحولاتو لامل شو؟ مهرباني وکړئ په دې برخه کې خپل معلومات یوله بل سره شریک کړئ.

**پوښتنې:**

سم ځواب انتخاب کړئ.

۱- د تیلېفون مخترع له لاندنیو مخترعینو څخه کوم یودی؟

الف:گراهامبل ب: انتوني ج: ماریا د: گگلیموماركوني

۲ - سیلولر عبارت دی له:

الف:یو ډول پرمختللی تیلېفون دی چې د دوو کسانو تر منځ اړیکې ټینگوي

ب: انترنېټي ساحه ده ج: د انالاگ تیلېفون ساحه ده د: هیڅ یو

سم ځواب په نښه کړئ

۳-ملگرو ملتونو په ۱۹۷۰م کال کې له ټراو پرته مخابراتي مرکز جوړ کړ.

٤- ترانزیستور په نړۍ کې زیاتې مخابراتي اسانتیاوی منځته راوړې.

لنډځواب ورکړئ

٥- P C S اصطلاح تشریح کړئ

**له ټولگي څخه بهر فعالیت:**

له مبایل څخه گټه اخېستنه په خپلو کتابچو کې ولیکئ او د جغرافیې له ساعت کې یې په ټولگي کې بیان کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## ج- فکس Fax په نړۍ کې





### د فکس ماشین په جغرافیایي موضوعګانو کې څه مهم نقش لري؟

د جغرافیې په ټولو څانګوکې یو له مهمو اړتیاوو څخه یوه له فکس څخه ګټه اخېستنه ده چې دهغې پواسطه پیغامونه لېږې اونږدې سیموته استول کیږي. له فکس څخه ګټې اخېستنې د اړتیاوړ حقیقتونو دمستندکولو لپاره په جغرافیې او نورو برخوکې ډېرې آسانتیاوې رامنځته کړې دي، لکه صنعت، سوداګرۍ، تولیدي وسایل، صادرات، واردات او داسې نور.

فکس نوې تکنالوژي ده چې په ۱۹۲٤ میلادي کا ل کې چې د ریچارد رنجر *Rechard H Ringer* پواسطه اختراع شو او لومړنی پیغام یې له نیوپارک څخه لندن ته واستوه.

په ۱۹۷۰ میلادي کال کې د ماشین په جوړښت او اجزاوکې دسمون لپاره بدلونونه رامنځته شول.

فکس د لیکلي پیغام د انتقال وسیله ده، چې د کاغذپرمخ لیکلي پیغامونه او ګذارشونه دې ماشین ته ننه باسي او په څو ثانیو کې ټاکلي ځای ته رسېږي.

فکس میخانیکې وسیله ده چې دهغې پواسطه اطلاعات او اسناد په لیکلي ډول د یوه سند په توګه انتقالیږي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

د فکس د ماشین له اختراع څخه وروسته تجارتي او صنعتي اسانتیاوې رامنځته شوې. د فکس دماشین په مرسته حقایق ثبتیږي، سوداګریز فرمایشو اخلي اسناد لیږدول کیږي، صادراتي او وارداتي اقلام او رسمي او شخصي اسناد استول کیږي فکس نه یوازې په سوداګریزو او صنعتي موضوعګانوکې په کار وړل کیږي. بلکې په مصنوعي سپوږ مکیوکې هم ورڅخه کار اخیستل کیږي. محرم اسناد اونوي کشفیات له ځمکې څخه فضاته او له فضأ څخه ځمکې ته لیږل کیږي.

نوله همدې امله فکس له ډله ییزو رسنیو څخه دی چې د هغه پواسطه شخصي او رسمي پیغامونه، سوداګریز، حقوقي او صنعتي معاملات او داسې نور په لنډ وخت کې لیږي او نژدې سیمو ته سملاسي استول کیږي.

## په ټولګي کې د ننه فعالیت:

زده کوونکي دې په څو ډلو وویشل شي او هره ډله دې د فکس د کار په څرنګوالي، فعالیت او اهمیت باندې د ژوندانه په بېلابېلو برخو کې کار وکړي. دهرې ډلې استازی دې د خپل بحث پایله په ټولګي کې وړاندې کړي.

## پوښتنې:

لنډ ځواب ورکړئ:

۱- فکس څه شي دی؟

۲- له فکس څخه دګټې اخیستې ځایونه په نښه کړئ.

سم ځواب غوره کړئ:

٤- د فکس پواسطه لاندې مهم مفاهیم استول کیږي.


الف: جغرافیایي ب: صنعتي ج: صادراتي او وارداتي د: ټول سم دي.

## له ټولګي څخه بهر فعالیت:

زده کوونکي دې د فکس د اسانتیاوو په باب لنډه مقاله ولیکي او د امکان په صورت کې دې په ټولګي وړاندې کړي.

# د-انټرنېټ او ايميل: Internet and E-mail

## له انټرنېټ او ايميل څخه څرنګه ګټه اخېستل کېږي؟




## په نړۍ کې اړيکو او خبرتياو ته د لاس رسي نسبت

د مخابراتو ډېره نوې وسيله انټرنېټ او ايميل دی، چې په جغرافيې او نورو علومو او د ژوندانه په نورو برخوکې ځانګړې دندې سرته رسوي. جغرافيه پوهان د څېړنو په ټولو مرکزونوکې د پيغامونو د انتقال لپاره له دوارو وسيلو څخه ګټه اخلي له ټولو مهمه خبره داده چې د پيغامونو اخېستل او په ځانګړې او محرمانه ډول د هغې لېږل، په هره اندزه چې و غواړو، په لنډ وخت کې سرته رسيږي. له دوارو وسيلو څخه ګټه اخېستنه په ټولو دولتي سوداګريزو مؤسسو او شخصي ډول سرته رسيږي.

کمپيوټر د نولسمې پېړۍ په نيمايي کې په کار پيل وکړ. له ۱۹٤٤ - ۱۹۵۱ ميلادي کلونو کې يې زياته وده وکړه. کله چې ويليم شاګلي ډيجيټل Digital ماشين کشف کړ، کمپيوټر نوره هم وده وکړه. انټرنېټ د کمپيوټر ځانګړی پروګرام دی، چې د يوې بېلې شبکې په واسطه د کمپيوټر سره نښلول کېږي او بيل بيل پروګرامونه لري. چې نه يوازې پيغامونه انتقالوي بلکې تصويرونه، علمي متنونه او نور ټولنيز، سوداګريز،

سیاسي ۰۰۰ اوداسې نور د کمپیوتر له لارې د انترنت پواسطه د پام وړ شخص ته رسوي. هر څوك او هره موسسه کولای شي په بیلو ادرسونو خپل ځانګړي سایتونه پرانیزي او د هغو څخه ګټه واخلي.

انترنېت یو تنظیم شوي سیستم دي چې د بشر په ننني تکنالوژۍ کې د پیغامونو او اطلاعاتو په انتقال کې د چټکې او ښې منبع په توګه کارول کېږي.

ټول اسناد چې د انترنېټ له لارې په کمپیوتر کې شامل شي، له چاپ وروسته لاس ته راځي.

انترنېټ ارتباطي ډېره ښه وسیله ده، چې د نړۍ ټول هېوادونه په دې پروګرام کې شامل دي. له ۱۹۹۰ میلادي کال څخه مخکې د کمپیوټر پواسطه هیڅ ډول اسانتیاوې نه وې لومړنۍ ځانګه یا دیپارتمنت چې د کمپیوټرماشین پواسطه یې د مخابراتو اړیکې جوړې کړې د امریکا د متحده ایالتونو پوځې څرنیز مرکز وو (DOD) په ۱۹۶۷ م کال کې A C M د کمپیوټري ماشینرۍ مؤسسه د امریکا په متحده ایالتونوکې یاد A R P A دفتر و یو کوچنی ماشین یې جوړکړ چې له یو کمپیوټر څخه بل کمپیوټر ته معلومات انتقال کړي. له یوه کمپیوتر څخه بل کمپیوتر ته د پیغام انتقا ل په دې پورې اړه لري چې لومړی دغه پیغام د I M P (Interface Massage Process) پواسطه په کمپیوټر کې دا خل شي.

د کلیفورنیا اولاس انجلس پوهنتونو نو وکولای شول چې د انترنېټ پواسطه د یوتا Utah له پوهنتون سره اړیکې جوړې کړي. د انترنېټ پروګرام په ۱۹۹۰ میلادي کا ل کې دنړۍ په سطح په کار پیل وکړ. په کایناتو کې او سني فضایي پروګرامونه خبري او د رازونو دکشفولو لپاره د انترنت پواسطه په ډېره آسانۍ له یوه ځای څخه بل ځای ته لیږدول کېږي

په جغرافیه کې د انترنېټ نقش د جغرافیایي حقایقو موندل دی. په دې ډول د قطبونو د کنګلونو، دځمکې دکرې د تودوخې، د اوزون د طبقې نازك کیدل او د انرژۍ دسرچینو د موندلو لکه نفت، ګاز اوداسې نورو، طبیعي سرحدونو، په سمندرکې د کبانو د استوګنې د ځای د معلومولو، د ځنګلونو د ساتنې، د آب و هوا وړاندوینه، د تودوخي او سړو د درجې ټاکنه، د خاورې پېژندنه او داسې نورو برخوکې ورڅخه کار اخېستل کېږي. چې خبرورکوونکو په ویب سایټ کې اچولي دي او وروسته د انترنېټ، په مرسته هغه




(c) ketabton.com: The Digital Library

اخلي. له انټرنېټ څخه معلومات د دوه تنو، يا دوه دولتي يا شخصي مؤسسو ترمنځ تبادله کېږي په دې شرط چې دهغه بل لوري د ايميل کود ورته معلوم وي. دمثا ل په ډول (http://www.google.Com).

د انټرنېټ اړيکې دسپوږمکيو اود نوري فايبر سره دي زياتره پيغامونه اوکرنيز، اقتصادي معلومات اوداسی نور په دقيق ډول د ځمکې څخه اخلي او دوهم ځل يې خپل اړوند مرکز ته مخابره کوي .

ايميل Electronic Mail هم نوې تکنالوژي شمېرل کېږي. چې د سوداګريزو، صنعتي، سياسي، فرهنګي او انفرادي پيغامونو په لېږلوکې ډېرې ستړې دندې سرته رسوي او د همدې ماشين په مرسته سملاسي دلېږې او نژدې واټن ترمنځ ډېر ژر ارتباطات تامينيږي. لنډيزېې ايميل (e- mail) دی.






(c) ketabton.com: The Digital Library

یمیل پیغامونه رادیویي څپو په مرسته اخلي او لیږي چې د ایمیل دیوې دستګاه د مرکز څخه د بلې دستګاه په آدرس پیغام استول کیږي او په څو ثانیو کې اړونده آدرس ته رسیږي.

## په ټولګي کې د ننه فعالیت:

زده کوونکي دې په مناسبو ډلو وویشل شي او هره ډله دې د انټرنت او د هغه د استعمال په هکله په خپلو منځو کې بحث وکړي د بحث پایلې دې خپلو ټولګیوالو ته ووایي.

## پوښتنې:

لنډ ځواب ورکړئ:

۱- د ډیجیتل د ماشین اختراع د کومو لویو تحولاتو سبب شوه؟

۲- د کمپیوټر پواسطه پیغامونه په څه ډول استول کیږي؟

۳- ایمیل څه ته وایي؟ تعریف یې کړئ

. جمله بشپړه کړئ:

٤- انټرنېټ په لومړي ځل په(　　　)په کارېپل وکړ.

## له ټولګي څخه بهر فعالیت:

له کمپیوټر څخه د ګټې اخېستنې څرنګوالی ولیکئ او د جغرافیې د مضمون په ساعت کې یې په ټولګي کې بیان کړئ.




(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځوسم لوست:

# ۷–۲ د سپوږ مکیو شبکه Satellite Network

## د نړیوالو سپوږمکیو د اړیکو سیستم



## ایا د مصنوعي سپوږمۍ په باره کې معلومات لرئ؟

امصنوعي سپوږمۍ او ریموټ سنسنگ *Remote Sensing* د نوې تکنالوژۍ ډیره عصري وسیله ده، جغرافیه پوهان یې د دې ورکړې چې د جغرافیې اړونده ځمکې په کرې او فضاکې مسایل چې تر اوسه نه دي کشف شوي، کشف کړي او انسان وکولای شي هغه رازونه وپیژني چې تراوسه ندې کشف شوي

. د مصنوعي سپوږمکیو خیرنو Satellite Network د ځمکې او فضا په هکله معلومات زیات کړي دي. د هغو رول په جغرافیه کې څرګند دی لکه دکرنې،کانونو، طبیعی زیرمو په هکله څیړنې،د آب وهوا وړاند وینه، د ځنګلونو شتون، د کبانود ښکارسیمې د بیړیو لار ښوونه د سوداګریزومالونو انتقال اوداسې نور. همدارنګه د کیهان وردانو لپاره یې د فضایی مسافرت شرایط برابرکړي دي، چې د سپوږ مکیو په مرسته فضا ته سفروکړي.

د سپوږمکۍ مخابراتي سیستم د کمپیوټر او تیلیفون په مرسته سرته رسیږي، چې د سیلو لر تیلیفون cellular phone یا cell په نوم یادیږي. د سپوږمکۍ مخابراتي سیستم د نوې تکنالوژۍ پیچلي سیستم دي چې له فضا څخه ځمکې ته اطلاعات لېږي چه د Down Link اوهغه پیام چه له ځمکې څخه فضا ته لیږی Link up په نوم یادیږی. سپوږمکۍ په فضا کې د استوا په کرښې، عمود، مایل یا موازي په ټاکلو مدارونو کې د ځمکې په شاوخوا ځای پر ځای شوي دي. ځینې مصنوعي سپوږمکۍ د ځمکې څخه په یو نقطه کې ثابتې ساتلې کېږي چې دا حالت د جیو ستشنري Geo Stationary په اصطلاح یادیږي.

انسانان کولای شي چې د سپوږ مکیو په مرسته د لمریز نظام او دهغه اړونده سیارو او دهغو څخه د ځمکې په برخه کې زیات معلومات حاصل کړي لکه د ځمکې لوړې برخې، د ځمکې پر مخ روانې اوبه، د اور بښت اندازه او داسې نور. تازه څېړنو ښودلې ده چې سپوږ مکیو انسان ته د دې وس ورکړی دی چې د طبیعت ځینې رازونه پیدا کړي او دزیاتو معلوماتو لپاره دغه ډول څیړ نې په چټکۍ دوام لري هغه هېوادونه





(c) ketabton.com: The Digital Library

چي سپوږمکی لري په لاندې ډول دي: د امریکا متحده ایالتونه، روسیه، چین، هند او داسي نور ځینې نورهیواد ونه هم غواړي چې دغه نوې تکنالوژي ولري.

ټول مخابراتي مسایل د سپوږمکیو له لارې تنظیمیږي لکه رادیو، تلویزیون او داسي نور. زیاتې سپوږ مکی په فضاکې د پیغا مونود لیږلو او رادیویي څپو لپاره فعالیت کوي او ټولې نړۍ ته د رادیو ځانګړې څپې لیږدوي. په ځینو نورو مخابراتي برخو لکه نظامي، استخباراتي او داسی نوروکې هم فعالیت کوي.

**یادونه**:

سپوږمی په فضاکې د فعالیت پر وخت د دوه وزرو په واسطه چې دهغې دواړو خواو کې دي خپله د اړتیا وړ انرژي له لمرڅخه اخلي.

**په ټولګي کې د ننه فعالیت:**

ز ده کوونکي په مناسبو ډ لو وو یشئ او په جغرافیه کې دې د مصنوعې سپوږ مکیو د اهمیت دآب وهوا د وړاند وینې، د اقتصادي،کرنیزو او پوځي موضوعګاتو په هکله دې بحث وکړِي او د بحث پایلې دې د ډلې مشر خپلوټو لګیوا لو ته بیان کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## پوښتنې:

لنډ ځواب و رکړئ

۱- جیو ستشنري Geo Stationary کوم حالت ته ویل کېږي؟

۲- Satelit Network په جغرافیه کې کوم خدمتونه سرته رسوي؟

لاندې جمله بشپړه کړئ:

۳-هغه پیغامونه چې له مصنوعي سپوږمۍ څخه ځمکې ته رسیږي ........ او هغه پیغامونه چې له ځمکې څخه مصنوعي سپوږمۍ ته استول کېږي.................په نوم یادېږي.

## له ټولګي څخه بهر فعالیت:

د مصنوعي سپوږ مکیو د ډولو نو او دهغو لپاره د اړتیا وړ انرژۍ په باره کې مقاله ولیکئ او د جغرافي د مضمون په راتلوونکي ساعت کې یې خپلو ټولګیوالوته وړاندې کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# اتم څپرکی
# د ژوندانه د چاپېريال نړيوالې ستونزې

## ۸-۱ د سون د مواد و لوګي او غازونه



په هغه ځاي کې چې اوسيږئ، آيا دکومې دستګاه لوګی او غازتاسې رېږوي؟

د بدن سلامتي او روغتيا د انسان لپاره د ژوندانه اصلي اړتياوې ګڼل کېږي. هر هغه لامل چې د انسان سلامتيا او روغتيا ته تا وان اړوي مضر دي. نو له همدې امله بايد د انسان د ژوندانه ځای له هر ډول ککړتيا او مضره مواد و څخه پاک وي. له دې پرته به زموږ د ژوندانه چاپېريال متضرر وي، بايد هغه ښه وپېژنو او د حل لاره ورته ولټوو. طبيعت په فطري ډول پاك دی او د ښتن تعالی له تحفو څخه دی نوله همدې امله د چاپېريال پېژندنه چې د جغرافيې لويه برخه ده بايد په بشپړ ډول وپېژنو.

د ژوندانه چاپېريال د ژوندانه د ټولو پديدو يوه ټولګه Complex ده چې انسان، حيوان او نبات لپاره يې د ژوندانه شرايط برابر کړي دي. مهمې برخې يې ځمکه، داستوګنې ځاي، خاوره، اوبه، نباتي پوښښ، حيوانات او اتموسفير تشکيلوي.

د وخت په تیریدو سره انسانان په دې پوهیدلي چې همدغه چاپیریال کولای شي چې زموږ ټولې اړتیاوې پوره کړي نو په چټکي له خپل چاپیریال سره اړیکي ټینګې کړې. په دې برخه کې یې زیاتې تجربې لاس ته را وړلې، د طبیعت له ښکلا او ستونزو سره اشنا شول او د هغه له تهدیدونو سره یې مقابله وکړه.

انسانانو پوهنه حاصل کړه چې هر چاپیریال کې باید له طبیعت سره اړیکې ټینګې کړو چې د هغه له امکاناتو څخه ګټه واخلو. تودې او وچې سیمې د کرنې او د خوړو د برابرولو لپاره مناسبې نه وي. هغه شنې سیمې چې د سیندونو او جهیلونو په غاړوکې پرتې وی ټول شرایط یې د ژوندانه لپاره برابر کړي وو. نو د همدې سنیدونو په غاړو کې لوي تمدنو نه رامنځته شول.

په هر ځای کې انسان هڅه کوي چې د طبیعي چاپیریال شرایط و پېژني او خپل ژوند له هغو سره برابر کړي او یا چاپیریال ته د خپلو اړتیا وو له مخې بدلون ورکړي.

هغه چاپیریال چې موږ په کې ژوند کوو ځانګړی نظم او قانون لري چې د خدای(ج) له خوا تنظیم شوي دی، د باران اوریدل، د باد لګیدل، دنیا تاتو وده، ټول دیوه قانون د بنسټ له مخې فعالیت کوي. موږ باید طبیعي قوانین وپېژنو او دهغورعایت وکړو او خپل چاپیریال پاک وساتو له هغې پرته زموږ طبیعي ژوند اغیزمن کوي او د ټولو موجوداتو لپاره ژوند ستونزمن کوي.

متاسفانه له صنعتي تاسیساتو، فابریکو، په ځمکې باندې صنعتي پاتې شونو اوګلخانه یې مضرو غازونو پورته کیدل د ځمکې اتموسفیر ککړوي او دانسان، حیوان اونبات ژوند له خطر سره مخامخوي. د هوا د ککړ تیا په باره کې باید دیوه ځای د آب و هوا په باره کې مستند او دقیق معلومات ولرو. اتموسفیر د انسانانو، حیواناتو، او نباتاتو لپاره د ژوندانه یوه مهمه پدیده ده. نو له همدې امله دغې حیاتي سرچینې ته باید پوره پاملرنه وشي اوله دې سرچینې څخه باید په ښه توګه ګټه واخیستل شي. هغه لوګی او غازونه چې دسون له مواد و څخه پورته کیږي په ټوله نړۍ کې یې هوا ککړه کړیده ککړه فضاء د انسان اونورو حیواناتو پر تنفسي سیستم په مستقیم ډول ناوړه اغیزه کوي او د کاربن دای اکساید او کاربو مونواکساید، د متان غاز، کلور وفلوروکاربن او د نایتروجن اکساید تعاملات دويني په دوران، او تنفسي جهاز او نورو باندې روغتیایې ناوړه اغیزه لري د ځمکې پر مخ د غازونو او دودونو سرچینه د ډېرو سکاره، نفت اورلګیدنې او صنعتي کارخانو څخه عبارت دي.



د کابل د ښاري فضاءد حمل ونقل د وسیلو او د نفوسو د زیاتوالي او د ښاري ککړ تیا پواسط غیر صحي او ککړه شویده چې زموږ د ښاریا نو په روغتیاېې نا وړه اغیزه کړې ده. هغه مواد چې په مجموعي ډول د هوا د ککړ تیا سبب گرځي په لاندې ډول دي:

۱. زهري مواد
۲. کیمیاوي مواد
۳. دغړونو خپریدل
۴. د اضافي غیرصحي مواد راتولېدل
۵. د مصنوعي او اتومي مواد وپاتې شوني
۶. د مضرو اجسامو له راټولېدل
۷. سوځیدنې
۸. د مناسب کانا لیزسیون نه شتون او داسې نور.

## په ټولګي کې د ننه فعالیت:

ز ده کوونکي په ډ لو وویشئ. دمضرو غازونو په باره کې دې چې زموږ په روغتیا ناوړه اغیزه کوي بحث وکړي او دهغو پایلې دې خپلوټو لګیوا لو ته بیان کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## پوښتنې:

لنډ ځواب ورکړئ:

۱. د ژوندانه چاپیریال تعریف کړئ

۲. کوم مواد د ژوندانه د چاپیریال د ککړتیا سبب کرځي.

سمه جمله په نښه کړئ

۳. آیا په فضاکې مضره غازونه د وینې په دوران او تنفسي سیستمونو باندې مستقیمه اغیزه لري(    )

٤. د مضرو لوګیو اوغازونو اصلي منبع د ځمکې پر مخ اور لګېدنې ګڼل کېږي(    ).

## له ټولګي څخه بهر فعالیت:

ز ده کوونکي دې د کابل د ښار د هوا د ککړتیا او د هغې د ضرر په باره کې معلومات راټول کړي او په ټولګي کې دې ورباندې خبرې و کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## الف- د وړلو- راوړلو (حمل ا ونقل وسیلې):



**د ژوند پر چاپیریال باندې د نقلیه وسایلو غازونه او لوگی څه منفي اغیزې لري؟**

نقلیه وسایل د انسان له اړتیاوو څخه گڼل کیږي چې د کالیو او خلکو په انتقا ل کې ډیرې اسانتیاوې برابروي. خودلته نقلیه وسایل په ښارونوکې د هوا د ککړ تیا د لامل په توگه څیړل کیږي.

نقلیه وسایل په فضاء، ځمکه او اوبوکې د انتقال لپاره کارول کیږي. انتقالاتي شبکې په ټوله نړۍ کې د حمل ونقل ستونزې حلوي. خو د دې ترڅنگ د لوگي او غازونو خپرول د ژوندانه چاپیریال ککړوي او د انسان، حیوان او نبات لپاره تنفس ستونزمن کوي.

د نقلیه وسایلو مضر لوگي او غازونه هواککړوي او د ټولو ژوندیو موجوداتو د روغتیا لپاره ناوړه هوا منځته راوړي د اوسنیو څیړنو له مخې نقلیه وسایل هواککړوي. د هوا دککړتیا غازونه، لوگي، کاربن ډاي اکساید، نایتروجن اوکساید، سلفر، سرپ او داسې نور دي.

. نوهرلامل چې د چاپیریال دککړتیا سبب گرځي د Pollution په نوم یادیږي.

په نړۍ کې د نفوسو زیاتوالی ډیرو ونقلیه وسیلو ته اړتیا لري. د دې وسایلو ککړو ونکي مواد د هوا د ککړتیا سبب گرځي.

د وروسته پاتې هیواد ونو د ژوند چاپیریال په ښاري او صحي معیا رونو سمبال نه دي. پر مختللي هیواد ونه په دې توانیدلي دي چې تریوې اندازې د نقلیه و سیلو د مضرو موادو مخه ونیسي،ځکه چې پدې هیواد ونو نوي تکنالوژي او دنقلیې ښې وسیلې د دې سبب شوي دي چې د مضرو غازونو مخه ونیول شي هغه نقلیه وسیلې چې د لوگي او غازونو لامل گرځي، اجازه نه ورکول کیږي چې تگ او راتگ وکړي.

په دې ورستيو کالوکې زموږ ګران هيواد افغانستان د زياتو نقليه وسيلو په لرلو په تيره بيا د کابل ښار چاپيريال دککړ تيا له مخې له ډيرو ستونزو سره مخامخ دی. د کابل دښار ښکلې فضا مضرو غازونو او د زړوموټرو لوګيو اودبې کيفيته تيلوپه استعمال سره چې په هواکې د سلفرو او سرپو د زياتوالي سبب کيږي خرا به کړې ده. کولای شود نقليه وسيلو ککړ تيا په ځمکني، سمندري او هوايي برخو ډلبندي او مطالعه کړو. چې هرې برخې پخپل وارسره ځمکه، سمندر او فضا ککړه کړې ده طبيعتاً صافه او طبيعي هوا ککړه نه وي خو دا انسان دی چې د نوې تکنالوژۍ څخه په ګټه اخيستنې سره په ډېرو منطقوکې چاپيريال ککړ وي.

## په ټولګي کې د ننه فعاليت:

ټولګي په څوډ لو وويشئ او هره ډ له دې د هوا دککړ تيا Pollutin د لاملونو په باب يو له بل سره بحث وکړې او د بحث پايله دې د ډلې استازې خپلوټو لګيوا لو ته وړاندې کړې.

## پوښتنې:

لنډ ځوابورکړئ:

۱. پر مختللو هيواد ونو ځرنګه د هوا دککړتيا مخه نيولې ده؟

۲. د نقليه وسايلود افرازاتو ککړتيا په هواکې دکومو ستونزو لامل ګرځي؟

جملې بشپړې کړئ:

۳. نقليه وسيلې............ دککړتيا لامل ګرځي.

۴. د انسان روغتيا مستقيماً له ............سره اړيکې لري.

۵. هغه لاملونه چې دککړتيا سبب ګرځي ..............په نوم ياديږي.

د سم ځواب انتخاب کړئ:

۶. کوم غازو نه د هوا دککړتيا سبب ګرځي:

الف: اوکسيجن ب: نايتروجن اکسايد ج: کاربن مونواکسايد د- ب او ج سم دي.

## له ټولګي څخه بهر فعاليت:

د نقليه وسيلو په هکله فکر وکړئ چې ولې چاپيريال ککړوي په دې هکله مقاله وليکئ او د جغرافيې په راتلونکي ساعت کې يې خپلوټو لګيوا لو ته بيان کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

دري پنځوسم لوست:

## ب: د ژوند په چاپېریال باندې د کارخانو اغیزې:



کله صنعتي فابريکې ته تللې ياست؟ کوم ډول مضر غازونه له فابريکې څخه خارجيږي او د ژوندانه چاپيريال ککړوي؟

د ژوندانه چاپيريال په مجموعي ډول د جغرافيه پوهانو پاملرنه ځانته جلب کړې ده.

اوسنۍ څېړنې ښيي چې د کارخانو په پراخه پیمانه جوړول د هوا، د ځمکې د روانو اود ځمکې لاندې اوبو د ککړولو لامل ګرځي.

صنعتي انقلاب له اروپا څخه پيل شو. چې اصلي زانګوېې د انګلستان هيواد دی او له هغه ځايه څخه نړۍ ته خپورشو او په شمالي امريکا په تيره بيا د امريکا په متحده ايالتو نوکې يې په پراخه پيمانه پرا ختيا وموند‌ه او د موټرجوړولو، بېړۍ جوړولو، الوتکو جوړولو او په نورو برخو کې په سلونو فابريکو په کار پيل وکړ.

د آسیا د لویې وچې هیوادونو لکه جاپان، چین، هند او داسې نوروهم د بیلا بیلو کار خانو په جوړولو پیل وکړ او نورو زیاتره هیوادو نو لکه د افریقا لویې وچې او استرالیا هم لویې فابریکې په ځانګړو برخوکې جوړې کړې. دغو ټولو تاسسیات په بیلا بیلو ځا نګوکې د ژوندانه د چاپیریال په ککړو لوکې زیاتې ستونزې رامنځته کړي، لکه د کاربن ډای اکساید$Co_2$، د متان $cH_4$، کلوروفلوروکاربن غاز cfc، نایتروجن ډای اکساید زهرجن غازونه، د اوبو بړاسونه او د اتومي زرو آیونونه او داسې نور په هواکې دا خلېږي چي د هوا فزیکي او کیماوي خواص تغیروي.

په مجموعي ډول مضر غازونه له فابریکو څخه خارجېږي ځېنې ډېر پورته ځي او هواککړ وي.

د مثا ل په ډول د کلوروفلورکاربن (choloro fluoro carbon) (C.F.C) غاز له فابریکو او سړوونکو سرچینوڅخه خارجېږي چي د هوا په لوړو پوړیو کې د اوزون په قشر کې کیماوي ترکیبونو سره تعامل کوي. د اوزون طبقې ویجا ړوي او په پاي کې د ځمکې د تودیدو سبب ګرځي.

مضر غازونه په تولیزه ډول د هوا د ککړتیا لامل ګرځي او ژوند له خطر سره مخامخوي چي په پاي کې د بیلا بیلو ناروغیو سبب کېږي لکه د زړه، ریوي( تنفسي)، جلدي او داسې نورو.

په همدې ډول اتومي کارخانې رادیو اکتیف Radio Active waster پاتې شونې دلاندنیوستونزو لامل ګرځي.

- اتومي وړانګې (تشعشعات) د یو کیلومتر مربع په ساحه کې تخریبات کوي.
- په کرنه، کښت او کار منفي اغېزلري.
- فضا ته دا خلیږي.
- حیوانات، انسانان او نباتات په مرګ تهدیدوي.
- د چرنوبل اتومي چاودنې چي پراخه ساحه له منځه یوړه. د دې مطلب ښه بیلګه ده.
- د کاربن ډای اکساید د غاز دتولید سبب ګرځي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

• د پوستکي سرطان رامنځته کوي.

• د خوړو موادو تاسیسات اغیزمن کوي.

دکارخانو ناوړه اغېزې، نه یوازې په ځمکه بلکې په فضا او سمندر کې هم د احساس وړ دي. د فابریکو ناوړه اغیزې د ځمکې اتموسفیر هم ککړه وي.

هغه سیندونه چې د فابریکوترڅنګ بهیږي، د فابریکو د اضافي موادو پواسط اغیزمن کېږي. اتومي اضافي مواد هم د سمندر اوبه ککړې کړې دي. د نفتو له بېړیو څخه په سمندر کې د نفتو توییدلو هم د سمندر اوبه او سمندري ژوند یې متأثر کړی دی.

## په ټولګي کې د ننه فعالیت:

ټولګي په مساوي ډ لو وویشئ او هره ډله دې د فابریکو د ضرربه باره کې فکر وکړي او د اتومي دستګاوو ناوړه اغېزې دې توضیح کړي او د ډلې استازی دې خپلوټو لګیوا لو ته وړاندې کړي.

## پوښتنې:

سم ځوابونه انتخاب کړئ:

۱. له لاند نیو هیوادو نو څخه یو هیواد د صنعتي انقلاب زانګو وه.

الف: جرمني ب: انګلستان ج: فرانسه د: ایتالیا

۲. چرنوبل د برېښنا د تولید اتومي دستګاه په کوم یولاندني هیواد پورې اړه لري:

الف: اکراین ب: قزاقستان ج: ترکمنستان د: ارمنستان

۳. مضر غازونه کومې منفې اغېزې لري؟

الف: د اوزون طبقه ویجاړوي ب: د ژوندانه لپاره ګټوردي



(c) ketabton.com: The Digital Library

ج: د تنفس لپاره ګټوردي        د: یوازې دنبا تاتو لپاره ګټور دي.

لنډځواب ورکړئ:

۱. کوم غازونه د ژوندانه چاپیریال ککړوي؟

۲. د فابریکو مضر غازونه د کومو ناروغیولامل ګرځي؟

۳. د اتومي فابریکو تاسیسات کومي ستونزې رامنځته کوي؟

## له ټولګي څخه بهر فعالیت:

د هغه مضر غازونو او مواد ولست ولیکئ چې په پخلنځي کې شته او دانسان په ژوندانه باندې د هغې نا وړه اغېزې واضح کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۸ - ۲ د صنعتي مواد و پاتې شوني:



د ژوندانه دځای د ککړتیا په هکله مو فکر کړی دی او د صنعتی پاتې شونو په ضرر پوهیږئ؟

د ژوندانه چاپیریال هغه ځای دی چې انسان په کې ژوندکوي او ټول صنایع او فابریکې د انسان د اړتیا وو د پوره کولو لپاره دي. خو د هغو تر څنګ روغتیا او پاکي اساسي اړتیا ده. چې د ژوندانه ځای په مجموع کې پاک وساتو نوله همدې امله هغه صنعتي پاتې شوني چې کار خانې او صنایع تولیدوي د هغو د ضرر مخنیوی وشي چې چاپیریا ل ککړنشی.پاتې شوني په لاندې برخو ویشل شوي دي.

۱ . فزیکي پاتې شوني:Physical state لاندې برخې لري: دکورونو پاتې شوني، ناولې اوبه او داسې نور.

۲ . حیاتي عضوي پاتې شوني.

۳ . خدماتي سکتورونه: چې ځمکني، هوایي او سمندري نقلیه وسیلې دي.

۴ . د خوړو پاتې شوني: د ډ وډی او پخلنځي پاتی شوني.

۵. ښاري پاتې شوني: چې معمولاً د وروستو مواد و پاتې شوني د متان غاز توليدوي.

۶. اتومي توليدي منابع: د هوا د اتومي ايونونو دترکيب ککړتيا.

۷-صنعتي توليدات: چې له هغو څخه دکلوروفلورو کاربن C.F.C غاز ورڅخه توليد يږي.

پاتې شونې معمولاً دکيمياوي او فزيکي تعاملاتو پواسط د چاپيريا ل اصلي خواصو ته تغيرورکوي او دغه تغيرات په وچه، اوبو او هوا ناوړه اغېزې لري. چې په فضاکې د اوزون طبقه ويجاړ وي او له بنفش څخه اخواته وړانگې مستقيماً په ځمکه لگېږي چې د انسانانو اونورو ژونديو موجوداتو په روغتيا اوپه همدې ډول د ځمکې دکرې د آب و هوا پرتغير منفي اغيزه کوي. د پاتې شونو شتون د انسان لپاره ستره ستونزه جوړه کړې ده چې د ټولو ژونديو ژوند تهديدوي. اوس وخت د انسان د ژوندانه چاپيريا ل غير صحي شوي دی او د زياتو ستونزو د رامنځته کولو لامل گرځيدلی دي. له بله پلوه صنعتي پاتې شونو سمندرونه ککړ کړي دي اوهغه حيوانات چې په سمندرونو او سيندونو کې ژوند کوي متضررکړي دي. لکه په اروپاکې تايمز او راين سيندونه. صنعتي او کيمياوي فابريکې چې ددې سيندونو په غاړوکې جوړې شوي دي، د دې فابريکو اضافي مواد سيندونو ته ځي او د



د الاسکا په سواحلو کې د نفتي ککړتياوو پاکول



(c) ketabton.com: The Digital Library

حیواناتو د ژوندانه چاپیریال ککړ وي.

د راین سیند له سر چینې څخه ترمصب پورې ۱۳۰۰ کیلو متره اوږد دوالي لري. دغه سیند د سویس له هیواد څخه سرچینه اخلي او د فرانسې، المان او هالنډ څخه تیریږي. سمندرونه د اتومي او نفتي موادو پواسطه هم ککړیږي، چې د سمندري حیواناتو د له منځه تللو سبب ګرځي. انسانان د نفتي موادو پواسطه د سمندرونو د زیاتو ککړتیاوو شاهد دي، چې یوازې د امریکا په متحده ایالتونو کې ۷۰۰۰ واقعې ثبت شوي دي.




د راین دسند حوزه او د هغې د شاو خوا صنعتي مرکزنو

همدا رنګه په ډېرو نور و سیمو کې هم د نفتو بارورنکې ببړۍ د تخنیکي ستونزوپه سبب په سمندرکې د نفتو د انتقال پر وخت سمند رونه ککړوي.

نو له همدې امله د ځمکې په کره باندې صنعتي پر مختګونه که له یوې خوا د انسان د اړتیا وو د پوره کولو په برخه کې ګټور وو. په هغه اندازه یې ځمکه، سمندر او هوا ککړه کړې هم ده، چې مهمې نمونې مو مخکې وړاندې کړې، یعنی د انساني فعالیت پاتې شونو په ټوله نړۍ کې ستونزې رامنځته کړي دي، چې تر اوسه پورې موږ له دې ستونزو سره لاس او ګریوان یو.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## په ټولګي کې د ننه فعالیت:

ز ده کوونکي په مناسبو ډلو وویشئ او د فابریکو د تاسیساتو او دهغو د ضررونو په هکله دې د ژوندانه په چاپیریال باندې بحث وکړي او د بحث پایله دې د ډلې استازې خپلو ټولګیوا لو ته بیان کړي.

## پوښتنې:

لاندې جملې بشپړې کړئ:

۱. صنعتي پاتې شوني په نړۍ کې د انسا نانولپاره ډیر لوی ........... دی.

سم ځواب انتخاب کړئ:

۲. د اروپا کوم سیندونه ډیر ککړ دي:

الف: راین  ب: تایمز  ج: دنیوب  د: الف او ب سم دی

لنډ ځواب ورکړئ

۱. ولې په ښار کې د ننه د فابریکو شتون ضرر لري؟

۲. پاتې شوني څه ته وایي؟

۳. په کوم هیواد کې صنعتي پاتې شوني زیاتې دي؟

۴. د سمندر د حیواناتو د ژوندانه چاپیریال کوم پاتې شوني تهدیدوي؟

## له ټولګي څخه بهر فعالیت:


د ژوندانه د چاپیریال په باره کې معلومات ورکړئ او د مضرو پاتې شونو لاملونه ولیکئ اوپه ټولګي کې يې وړاندې کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۸–۳. د اوزون د طبقې د نرۍ کیدلوخطرونه:

ایا پخوا د اوزون د طبقې له کلمې سره اشنا وئ؟





د اوزون $O_3$ طبقه د تروپو سفیر د طبقې له پا سه د سمندر له سطحې څخه د ۱۵ کیلو مترو په لوړ والي د بنفش څخه اخواته د وړانګو یا ULپه وړاندې د یو خنډ په توګه عمل کوي. دغه وړانګې ښايي دپوستکي د سرطان د سترګود عد سیې د نا بینايي او همدارنګه کرنیزو محصولاتو او دسمندر د کبانو د له منځه تللو او د نوري ترکیب د فوتوسنتز د عملیې د کمښت سبب ګر ځي د ژوند لپاره ډیره ضروري ده. له بنفش څخه اخواته وړانګې په درې ډوله دي:

۱. له بنفش څخه اخواته هغه وړانګې (UV-C) چې د څپو اوږ دوالي يي له ۲۰۰ – ۲۸۰ نانو متر په توان وي. (یومایکرون متر له زرو نانومترو سره او یو میلیون نانومتره د یو ملې مترو سره مساوي دی.)

د دي وړانګې اغیزې په ځمکه او دهغې په او سیدونکو باندې ډېرې ښې دي، چې ځمکه له بنفش څخه له اخواته وړانګو څخه ساتي. په تیره بیا هغه ژوندي موجودات چې انسان ورته اړتیا لري او انسان ته د خوړو په تولید کې ګټور دي. که چېرې د اوزون طبقه په بشپړ ډول تخریش شي دغه وړانګې(uv- c) بیا هم خپله دنده په ښه ډول سرته رسوي یعنې د اوزون د طبقې تخریبuv په اشعه او دندو اغیزه نلري.

۲. له بنفش څخه اخواته وړانګې(uv-A) چې د څپو اوږ دوالي يې ۲۸۰- ۳۲۰ نانو متره وي. هغې ته فعالې وړانګې هم وايي چې د تل لپاره د وخت په تیریدو سره ژوند تخریبوي یعنې د ځمکې د اوسید ونکو لپاره خطرناکې وي. اغیزې سملاسي نه وي، خو د وخت په تیریدو د هغې منفي اغیزې په ژوند باندې خطرناکې وي.

۳. له بنفش څخه اخواته وړانګې(uv- B) چې د څپو اوږ دوالي يې له ۳۲۰- ۴۰۰ نانو متره وي.






(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه وړانګې د ځمکې د ټولو اوسیدونکو لپاره مضرې دي. د انسان او د ځمکې د نورو حیواناتو ژوند په مرګ تهدیدوي. لکه چې مخکې مو یادونه وکړه د سترګو د ړندیدو او د پوستکي د سرطان سبب ګرځي.

ځمکه د استوګنې د ګډې سیمې په توګه د ټولو ژوندیو مو جوداتو د استوګنې ځای دی. باید له ټولو ککړتیا و وځخه وساتل شي. د تروپوسفیر په طبقه کې د اوزون ګېور غازچې ۱۱ کیلو متره پیړوالی لري ځمکه چاپیره کړې ده.

د نایتروجن اواکسیجن غازونه په ژوند باندې مستقیمې اغېزې لري. په دې سر بېره د هغو ترکیب په ټولیز ډول د تروپوسفیر طبقه د بنفش څخه اخواته وړانګو څخه ساتي.

د اوزون طبقه $O_3$ د لمر د نور د وړانګو او دځمکې دتروپوسفیر Troposphere د هوایي طبقې ترمنځ یوه حایل طبقه ده چې د انسانانو،حیواناتو او نباتاتو د ژوند لپاره د هر ډول فعالیت زمینه برابروي او د ځمکې حیاتي کره یا بایوسفیر Biosphere تمثیلیوي.

نو له همدې امله د اوزون د طبقې نري کیدل او یا تخریب اوله منځه تلل، دځمکې پر مخ ژوند له تهدید سره مخامخ کوي.

**په ټولګي کې د ننه فعالیت:**

ز ده کوونکي په مناسبو ډ لو وویشئ او په لاندې موضوګانو دې پخپل منځ کې بحث وکړي او د بحث پایله دې د ډلې مشر خپلوټو لګیوا لو ته وړاندې کړي:

۱. د اوزون طبقه څه حیاتي ارزښت لري؟

۲. له بنفش څخه اخواته C- uv وړانګې څه ارزښت لري؟

۳. له بنفش څخه اخواته uv-B وړانګې څه ځانګړتیاوې لري؟

۴. له بنفش څخه اخواته uv-A وړانګو ضرر توضیح کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پوښتنې:

لنډ ځواب ورکړئ

۱. له بنفش څخه اخواته کومې وړانګې دپوستکي د سرطان او د سترګو د ړندیدو لامل ګرځي؟

۲. بایو سفیر څه معنا لري؟

له څلورو ځوابونو څخه سم ځواب په نښه کړئ:

۱. له بنفش څخه اخواته د uv-c د وړانګو ځانګړتیا وی څه دي.

الف: د ژوندیو ژوند تامینوي　　ب: د ځمکې پرمخ په ژوند باندې ناوړه اغېزه لري.

ج: هیڅ ډول اغېزنلري.　　د: د پوستکي د سرطان لامل ګرځي.

۲. له بنفش څخه اخواته uv-B وړانګې:

الف: د ځمکې د مخ ګټورې وړانګې دي　　ب: هیڅ اغېزه نلري

ج: منفي اغېزې نلري　　د: د ځمکې پرمخ د ژوند لپاره ضرر لري.


## له ټولګي څخه بهر فعالیت:

له کتابتون او انټرنیټ څخه په ګټه اخیستنه د اوزون د طبقې د اهمیت تر سرلیک لاندې معلومات راټول کړئ اود جغرافیې په راتلونکي ساعت کې یې خپلو ټولګیوالو ته بیان کړئ.


(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږ پنځوسم لوست:

# د اوزون د طبقي زيانمن كيدل.



شمالي قطب



سويلي قطب

د اوزون طبقه د ځمکې په کره کې د ژوند د دوام لپاره څه ارزښت لري؟

فضا او د هوا طبقاتو په باره کې نوي مطالعات د ريموټ سنسنگ Remote sensing پواسط سرته رسيدلي دي. جغرافيه پوهانو ومونډله چې د ځمکې د مخ د ساتنې قشر دگلخا نه اي او C.F.C غازونو د زياتوالي پواسط په جنوب قطب کې زيانمنه شوی ده. د اوزون طبقه انسان له هغو وړانگو څخه چې له بنفش څخه اخواته دي ساتي او د هغو شتون لازم او اړين دی.

لکه چې په تېرلوست کې وربانديې بحث وشو، د اوزون طبقه د اتموسفير Atmosphere د طبقی ساتونکی قشردی چې ژوندي موجودات د لمرد وړانگو څخه چې له بنفش څخه د اخواته وړانگو په نوم يادېږي، ساتي. په ۱۹۴۷ ميلادي کال کې ځينو پوهانو و مونډله چې گلخانه يي غازونه لکه( کاربن ډای اکسايد، متان غازونه او د نايتروجن اکسايد) او د کلورو فلورو کاربن غاز چې د اوزون د غاز د طبقې د زيانمن کيدلوسبب گرځي، چې له سړوونکو دستگاوو Air condition لکه يخچالونه، ايرکنډ يشن ، سړوونکي ماشينونو او داسې نور و څخه را

وځي چې په پوره اندازه د فلوروکلورو کاربن غازو نه خارجوي او هوا ته پورته کیږي. دغه غاز داتموسفیرپه ټیټه طبقه کې د درند غازونو سره تعامل نکوي. کله چې د اوزون طبقي ته ورسیږي کیمیاېي تعامل کوي اود اوزون د طبقې د تخریب سبب ګرځي. همدا رنګه پوهانو په ۱۹۸۷ میلادي کال کې وموندله چې د جنوبي قطب ۵۰ سلنه د اوزون طبقه زیانمنه یا Depleteشوی ده یاله منځه تللې ده او پیرِوالی یې لږشوی دی. چې پوهانو هیڅکله په دې اندازه د اوزون د طبقې د زیانمن کیدلو فکر نه کاوه. نوله همدې امله پوهانو په ۱۹۹۵ میلادي کال کې د کاناډا مونتریال ښا رکې راټول شول چې د اوزون د طبقې د نور زیات زیان مخه ونیسي او همدغه موضوع د نړیوالو غوږ ته ورسوي. نوله همدې امله په دې لویه علمي غونډه کې پر یکړه وشوه چې د جنوب قطب د اوزون طبقي د نور لا زیات زیانمن کیدلو مخنوی وکړي او هغه ترمیم کړي او د کلوروفلورو کاربن د غاز د نورزیات تولید مخه ونیسي. خو متاسفانه ټول ګډون کوونکي هیواد ونه د مونتریال پریکړې ته ژمن پاتې نشول.

په پای کې د نړۍ د ۱۲۴ هېواد ونو استازي د لندن په ښارکې راټول شول او دکلوروفلورو کاربن د زیات خطر او د تولید په باره کې یې بحث وکړ او په قاطع ډول یې پریکړه وکړه چې د مونتریال د غونډې په پیروي، په لندن کې د ګلخا نه یي غازونو او دکلوو فلورو کاربن غاز د تولید څخه په جدی توګه مخه ونیسي. په ۱۹۹۸ میلادي کال کې وښوول شوه چې په جنوبي قطب کې لوي سوری منځته راغلی دی چې پراخوالی یې ۲۶ میلیونه کیلومتر مربع دی چې دغه پراخوالی د شمالي امریکا له پراخوالي سره مساوی دی. Van Alan چینایي پوه د نوموړي په کشفولو بریالی شو.

له ۱۹۹۹ څخه تر ۲۰۰۱ میلادي کا ل پورې د امریکا د متحده ایالتونو پوهانو د NoAA او NASA ټولنو د فضایي څیړنوپه مرکز کې وموندله چې دوان الن کشفیات په واقعي ډول صحیح دي. په ۲۰۰۳ میلادي کال کې د اوزون د طبقي دزیانمن کېدلو اندازه ۲۸ میلیون کیلو متره مربعوپراخوالي ته ورسیده.

پوهان په دې لټه کې شول چې په ښېړني ډول د $O_3$ د تخریب څخه وساتي. په پای کې په دی بریالي شول چې په جنوبي قطب کې د اوزون د طبقي د زیانمن کېدلو مخه ونیسي. څکه چې د اوزون د



(c) ketabton.com: The Digital Library

طبقي تخریب په ځمکه کې د لاندنیو زیانونو سبب ګرځي:

- په ځمکه کې د یخچالونو ویلې کېدل.
- د سمندرونو د اوبو د سطحې لوړ یدل.
- دوچکالۍ رامنځته کېدل او په ځمکه کې د کرنیزو محصولاتو کمښت .
- له مخکینیو کلونوځخه د تودوخې د درجې زیاتیدل.

## په ټولګي کې د ننه فعالیت:

ز ده کوونکي په مناسبو ډ لو وویشئ او د ځمکې پر مخ د ژوندیو اجسامو لپاره د اوزون د قشر د ارزښت اوکله چې د اوزون  طبقه تخریب شي د هغې عواقب دي د ځمکې په کره کې تر بحث لاندې ونیسي او د بحث پایلې دې د ډلې مشر خپلوټو لګیوا لو ته بیان کړي. ښوونکي دې د بحث پایله د خپلو معلوماتو سره یو ځای کړي او زده کوونکي ته دې وړاندې کړي.

## پوښتنې:

لنډ ځواب ورکړئ:

۱ . د اوزون د طبقې په باره کې لنډ معلومات وړاندې کړئ.

۲ . د کلورو فلورو کاربن CFC غاز په کومو صنایعو کې کارول کېږي او د اوزون د طبقې لپاره څه ضرر لري؟

۳ . ولې د اوزون طبقه تخریبیږي؟

۴ . ګلخا نه یې غازونه کومو غاز ونو ته ویل کېږي او ولې په دې نوم یادیږي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library

لاندې جملې بشپړې کړئ:

۱- د لندن د ۱۹۹۵ میلادي کال په غونډه کې پریکړه وشوه چې د ـــــ او ـــــ غازونو مخنیوي دې وشي.

۲. په ۱۹۹۸ میلادي کال کې یو چینایي پوه چې............نومېږي وموندله چې د اوزون د طبقې زیانمن کېدل.........کیلو مترو مربعو ته رسیدلی ده.

## له ټولګي څخه بهر فعالیت:

د ښوونځي له کتابتون، مجلو او نورو منابعو څخه د ګلخانه یي غاز ونو اوهغه لاملونو په هیکله چې له هغو څخه یې سرچنه نېولي ده، څوکرښې ولیکئ او د جغرافیې د مضمون په راتلونکي ساعت کې یې خپلوټو لګیوا لو ته وړاندې کړئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

اووه پنځوسم لوست:

# ۸–۴ د ځنګلونو پریکول:



ایا پوهېږئ چې د ځنګلونو پریکول د ژوندیو موجوداتو لپاره څه ارزښت لري؟

ځنګلونه اود هغو طبیعي وده د خدای (ج) د نعمتونو څخه ګڼل کېږي چې انسانانوته یې ور بخښلی دي ځنګلونو دځمکې کرې ته ښکلا ، صحي او اقلیمي رونق ورکړی دي. ځکه چې د ځنګلونو شته والی د هوا په چاپېلوکې چې موږ یې تنفس کوو ځانګړی نقش لوبوي مضر غازونه لکه کاربن ډای اکساید جزبېږي او اکسیجن از اد وي. اکسیجن حیاتي ماده ده چې موږ یې تنفس کوو.

ځنګلونه د طبیعت د نظم په برابرولو، د ژوندانه د ښو شرایطو په ساتلو او د ځمکې دکرې د تودوخې د زیاتوالي د مخنیوي لپاره، ډېر اهمیت لري. په همدې ډول ځنګلونه د فوتوسنتېز photosynthesis په عملیې نباتات د ریښو په واسط له ځمکې څخه اوبه او مالګې جذبوي او پاڼو ته یې انتقالوي، پاڼې کاربندای




(c) ketabton.com: The Digital Library

اکساید له هوا جذبوي اود لمر دروښنايي په شتون کې کاربو هايدريد توليدوي او د ورځې اوکسيجن ازاد وي. چې د ژونديو موجوداتو د تنفس لپاره حياتي ارزښت لري او برعکس د شپې له خواکاربنداي اکسايد خارجوي او اوکسيجن اخلي يعنې دکاربن او اوکسيجن د غازونو توازن تنظيموي.

د ځنگلونو موجوديت د انسان لپاره لاندې گټې لري:

- د ميوې او نباتاتو ريښې د ځينو انسانانو خوراړ ه جوړ وي.
- د ونو لرگي په ودانيو، د کور د سامانونو او کاغذ په جوړولو کې استعماليږي.
- د ونو سيورى انسان له ډېرې تود وخي څخه ساتي.
- ځنگلونه د سيلابونو مخه نيسي، ځکه چې باران دونو په پاڼو او څانگو لگېږي او چتکتيايې وروکوي. د ځنگلو نو خاوره په وښو، ښاخونواو پاڼو پوښلې وي چې اوبه جذبوي اوله اوبو څخه ډکې ويالي جوړوي.
- د ځنگلونو له حاصلاتوڅخه د درملو لپاره گټه اخلي.
- ځنگلونه د تفريح او ساعت تيرى لپاره مناسب ځاي گڼل کيږي.
- ونې د موټرو، فابريکو او الوتکو غږ ونه کموي.
- د وحشي ژوو د ژوند چاپېريال جوړوي.



دځنگلونو له منځه ورل دژوند له منځه ورل دي

د نړۍ په زياترو سيموکي د خوړو، دکورونو د سامانو نو او سونگ توکو او نورو اړتياوو د پوره کولو لپاره ځنگلو نه پرې کوي د ۱۹۸۰



(c) ketabton.com: The Digital Library

میلادي کال په لسیزه کې د نړۍ په زیاتو سیموکې د ځنګلونو دړیکو لو شاهدیو. د احصایې له مخې یوازې د ځمکې په تودو استوایي سیموکې، هر کال د ۱۰۵ ملیونو هکتارو په اندازه ځمکه له ځنګلونو څخه پاکېږي. د ځنګلونو پرېکول د ځمکې په کره کې د ګټې پر ځای ډېر تاوان لري او اقلیم ګډوډ وي. ځکه چې د نفوسو زیاتوالې او د صنعت زیات پرمختګ او فابریکو په اروپا، امریکا، افریقا، آسیا او اوقیانوسیه کې ځنګلو نه محدود کړي. په دې وروستیو کلونو کې د ملګروملتونو شین سازمان جوړ شو. ددې خوځښت پلویان ددې ځنګلونو د پریکولو مخه نیسي، خو تر اوسه بریالي شوی نه دي.

د ځنګلونو پرې کول په شمالي اوسیلی دواړو کرو کې یو شانته دي. د ځنګلونوپرې کول دنړۍ په زیاتروهېوادونو کی لیدل کیږي چې د اورلګیدنې اوصنایعو لپاره قطع کیږي او د طبیعي زیرمویوه برخه له لاسه ورکوي په پایله کې صحرایي سیمې په چټکۍ پراخیږي.

لاندې لاملونه د ځنګلونو له منځه وړلوکې زیاته برخه لري:

۱ . دکورونو جوړول اوپه نړۍ کې صنعتي پر مختیا.

۲ . د ځنګلونه تبدیلول په کرنېزه ځمکه .

۳- اور لګیدنې.

## په ټولګي کې د ننه فعالیت:

ز ده کوونکې په مناسبو ډ لو وویشئ. یوه ډله دې د ځنګلونو د موجودیت په ګټو او بله ډله دې د ځنګلونو د پر یکولو په ضرر یوله یل سره بحث وکړي او نتیجه دې د ډلې استازې خپلوټو لګیوا لو ته بیان کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## پوښتنې:

لاندې ځواب ورکړئ:

۱. د فوتوسنتيزعمليه د هوا په پاکوالي کې څه اغېزې لري؟

۲. له ځنګلونو څخه کومه اقتصادي ګټه اخېستل کېږي؟

۳-د ځنګلونو له منځه تلل د ژوندانه په چاپېريال څه اغېزلري؟

سم ځوابونه د (س) په توري او ناسم ځوابونه د (غ) په توري په نښه کړئ:

۱. ځنګلونه د اتموسفير دوړې او خاورې له منځه وړي.

۲. د اوکسيجن او کاربن توازن په هوا کې تنظيموي.

۳. د ځنګلونو پريکول زموږ د ژوندانه لپاره دومره ګټورنه دي.

۴. د ځنګلونوتخريب په شمالي او جنوبي نيمه کره کې يو ډول دی

## له ټولګي څخه بهر فعاليت:

په ډېرځيرسره د ځنګلونو د پرې کولو اغيزې دانسانانو د ژوند په آره وڅېړئ و پايله يې په کتابچو کې وليکئ او دجغرافيې په راتلونکی ساعت کې په ټولګي کې ولولئ



(c) ketabton.com: The Digital Library

# اصطلاحات

۱- اتموسفیر Atmosphere: هغه هوا چې ځمکه يې چاپیره کړې ده. اتموسفیر بیلا بیلې طبقې غازونه او مواد لري. د اتموسفیر عناصر $O_2$، N، $Co_2$، هیلوم He، میتان$Ch_4$ اوکرپتون kr دي.

تروپوسفیر Troposphere له ۰-۱۲کیلو متروپورې دی.

ستراتوسفیر Stratosphere ۱۲-٤۸کیلو متروپورې دی.

میزوسفیر Mezosphere ۴۸- ۹۸ کیلو متروپورې دی.

ترموسفیر Thermosphere ۹۸- ۶۸۹کیلو متروپورې دی.

اگزوسفیرد Exosphere ۶۸۹کیلو مترو څخه زیات

۲- اجباري مهاجرتونه: هغه مهاجرتونه چې په خپله خوښه او رضا نه کېږي لکه د جگړو او طبیعي افتونو په سبب مهاجرت کول.

۳- استرو نومي Astronomy: د لمر، ستورو، سیارو او نورو اسماني اجرامو تحقیقي علم دي.

٤- اسناد Document: تحقیقي رسمي اوداسي نور اسناد.

۵- انټرنېټInternet: تنظیم شوی سیستم دی چې د تجارتي، صنعتي، رسمي او تحقیقي اطلاعاتو او پیغامونو په چټکو لېږ دولو کې ورځخه کار اخېستل کېږي او د اطلاعاتو د انتقال نوی سیستم ګڼل کېږي.

٦- اقلیم Climate: په یوه اوږ ده موده کې (له ۳۰څخه تر۴۰کلنو کې) د ځمکې د آب و هوا منځني حالت ته ویل کېږي.

۷- اقتصادي فعاله نفوس: د یوه هېواد هغه نفوس ته ویل کېږي چې په تو لیدي او غیر تولیدي اقتصادي ساحو کې بوخت دي. ( د ۱۵ څخه تر ۶۰کلنی پورې)

۸- اکسیجن ($O_2$): کیمیایي غاز دی چې د ژوندیو موجوداتو لپاره ګټور دی.

۹- ایکولوژي Ecology: چې د انسانانو نباتاتو او حیواناتو اړیکی د طبیعي چاپیریال سره مطالعه کوي.

۱۰- ایمیل E.mail یابرښنالیك: یوتنظیم شوی سیستم دی چې په اوسنی تکنالوژۍ کې دیوې بنې



(c) ketabton.com: The Digital Library

منبع په توګه په چټکۍ د اطلاعاتو او پیغامونو په انتقال کې کارول کېږي.

۱۱- بهرني مهاجرتونه: هغه مهاجرتونو ته ویل کېږي. چې خلك د یو هېواد څخه بل هېواد ته مهاجرت کوي.تر څو دهغه هېواد د شرایطو یا دنظر وړ هېواد د ټولنیزو مختلفو برخو د فعالیتونو څخه ګټه واخلي.

۱۲- ترانزیت: د Traitus کلمې څخه اخېستل شوي ده چې معناېې تیریدل دي یعنې د هېوادونو ترمنځ د یوه ستیشن څخه بل ستیشن ته د مالونو او مسافرینو انتقالیدل دي.

۱۳- ترانزیستور Transistor د نوې تکنالوژۍ لویه وسیله ده چې د مخابراتي وسیلو د نوو پر مختګونو سبب شوی دی.

۱٤-پست Post: د لیکونو او پارسلونو د لېږلو وسیله ده.

۱۵- پاتې شونې waster: دفابریکو اوصنایعو پاتې شوي توکي.

۱٦- جبې: هغه ټیټه سیمه چې زیات لنده بل ولري او معمولاً اوبېز بوټي او واښه په کې شنه شوي وي او د ډ نلوونو بر خلاف په اوبو نه وي پوښل شوي.

۱۷- ځوړې slope: هغه سطحه چې مایله ده او ځوړې ولري.

۱۸- زېږونونه Birth Rate: په یوه ټولنه( ښار، سیمه او هیواد کې) په یوه کا ل کې د زېږونونو شمېر په هرو زرو تنوکې ټاکل کېږي.

$$\text{زېږو نونه په کال کې} = \frac{\text{زېږدنونه شمېر}}{\text{په هرو زرو تنوکې}}$$

۱۹- غازونه: د مادې یو حالت دي چې په طبیعت کې لیدل کیږي لکه اوبه د جامد په حالت کې د کنګل په څیر، د مایع په حالت د اوبو په شکل اوبړاس حالت د غاز په څېرلیدل کیږي.

۲۰- د اوزون قشر($O_3$): د ځمکې محافظوي قشر دي چې تروپوسفیر د طبقې د پاسه موقعیت لري او ځمکه له بنفش څخه هغه خوا وړانګو څخه ساتي.

۲۱- دا و بو دوران Hydro cycle: د سمندر اوبه د تبخیر پواسط په بخار بدلېږي او هوا ته پورته کېږي او د سوړ والي پواسط بیا د باران په شکل ځمکې ته راځي او د سیندونو پواسط سمندرته ځي.

۲۲- د نقلیې وسیلې Transportation: هغه وسیلې چې د تجارتي کالیو او خلکو د انتقا ل لپاره



(c) ketabton.com: The Digital Library

کارول کېږي.

۲۳- د نفوسو ګڼوالی: په یوه ټاکلي ساحه کې د هغو اوسېدونکوته ویل کیږي

د یوې سیمې د نفوسو منځنۍ ګڼوالی = د یوې سیمې ټول نفوس / د سیمې پر ټول پراخوالي

۲٤- د نفوسو طبیعي وده: د زیږیدنو اومړینو دواړو لاملونو پورې اړه لري په یو هېواد یا یو ه سیمه کې د نفوسو دطبیعي ودې دشمېرنې لپاره باید د پام وړکال کې د زیږیدونو دودې او د مړینو اندازه و شمېرل شي او پایله یې په سلنو اعلان شي.

نفوسو طبیعي وده = (د زیږیدونو شمېر – د مړینو شمېر) / په ټول نفوس

په هغه صورت کې چې د زیږیدنو شمېر د مړینو څخه زیات وي د نفوسو طبیعي وده شتون لري.

۲۵- د نفوسو میخانیکي حرکت: هغه حرکتونه چې سیاسي، اقتصادي او مذهبي او نورو لاملونو په سبب دهېواد څخه بهر ته کېږي د نفوسو د مخانیکي حرکت څخه عبارت دي. د ننو مهاجرتونو دنفوسو د دوهم ځلي ځای پر ځای کېدنې سبب کېږي د نفوسو په شمېر اغیزه نه لري. خو بهرنې مهاجرتونه د نفوسو په شمیر مهمه اغیزه لري. که مهاجرتونه هېواد ته دبهر څخه نسبت هغو مهاجرتونو ته چې د هېواد څخه بهر ته کېږي ډېر وي د نفوسو میخانیکي وده منځته راغلې ده.

۲٦- د نفوسو چاودېدنه: دنفوسو دشمېر چټک زیاتوالي په وروسته پاتې هېوادونو کې د مړینې د سطحې را ټیټیدل او دزیږونونو شمېر په لوړه سطحه ساتلو ته د لویدیځ پوهان د نفوسو چاودېدنه وایي.

۲۷- دایمي مهاجرتونه: هغه مهاجرتونه دي چې مهاجرین یې خپل لومړني ټاټوبي ته د بېرته راتللو نیت ونه لري.

۲۸- د ننني مهاجرتونه: هغه مهاجرتونه چې په دایمي یا موقتي (موسمي) توګه دهېواد په دننه کې عملي کېږي.

۲۹- ديموګرافي: د يوناني کلمې دموس Demos (خلک) اوګراف Graph (ترسيم) څخه ترکيب شوي. چې د نفوسو د طبيعي زياتوالي، هجرت، جنس،عمر،کسب اوکار او نورو ځانګړتيا وو د مطالعې څخه عبارت دي

۳۰- ډله ييزې اړيکي يا Telecommunication لکه راديو، ټيلېفون، موبايل، انټرنېټ، دسپوږمکيو سيستم او داسې نور.

۳۱- کلورو فلورو کاربن مخفف C. F. C دی.

۳۲- . ککړتيا Pollution: هغه پروسه ده چې په مستقيم يا غير مستقيم ډول د هغې پواسط د چاپيريال يوه برخه د ژوند لپاره نا مساعده کېږي يا خطرناکه ګرځي. ککړتيا په چاپيريا ل کې د يوه يا څو عناصرو، لکه لوګي او غازونه په هواکې او يا په سمندرکې د نفتي مواد و زياتوالی د نفت وړونکو ټانکرونو دسوري کولو پواسط ککړېږي. تيزابي با رانونه او داسې نور.

۳۳- کنګلونه: د يخ ټوټې چې د غرونو په لوړو برخو او قطبينوکې شتون لري.

۳٤- لويې لارې High way: د ځمکني ترانسپورټ عمومي سړکونه.

۳۵- ناساNASA: د امريکا د متحده ايالتونو د فضايي تحقيقاتو مؤسسه

مړينه: په زرو تنوکې د مړينې اندازې ته ويل کيږي .

$$\text{په يوه کال کې مړينه} = \frac{\text{د مړو شمېر}}{\text{په هرو زروتنوکې}}$$

۳٦- مهاجرت immigration د استوګنې د ځاې بدلون ديوې سيمې څخه بلې سيمې ته مهاجرت ويل کېږي که دا مهاجرت دهېواد په دننه کې وي د Internal Displacement په نو م ا و که د يوه هېواد څخه بل هېواد ته وي د immigration په نوم يادېږي.

۳۷- ميډياMedia ياډله ييزه اړيکې چې تلويزيون، راديو او چاپ شوي مطبوعات او داسې نور احتواکوي.

۳۸- مصنوعي سپوږمکی Satellite: د نوي تکنالوژئ ډېره عصري وسيله ده چې د ځمکې او سيارو



(c) ketabton.com: The Digital Library

مطالعه کوي.

۳۹- مگنتوسفیرMagnetosphere: د ځمکې به شاوخواکې د مقنا طیسي کري څخه عبارت دي

٤٠- نړیوال توب Globalization

٤١- موقتي مهاجرتونه: هغه مهاجرتونه دي چې مهاجرین خپل لومړني ټاټوبي ته بېرته د راتگ نیت لري. لکه د دکوچیانو موسمي مهاجرتونه

٤٢- سلولر Celleular: مخابرې نوې وسیله ده چې کوچنۍ او لوېې سیمې د مخابرې تر پوښښ لاندې راولي.

٤٣- فکس Fax: میخانیکي جوړښت دی چې دهغه پواسطه اطلاعات او اسناد لکه اقتصادي، تجارتي، دفتري او تحقیقي لیرې او نژدې واټن ته په لږ وخت کې له یوه ځایه بل ځای ته انتقالوي.

٤٤- هایدروسفیر Hydrosphere: او بلنې کرې ته ویل کېږي. ځمکه د سمندرونو او نورو او بلنو عناصرو پواسط احاط شوې ده.

٤٥- Remote Sensing: د اوسني وخت عصري تکنالوژي ده چې له لیرې واټن څخه معلومات ورکوي.

٤٦-I M P(Interface Message Processor): له یوکمپیوټر څخه بل کمپیوټر ته د پیغامونو انتقالول دي



(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**